زه عبدالرحمٰن یم

پروفېسر ډاکټر میر حاتم

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول حقوق د لیکوال په حق کښې خوندي دي

کتاب پېژنده:

د کتاب نوم:	**زه عبدالرحمان یم**
د لیکوال نوم:	پروفېسر ډاکټر میر حاتم
کمپوزنګ:	حبیب اماني
چاپ کال:	۲۰۲۲ء
چاپ شمېر:	۵۰۰
اشاعت:	اکتوبر، ۲۰۲۲ء
پرېس:	الاحمد انټرپرائزز پېښور 0345 – 9292470
بېعه:	

د موندلو درکونه:

❖ **34**- پروفېسر کالوني نزد زرعي یونیورسټي پېښور
0313 – 9253606

لړ لیك

شمېر	عنوان	مخ
.1	مقدمه	9
	تقریضات	
.2	پروفېسر ډاکټر محمد سراج سواتي	19
.3	پروفېسر ډاکټر احمدعلي عاجز	23
.4	ډاکټر شېرزمان سیماب	27
.5	پروفېسر ډاکټر سجاد ژوندون	30
.6	کاشف علي باچا	34
.7	مزران مومند	36
	باب: ۱	
.8	زما دین زما مذهب	39
.9	زه موحد یم	39
.10	جمله صفات الهیه حق دي	40
.11	زه محمدي یم	42
.12	انبیاء علیهم السلام معصوم دي	44
.13	طاعت و عبادات مې فریضه ده	46
.14	ګناهګار یم توبه ګار یم	50
.15	د بخشش امید لرم	52
.16	عاجز خاورې ایرې یم	54

.17	پند ورکوم پند اخلم	56
.18	دُعا غواړم	60
.19	زه سالك یم	61
.20	اخلاق حمیده حاصلول غواړم	67
.21	اخلاق رذیله نه بچ کېدل غواړم	74
	باب: ۲	
.22	زه عاشق د رب یم	77
.23	کسب مې عاشقي ده	80
.24	عاشقي اعلٰی مرتبه ده	82
.25	عاشق کښې د پېغور او ملامت پرواه نه لرم	85
.26	عاشقي اٰسانه مه ګڼړه	86
.27	عشق او عقل	87
	باب: ۳	
.28	زما کور وکلی	88
.29	چرته خانان چرته ملنګان	89
.30	بل کښې کوږ لرګی یم	91
.31	سړیتوب	91
.32	خدائ رازق ګنم	94
.33	محتاج مه شی	97
.34	زمکه للمه دهقان خوار	98
.35	عمر نمر د مازیګر دی	99

.36	زه مسافر یم	101
.37	مرګ حق دی	102
	باب: ۴	
.38	اٰدم په غم لړلی	105
.39	غم او خوشحالي ورور خور	106
.40	زه مدام ژړام	110
.41	خندا او ژړا	114
.42	خوب خندا مې نشته	115
.43	دچا اٰزار نه اخلم	117
.44	درد مې نه کمېږي	118
.45	د یار جفا وفا ګڼم	120
.46	خوله پټه بهتري ده	123
.47	فراق رحمان	125
.48	سحر ماښام هم ژړام هم دعا کړم	130
.49	ارماني یم	131
	باب: ۵	
.50	مینه کوم مئین یم	133
.51	یار دلبر زما	134
.52	اٰشنا زما	138
.53	ترك د باګرام	139
.54	زما د ننګ و نام او دښمني سره څه دي	141

.55	حسن د مجنون په سترګو کښې دی	142
.56	د یار در نه پرېږدم	143
.57	د سرومال تېر یم	146
.58	د رقیب له لاسه ذرې ذرې یم	148
	باب: ۶	
.59	قلندر یم قدردان د درویشانو	153
.60	رندي او زاهدي سره لرې لرې	156
.61	پټ بادشاه ظاهر ګدا یم	158
.62	ما او تا غوندې	160
.63	دم او قدم واړه په حساب دي	162
	باب: ۷	
.64	نوروز و نوبهار و می و دلربا خوش است	165
.65	اوس مې وار په مېخانه	168
.66	ګریوان څیرې مست خراب یم	170
.67	څیرې ګریوان	171
.68	په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم	173
.69	لیونئ و مجنون چا کړم	175
.70	ګلیه مند یم شکوه کوم	178
	باب: ۸	
.71	دنیا فاني او زمانه ارماني ده	185
.72	الدنیا مزرعة الاخره	185

.73	حب دنیا و خطا جبیره ده	186
.74	دین او دنیا	187
.75	د زمانې وار یوځل دی	188
.76	وخت قیمتي دی	190
.77	فلك وفا نه کوي	192
.78	د وفا دګلو پاڼې په کښې نشته	193
باب: ۹		
.79	شاعري او مجاز لازم ملزوم	195
.80	ګل خاندې بلبل ژاړي	197
.81	شمع ژاړي پتنګ سوزي	199
.82	مخ روښان و زلفې ښاماران	200
باب: ۱۰		
.83	زما شاعري زما کلام	203

هله به سړی شې چې دې نوم عبدالرحمٰن شي
اوس سړی په څه یې که دې لوستي زېر و زور دي

چې وبل ته نصیحت کا ځان یې هېر وي
نور څوك نه دی هغه ته عبدالرحمٰن یې

چې د یار په دیدن سرومال شیندم
خلقو واورئ زه هغه عبدالرحمٰن یم

که یار سر په دین غواړي مه جاروزه
دغه حکم رحمان کړی دی دلال

مقدمه

زما نوم عبدالرحمٰن دی. زما کلکه مضبوطه عقیده ده چې خدائ واحد لاشریك دی. پیغمبران علیهم السلام، فرښتې، اسماني کتابونه، صحیفې، اخرت او تقدیر حق دی. الله تعالیٰ د صفاتو منبع ده هر صفت یې د طاقت او قوت یو بې پایانه خزانه ده. عالم ټول د الله دصفاتو مظهر دی او انسان مظهراتم دی. د الله ذات خالق، رازق، فاعل حقیقي، عالم بالغیب او باخبر دی. د الله جمله صفات برحق دي.

رسالت او نبوت عطا ده. په مشقت او محنت نه ده. نبوت د انسانیت خلاصه ده، ټول انبیاء علیهم السلام معصوم دي. دنیا د حضرت محمد مصطفٰی صلی الله علیه وسلم د مخه پیدا ده. د حضورکریم صلی الله علیه وسلم رسالت د تمامي انسانیت او زمانو دپاره دی. هم اولین دی، هم اخرین دی. د حضورکریم صلی الله علیه وسلم نه پس بل نبي نشته که څوك دعویٰ کوي باطل دی.

اګرچې بنیادم او پیریان د عبادت دپاره پیدا دي، خو په عبادت مې زړه یخ نه کړو. همېشه د معصیت په اورکباب یم او دګناهونو په دریاب ډوب یم، خو د خدائ د رحمت نه ناامیده نه یم، توبه ګار یم د بخشش او مغفرت سوال کوم. عاجز خاورې ایرې یم. اخر به

دې خاورو له ځم. ډېر شاهان او امیران خاورې ایرې شوي دي نوم و نښان یې ورك شوی دی، چې د هغوی د محلونوکنډرو ته ګورم نو د نن زماني د محلونو خښتې راته د سرونو منارې ښکاري، د خدائ نه د خپلو غلطیو بخښنه غواړم، ځکه چې د اوترو چارې په حساب کښې نه وي.

د تصوف یا سلوك حاصل معرفت دی چې د حضورکریم صلی الله علیه وسلم په پیروي کښې ورته د الله تعالیٰ رضا حاصل شي. د الله تعالیٰ فضل او احسان دی چې معرفت یې په ما پیرزو کړو. دا سفر د سلوك په اوږده لار هم غوڅېږي او د جذب په لنډه لار هم غوڅېږي، خو جذب د الله تعالیٰ په مرضي دی چې انسان پخپله ځان ته راکاږي. په دې لار بغېر د رهبر، پیر یا شېخ نه تګ ډېرګران او خطرناك دی. د الله تعالیٰ لوئ فضل او احسان دی چې معرفت یې په ما پېرزوکړو او د معرفت له کبله یې ماته د شش جهت نه سېوا لار اوښودله او د زړه قدم مې په اسمان کېښود او د نفس دکېدونونه یې خبردارکړم. د صحبت اثر مې وپېژندو د استغراق او مراقبې عادت مې جوړ شو.

د اخلاق حمیده د حاصلولوکوشش کوم، په هرکارکښې مې په اخلاص سره د رب رضا مدعا ده. په نفس مې داسې قدم ایښی دی چې فنافي الله یم. کمینې او خاکساري د جمله افتونونه خلاص کړی یم. د قناعت په وجه مې دا وچ ټوك په خُله کښې لکه د ګبین خوندکوي. توکل مې په لاسو پښو نکریزې ایښي دي په

قرار ناست یم. هرڅه لکه د غر دَ ونې د آب و خور په شان کورته را رسي. خدائ پاك مستغني پیدا کړی یم، شین لوګی مې چتر او نغری مې تخت دی. شاهجهان یم، پټ بادشاه ظاهرګدا یم.مهینی نه د بهلول نه د اورنګ خورم، نه یې پرواه ساتم، صبر مې جامه ده او شکر مې پېشه ده. په ژړا کښې مې ډېر څه موندلي دي.

د اخلاق رزیله نه ځان ساتم، د کبر غرور او لویي نه مې توبه ده د ریا د عبادت او زاهدی نه ګرېزان یم. د ریا د خرقې نه مې د قلندري کوږ پټکی خوښ دی. د حرص او لالچ د بلا نه مې دې خدائ وساتي. غیبت او دروغ مې د بلا نه بدي شي.

دا جهان خدائ له عشقه پیدا کړی ځکه عشق د جمله مخلقاتو پلار دی. زه د ازل نه د رب عاشق یم، کسب مې عاشقي ده نه بل کارکولی شم نه مې بل هنر زده دی. بغېر له عشقَ زما بل شناخت نشته، نه خلیل یم نه داودزی، نه مهمند.د عاشقی نه پس زما د ننګ و نام او د رسم و رواج سره څه دي. خلق مې د تهمت او ملامت په غونډارو ولي، خپل پردي راته له عاره نه ګوري، خو زما پرواه نشته، نه به عشق پرېږدم. اوس پوهه شوم چې عاشقي اسانه نه ده، زه یې د رسم و رواج نه وویستم لکه د باد د بنړه یې سپك کړم. د عشق په داسې آدم خوروګردابونوکېوتم چې نه په مخه تلی شم نه په شا- حکیمان او طبیبان مې په علاج نه پوهېږي.

زما ژوند د غم آه و بکا او فریاد نه مرتب دی. هر ساعت لکه د اسمان او اسیا په ګردش کښې یم. همېشه لکه د باد په حرکت کښې یم. شپه او ورځ مې لکه د هوسی په مېږتون بېقراره وي. په دنیا کښې څوك بې غمه دی که یو بې غمه وي را اوښایئ. چا سره غم د یار دی او چا سره غم د مال دی. غم او خوشحالي خو په دنیا کښې ورور او خور دي، خو زما نه خوب شته، نه خندا. زما د ژړا په مخکښې باران، رعد و برق څه دی. د ژړا او زبیرګو د لاسه مې ګاونډیان د خوبه وځي، چې ما ویني نور خلق راسره هم ژاړي. یو د هجران او پېلتانه غم دی چې له هر غمه سېوا دی. ددې سختي د تورو دګذارونو، د تنور او ځنکدن نه سخته ده، د تور لحد په ګورهنډه کښې به مې هم هېره نه شي. که رحمان د بېلتانه د لاسه ژاړي خوګرم نه دی. د ډېرې ژړا د لاسه معلومېږي لکه چې ګریوان مې یو دریاب دی د اوښکو طوفان دی او زه یې لکه د خس په سر ګرځم. دا طوفان به مې آخر لاهوکړي، بل طرف ته د اوښکو په سېلاب کښې مې موتیان بیا موندل د یار دیدن مې اوکړو او د زړه فصل مې سر سبز و شاداب شو. د ژړا په عوض مې هومره خندا بیامونده. زه پخپله نه ژړا کړم نه خندا کړم هغه خدائ مې ژړوي هم مې خندوي، هم د هغې جزا راکوي.

زه دَ پښتون دَ یو عام کلي اوسېدونکی یم. زمکه للمه ده د باړې او به د معاش او زراعت واحده ذریعه ده. د پښتنو تربورولي، تربګنی، پرې جنبې، خان او دهقان د معاشرې لازمه برخه ده. زه

نه مال دولت لرم، نه درهم و دینار، نه څه روزګارکوم، نه مې په چا کار شته. خلق خپله غم ښادي او روزګارکوي، زما د چا سره نه غم ښادي شته نه روزګار. بس د خلقو په سترګوکښې اغزی یم او په بارکښې کوږ لرګی یم. په کلي باندې خفه کېږم، خیر یې غواړم. سړیتوب خو په ښه خوئ سره دی. په ظاهر صورت او لباس نه دی. دا نه چې صورت یې د آدم وي خو یونه د څاروکوي. اندرون یو بیرون بېل وي. ظاهر زر اندرون لاك وي، مېنځ یې متاك وي.

زه هغه دنیا ښه ګنړم چې د الله تعالیٰ د احکامو مطابق وي. داسې دنیا د آخرت کښت او زراعت دی. دهغه جهان سودا ده چې د نهی نه سېوا وي. دنیا نه ده عبادت دی. دنیا د عمل میدان دی چې بدله به یې په آخرت کښې ملاوېږي. دا هاله کېدی شي چې په زړه کښې ددنیا محبت نه وي اوکه ددنیا محبت غالب شو نو بیا خطرناکه ده. نه د خدائ حکم ته ګوري، نه د پېغمبر- ددنیا په راجمع کولوکښې نه د رشتې خیال ساتي، نه د دوستۍ، نه حلال ته ګوري نه حرام ته. ددنیا د مینې مستي د شرابو د مستۍ نه زیاته ده. دین او ددنیا مینه سره یوځای نه چلېږي. دنیا په عقد کښې دین غواړي، ځکه ترې ما توبه کړې ده، چې دین او ایمان په دنیا بدلوي نادان دی، بې هنره بې وقوف سوداګران دي.

زمانه لکه د باد تېرېږي، په زرګونو پیدا کېږي او په زرګونو فنا کېږي. په هر چا یو وار راځي بیا وار نشته. زمانه د هېچا سره وفا نه کوي، څوك د تخت نه د ایرو په ډېران ولي، څوك د ډېران نه په

تخت کېښنوي. ډېر شاهان او امیران، ګلعذار او شکرخوار د خاورو لاندې شول، محلونه، ماڼۍ ادیرې شوې. هم دغه د فلك ګردش دی، چې دا دومره سازول او ماتول کوي او ساغرو مینا ماتوي، نو رحمٰن به ترڅو ژوندی وي. د زمانې په دکان کښې وفا نه ملاوېږي. د رفته او ائینده غم مه ژاړه چې په حال کښې درنه څه کېږي اوکه؟

عمر مې لکه نمر د مازیګر په غفلت کښې تېر شو هېڅ مې په کښې حاصل نه کړ، مردود و ناقابل پاتې شوم، توره ږیره مې سپینه شوه خو نه بالغ شوم او نه عاقل. عمر مې د داسې آس سورلي ده چې نه جلب لري او نه واګې، نو آخر به مې ګرنګ ته وغورځوي. بې وفا دومره دی چې د سلوکالو یاري په یو ساعت کښې پرېکړي. د عمر دا نری تار به هم آخر د اجل په مقراض غوڅ شي، بیا خو خپل تابوت راته لکه د ذین کړي آس ولاړ دی چې دا هسې عالم د زمکې لاندې شو او د خاورو سره خاورې شو نو څه رحمٰن او څه د رحمٰن یاد. یو وار دی تېر به شي.

زه قلندر یم ستا خوښه ده که درویش راته وایې، که ګدا، که فقیر اوکه رند. زه د ټولو قدردان یم. که په ظاهر اطاعت کښې تاته کمزوری ښکارم خو زړه مې د الله تعالیٰ د محبت نه ډك دی. د هغه په نوم او د دیدن په طمع د سرومال نه تېر یم. د هغه په دیدن راته سرومال ښېندل اسان کار دی. زۀ د خدائ په مینه مست یم. ماته سپك مه ګوره. زه د هغه خلقو نه یم چې په دعا یې بادشاهان

جوړېږي، په دعا یې ملائك اٰمین وایي او نه ردکېږي، د ښېرو ګذار یې کله خطا نه ځي، د آه نه یې وو ېرېږه.

که په ظاهره زه ګدا یم خو پټ د خپل استغنا او قناعت له کبله د درست جهان بادشاه یم. د نغري په غاړه ناست یم خو شاه جهان یم شین لوګی مې په سر چتر او نغری مې تخت دی. بې هاتیانو، بې اوښانو بې کمربند او بغیر د تاجه بادشاهي کوم. د زاړه پوزکی ټوکر کې مې قالین دی د دلبرو د پښو خاورې یم خو د نور عالم په سر لکه آسمان یم. که په هجران کښې کند په غاړه ګدا وم نو په وصال کښې اوس بادشاه د امراء یم، د زمانې اورنګ راته غلام ښکاري.

شېخ او زاهد د خدائ په نوم ځان قربانولی نه شي ځکه د یو جنت دپاره زهد کوي څنګه چې زلمی جونه اوکونډې یتیمان برابر نه دي. دغسې رند و قلندر او بل طرف ته شېخ او زاهد برابر نه شي کېدی. زما او د زاهدانو دکلي د لېونی معامله ده. کلی په لیوني پورې خاندي او لیونی په کلي پورې. دغه حال زما دی خلق راته وایي چې د عشق دا مستي رندانه خبرې مه کوه ګني ته به هم لکه د منصور په دار شې، خو ماته دغه دار معراج دی.

احساس او محبت د شاعر د زړه اساس دی ځکه دګردو پېش په واقعاتو باندې د خپلو احساساتو اظهارکوي او د محبت د وجې د هغه شاعري د یار، دلبر، آشنا، خوبان، مهرویان او ښائستونه چاپېره ګرځي. که د عشق حقیقي اظهار د الله تعالیٰ د ذات سره

کول غواړی نو هغه هم د مجاز په جامه کښې وي. بعض اشعار خو داسې وي چې د هغې توضیح بغیر د مجاز نه بل څه کېدی نه شي، لکه ترکِ د باګرام او د رقیب ناکړدیانې. زما په کلام کښې د مجاز او حقیقت دواړه رنګونه شته دي. زه هغه عبدالرحمٰن یم چې د یار په دیدن سرومال شېندم. زمانه بغیر بل داسې څوك دی چې د یار په دیدن د خپل سر سودا کوي. زه به د ترکو صفت نه کړم چې زما په کلام خاندي رقص کوي او نغمې وایي، لکه د پخواني صوفي شاعرانو په شان زما په کلام کښې د ساغرو مینا، مے ومیخانه او ساقي ذکر موجود دی، خو د مئیو نه زما مطلب شراب معرفت دي دنیایي د انګورو شراب نه دي، د مېخانې نه مطلب د سالك د تربیت ځای یعنې خانقاه ده او د ساقي نه مطلب شېخ، پیر او مرشد دی. د مستي نه مطلب د الله تعالیٰ د معرفت مستي ده چې ددې مستي اظهار پخواني او اوسني صوفیانو برملا کړی دی. زه هم اعلان کوم چې که مستي غواړی نو د رحمٰن د مېخانې شراب د څښو دي. که دارو دَ غم درد غواړی د زمانې غمونه په لته وهل غواړی او د ریا جرړه غوڅول غواړی، نو راشه یو دوه جامه پرله پسې وڅکه چې بې خود شی، چې د عشق درد مې نه کمېږي تنګ شم خوب نه راځي نوکله شپېلۍ را واخلم، کله رباب اوکله کتاب، ګریوان څیرې کړم په سینه په ډبولو شروع شم، زبیرګي مې ګاونډیان په کوټو دننه د خوب نه اوباسي لکه د لیونو حرکتونه کوم.

لکه د نورو شاعرانو په شان زما په کلام کښې د ګل او بلبل ذکر د شمع او پتنګ، معاشقه د سپین رخسار او تورو زلفو ستائینه د شاعري د لوازماتو نه دي، چې د شاعر د زړه تسکین پرې کېږي او شعر پرې ښائسته کېږي او د شاعر د خیالاتو پرواز پرې آسمانونو ته رسېږي.

شاعري د الله تعالیٰ عطا ده په کسب او مشقت نه ده. زما شاعري د شاعری په اوصافو پوره ده، عالمګیر او تمامي انسانیت ته مخاطب ده، اسانه او عام فهمه ده. زه د شاعرانو قدردان یم. په مدح او هجو ښه پوهېږم، خو قلندر یم درباري شاعر نه یم. که پرواز مې ډېر اوچت دی خو خبره د عوامو د ذهن مطابق کوم. دعویٰ نه کوم، بلکې د خپل کلام د مقبولیت او په خپل قلمدان او جزدان باندې د برکت دعا غواړم. زما کلام ډېر اسان، عام فهمه او ساده ژبه کښې دی، چې لوئ واړه، نارینه زنانه ټول پرې پوهېږي او خوند ترې اخلي. د مثال په طور یې استعمالوي. که یو طرف ته پکښې د مطربانو، مجلسیانو او نغمه ګرو دپاره د غزل، ترانې او نغمې سامان دی، نو بل طرف ته د علماؤ، صوفیانو او درویشانو دپاره پکښې د علمي او روحاني ترقی ډېر څه موجود دي، که یو طرف ته لکه د نباتو خوږ او شیرین دی، نو بل طرف ته د ایاة مطهره او احادیث مبارکه د مرغلرونه ډك دی، ځکه خو زما کلام نه زړېږي او نه یې څوك په لوستلو مړېږي.

دا بره اجمالي شان خاکه ده، چې د عقیدې او مذهب سره سره زما د

ژوند بعض اړخونه په ګوته کوي، دا خو صرف دغه اړخ طرف ته اشاره ده، چې توجه ورته وګرځي باقي ددغې اړخ اصلي حقیقت او خوند زما په هغه اشعاروکښې دی. رښتیا ده چې هېڅ یو نثر د هغې شعر متبادل نه شي کېدی، کوم چې د شاعر په احساساتو او جذباتوکښې اغېزلی شوی وي، که دا تمام کتاب د اولوستو او شعرونه د اونه لوستل نو لکه چې د رحمان نه هډو خبر نه شوې. پخوانی متل دی: "چا چې اصفهان ونه لید لکه چې دنیا یې ونه لیدله" زما کلام زما د ظاهر او باطن عکس او د زړه ترجمان دی د کلام نه به تاته خپله پته اولګي چې زه څوك یم او څه یم.

بېشکه چې مقدمه د عبدالرحمٰن د طرف نه ده خو قلم زما دی، نو زه خپل نوم په دې وجه لیکم چې په دې کښې څه کمی بېشي یا غېر مناسب څه لیك وي، چې د هغې نسبت رحمان ته ونه شي هغه به زما خطا وي، باقي چه نسبت خاك را با عالم پاك.

ننګ اسلاف

پروفېسر ډاکټر میرحاتم

۹ جولائی ۲۰۲۲ء

۹ ذی الحج ۱۴۴۳ ھ

زه عبدالرحمان یم

زمـــانوم عبـــدالرحمان دی پـه پښتوکښې مې دیوان دی
دادی دومـــــره مشـــــهور د پښتون پروت پـه زبـان دی
څوك بـه څـه ددې تشـهیرکړي چې د نمر پـه څیـر روښـان دی
که څوك پټې کړي ترې سترګې دا پـــه ژبـــه یـــې ګویـــان دی
دده ژبـــــه ده آســـــانه چې پـرې پوهـه هـر پټـان دی
خـوکـه تَـل تـه یـې کـوز بړې ډوب د بحـر نـه بـې شـان دی
داپـه تـول دی ځکـه دروند د قـــرآن حـــدیث بیـــان دی
کـه ظاهر کښې مجاز ښکاري حقیقـت پـه کښې عیـان دی
داصـوفي لـره سـوغات دی رهنمـــا د هـــر انســـان دی
پکار ده چې پرې ځان پوه کړي هـر یـوکس چې مسلمان دی
په کلام چې مې څوك پوه شي هغـــه ډېـــرئ تـــه روان دی
زمـــا فکـــر بـــه لا څـــه وي چې مې څیرې خپل ګریوان دی
څوك چې ماتـه مجنـون وایـي مجنون خپله په خپل ځان دی
زه د رب پـــه مینـــه مســـت یم هغـه پـوئ دی چې رازدان دی
پـــه دې راز چـــې نـــه پـــوهېږي د هغـــوی خوشـــې ګمـــان دی
وم سـراج د لسـو خـوا کښې چې مې لوستی پیرکلان دی

د اتیـــــاؤ شـــــومه بـــــره
دا لا هغـــــه شـــــانِ ځـــــوان دی

پروفېسر ډاکټر محمد سراج سواتی

تقریظ

یو څو خبرې د پروفېسر ډاکټر محمد سراج سواتي صېب په باره د مؤلف کښې

وایم زه یم میـــــر حـــــاتم دی پـه لاس کښې مې قلـم
دا پـه مخکښې مې کتاب دی د بابـــا یـــې محتـــرم
زراعـت کښې زه ډاکټـر یم امتیـــازي تمغـــه لـــرم
پروفېسـر وم پوهنتـون کښې زه ددیـــن پـــه کرســـی وم
پـه پښـتو مـې ماسـټرکړی تـــا د حالـــه خبـــروم
مولانـا اشـرف مـې پیـر دی سلســـله لـــرم محکـــم
دوی چـې چرتـه قـدم ایښـی زه ورتلـم ورپســـې ســـم
په نرمی او په سختی کښې زه د دوی ومـــه همـــدم
پـه حضـر او پـه سـفرکښې زه بـــه ســـم ورســـره تلـــم
دی پـــه شـــا مـــې ګرزولـــی چـــې لار نـــه وه د ټـــم ټـــم
د دوی ډېـــر توجهـــات وو چې مـې زړه شـو مسـتحکم
دسـلوك لاره مـې طـی شـوه کـــه مـــې وانخســـت قـــدم

خلافت دوی راته راکړو — که مې ځان لیدلوکم
چې ددوی باور په ما شو — د الله دی لوئ کرم
قبر ډك دې شي د نوره — وي رحمت دِ پرې هردم
دا د دوی دي برکات — چې زه دلته څه لیکم
د زبرګانو په مجلس شوم — د عرب او دعجم
باور نه مې شي په ځان — چې زه سترګې غړوم

دسراج قلم چلیګي
خاموشي ده په عالم

د بابا عبدالرحمٰن باره کښې

زه بابا عبدالرحمٰن یم — په پښتو ژبه ګویان یم
سرېښی خلیل مهمند یم — د ښار خوا کښې آبادان یم
دي خوږې زما خبرې — چې ماهر د خپل زبان یم
زماژبه ده آسانه — وایه زه مشکل آسان یم
دی یوکس راپورې نښتی — زه دده نه پرېشان یم
آخر څه زمانه غواړي — زه په دې باندې حیران یم
کله یو ځای کړي په نخښه — کله بل ځای په نشان یم
ده دنیا رانه خبر کړه — که زه پروت په ګورستان یم
دی صوفي کړي رانه جوړ — زه ملنګ عبدالرحمٰن یم

کله دی مې عاشق بولي — چې یې زه مرد میدان یم
که نغمې زما خوږې دي — زه بلبل یم خوش الحان یم
عام و خاص مې خوښئ ځکه — چې د زړونو ترجمان یم
دا کلام مې الهامي دی — چې بنده د پاك سبحان یم
زه وېنا کومه حقه — ځکه خوښ د هر انسان یم
شریعت زما دستور دی — د نبیؐ په لار روان یم
که غلطي رانه څه کېږي — فرښته نه یم انسان یم
زه د بدو توبه ګار یم — پرې نادم یم ستومان یم
نصیحت که کوم بل ته — زه په نښه د خپل ځان یم
ده وېنا مې عالمګیره — د حقوقو نګهبان یم

میرحاتم دی کوشش کړی
زه سراج یې قدر دان یم

پروفېسر ډاکټر محمد سراج سواتي
پروفېسر کالوني
۱۴، اګست ۲۰۲۲ء

زه عبدالرحمان یم" زما پۀ نظر کښې

په دې حواله هسې چې مونږ د پروفېسر ډاکټر میر حاتم صېب دې کتاب زۀ عبدالرحمن یم ته ګورو نو داسې محسوسېږي چې پروفېسر صاحب د رحمان بابا ډېره ژوره مطالعه کړے ده او بیا ئې ذهن دا فیصله کړې چې د رحمان بابا ژوند دې د هغه د شاعرۍ په رڼا کښې وکتلے او بیا دې د ادب لوستونکو ته هم بیان کړے شي هم هغه شان ئې کړي دي او د رحمان بابا د شاعرۍ په اساس ئې د هغه د ژوند د راښکاره کولو کوشش کړے دے کله چې مونږ د رحمان بابا د ژوند متعلق خبره کوو نو د هغه د ژوند حالات بېخي ښکاره نۀ دي علاوه د یو شعر دوو نه چې:

نۀ شي د خانانو د ملنګو سره کلے
چرته عزیز خان چرته ملنګ عبدالرحمان

پۀ سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او اور او پېښور درې واړه یو دي

چې د هغې په اساس مونږ د هغه عصر ته ځان رسوو نور هېڅ نشته ۔ پروفېسر صاحب ډېر زیار باسلے دے چې د رحمان بابا ټوله شاعري ئې لوستي ده او د هغې په رڼا کښې ئې د هغه

مذهبي علمي ادبي او روحاني ژوند په خپله ژبه بیان کړے دے ۔
د پروفېسر میر حاتم صېب د ژبې خواږه داسې دي چې زړۀ ته کوزېږي نو په دې دلته ضروري ګڼم چې ووایم چې ! ښکلے لیک هغه وي چې د هر خاص او عام د پاره د لوستو جوګه شي ۔ دغسې څنګه چې رحمان بابا خپله شاعري هر خاص او عام ته کړې وه نو هم دغسې میر حاتم صېب دغه کتاب کښې دا خواږۀ اچولي دي چې د هر خاص او عام د پاره د لوستو جوګه دے ۔ بلکې رښتیا خبره خو دا ده چې میر حاتم صېب باقاعده د ادب سره منسلک نۀ دے پاتې او نه د پښتو پې ایچ ډي یا استاد دے ۔ ژبه کۀ د اولس نه لرې شوې ده یا د اولس او د لیک تر مینځ فاصله پېدا شوې ده نو پۀ هغې کښې اکثر لاس د پښتو د خپلو استاذانو دے ۔ زۀ پۀ دې خبره میر حاتم صېب د پښتو حقیقي وارث ګڼمه چې د ژبې ، لوست او لیکوال فاصله ئې بېخي ختمه کړې ده ۔
خو ځه بیا هم ښۀ ده چې اوس پښتانۀ دا شعور لري چې خپل تاریخ دې وپلټي د هغې دپاره مختلفو طریقو سره د خپل تحقیق کار جاري ساتي او بیا د هغې د خوندي کولو دپاره هم رنګ رنګ زیارونه وباسي یعني کۀ یو څوک تاریخي ناول او افسانه لیکي نو په دې غرض چې یو پکښې د تخلیقیت په زور دومره خواږه واچوي چې هغه لکه سپور تاریخ نۀ وي بلکې د خوند اخستلو ذریعه وګرځي او د تاریخ د لوست عالي مقصد هم ترې پوره شي

دغه تسلسل ته چې مونږ ګورو نو امیر کرور بابا نه واخله تر رحمان بابا او تر دې دمه مونږ سره د خپلو هغه عظیمو هستیو په اړه قوي تاریخي معلومات دومره نشته چې د هغوي د کلي تپې او ټول ژوند احاطه وکړے شی حالانکې قامونه د داسې خلقو د ژوند یوه یوه لمحه د خپل راتلونکي نسل دپاره خوندي ساتي چې دوي به ترې inspiration اخلي

مونږ به دا وخت کوم کوم جبر ژاړو او بیا به هغې ته خپل غبرګون ښایو د تاریخ په اوږدو کښې چې مونږ وګورو نو د پښتنو تاریخي اثار تل د وخت د .جبر ښکار شوي دي او پښتانۀ ترینه محرومه پاتې شوي دي هم دا وجه چې کۀ مونږ ډېر اړد او غني تاریخ لرو خو حقیقت دا دے چې په لاس کښې مو هېڅ نشته غرض مې دا دے چې باید نن مونږ سره د پېنځه زره کالو تاریخي شواهد دکاڼو ډېرو نه علاوه د کاغذ په پاڼه هم موجود وے نو څومره ښۀ به وه او زمونږ ژبه او ادب به پرې څومره غني وو خو لۀ بده مرغه مونږ سره ډېر کم داسې مواد دیچې ریښتیني تاریخ اعلي ادب او سوچه ژبه پکښې وي

یوه خبره باید مونږ په پام کښې ونیسو چې دا مواد مونږ هېڅ کله د تاریخي شواهدو په توګه نۀ شو کارولے ځکه چې دا د پروفېسر امیر حاتم صېب خپله ذهني توضیحات دي شاید دې کښې ځینې یا ډېر داسې هم وي چې تاسو ورسره نۀ یئ متفق خو بیا هم د پروفېسر امیر حاتم صېب دا کار د ډېرې ستاینې وړ په دې

دے چې یو خو به د رحمان بابا د ژوند نه د هغه داخلي یا خارجی شاعرۍ په اساس لوستونکي څه نه څه خبر شي او کۀ چرته چرته پرې اعتراض لري نو دا به نور تحقیق ته لارې هوارې کړې حالانکې دا کتاب پخپله کوم تحقیقي کتاب نۀ دے بل ماته داسې ښکاري چې لکه زۀ عبدالرحمن یم د کتاب نوم یعني لیکوال په خپله خوښه ځان ته عبدالرحمن بابا وائي او بیا د هغه په ژبه بیان هم کوي نو باید دا مو په خیال کښې وي چې دا به محض داسې نۀ وي چې څه رحمان بابا وائي او څنګه یې وایي هم هغه شان دې ئې لیکوال ووایي دې کښې به لیکوال خپله موجود وي اوس دا فیصله په لوستونکو ده چې دې کښې رحمان بابا څومره دے او لیکوال پکښې څومره دے زۀ په خپل ځاني دې کار ته ډېره په درنه سترګه ګورم او پروفېسر صاحب ته په دې کار ډېره ډېره مبارکي وایم او د نور ډېر کار هیله ترې لرمه.

بروفېسر ډاکټر احمد علي عاجز

پښتو څانګه پېښور پوهنتون

۵ اکتوبر ۲۰۲۲

« زۀ عبدالرحمان یم » یو تأثر

پروفېسر ډاکټر میر حاتم صېب یوځل بیا د رحمان بابا په حواله د یوې نوې موضوع سره د پښتو ژبې او ادب د مینه والو سره سره د هغه لوستونکیو په خدمت کښې سره د خپل علم و دانش حاضر دے، چې د رحمان بابا په حقله لوستل غواړي او هر وخت ئې دا هڅه وي چې د رحمان بابا د شعر د فکر و فن سره د بابا د تعلیماتو په حقله هم نوې نوې څېړنې اولولي. خو دلته دا خبره هم کوم چې د پروفېسر صېب دا کار د هغه لوستونکیو دپاره هم ډېر ارزښت لري څوك چې د تصوف روحانیاتو او د سلوك او معرفت د لارې لاروي دي، اګر چې دا د سلوك او معرفت ټکی اخستل یا پکارول اوس عام شوي دي او ما غوندې ئې د فېشن په طور هم استعمالوي او ځینې ورسره لږ په خپل «ستائل» کښې څه د لږ ډېر «مصنوعیت» په لار بدلون راولي د جامو او وېښتو نه علاوه د نورو څو بدلونونو په رنګ کښې ځان په خپل خیال کښې د سلوك او معرفت لاروي کړي ولې په حقیقت کښې هېڅ نۀ وي په دې چې:

چې دا هسې لوے مېلمه تۀ کور ته بیا ئې
اول غولے پاکیزه کړه له خاشاکه

کۀ د رحمان بابا دا شعر په حقیقت کښې ولوستلے شي نو د سلوك او معرفت د لار د پاره صرف هم دا سامان بس دے. دغه خاشاك هغه مصنوعیت دے چې لرې کول ئې تزکیه نفس وي او په دې کتاب کښې چې امیر حاتم صېب کومه خبره مخې ته راوړي هغه

د «زۀ عبدالرحمٰن یم» د استعارې نه اخذ کوي او خپل فکر و نظر پرې وړاندې کوي.

«بندګي» د انسان دپاره بنیادي وصف دے ځکه خو وائي:

زندګی امد برائے بندګی
بندګی بے بندګی شرمندګی

په دنیا کښې ټول مخلوقات او اشیاء چې پېدا دي نو د خپلو کارونو دپاره پېدا دي، کۀ بې جان څیزونه دي نو د هغې نه هم خپل خپل کار اخستے شي، تردې چې د حالاتو او ضرورت مطابق هم ترې فائده یا استفاده کېدې او اخستلې شي، لکه پکے او ائیرکنډیشن د ګرمۍ دپاره وي ولې هیټر د یخنۍ دپاره وي – او بیا چې کوم مخلوق د اشرف المخلوقات په سپېځلي نوم یاد شي نو دا چرته کېدې شي چې هغه دې بې لګام پرېښودې شي، نۀ، هېڅ کله نۀ – هغه ته د ژوند د دومره اسائشونو نعمتونو او خوشحالو او سوکالو په غېږکښې د یو پابند ژوند یا د ژوند د ضابطې هم حکم شوے دے او د هغې په رڼا کښې به د ژوند تېرول د «عبد» او «بندګۍ» ذمه وارۍ پوره کول وي.

په دې کتاب کښې محترم پروفېسر صېب دغه خبره کړې ده اوکۀ د دوئ له خوا په دې کتاب لیکلې دیباچه اوکتلې شي نو یوازې دا نۀ چې د دوئ ددې مهم کتاب په مقصد به اورسئ بلکې د رحمان بابا د «بندګۍ» د هغه تصور نه به هم اګاهي حاصله کړئ چې د خپل ربّ له خوا کومې ذمه وارۍ حضرت انسان ته سپارلې شوي

دي او اګر چې رحمان بابا یا ځان ته خبره کوي او یا ځان یادوي او دا د یو صوفي صفت دے چې په رحمان بابا کښې بدرجه اتم موجود دی.

اے رحمانــــه! اول تـــۀ نصـــیحت واخلـــه
دغـــه پســـه بیـــا و بـــل تـــه نصـــیحت کـــړه

خو مونږ ترې دحضرت انسان د بندګۍ او عبدیت یو داسې پېکر سازولے شوچې په حقیقي معنوکښې د بندګۍ په اعلیٰ مقام ولاړ وي.

پروفېسر ډاکټر میر حاتم صېب ته مبارکي وایم او د طمعې لرلو سره سره به ورته دا هم اووایم چې د رحمان بابا غوندې د یو عظیم صوفي او شاعر انسانیت د فکر و نظر دا غوټې هم تاسو راسپړلې شئ - شاعران، ادیبان به ئې په شعریت او ادبیت خبره کوي ولې داسې اړخونه رڼا کول، تشریح کول، راسپړل ئې ستاسو د علمیت متقاضي دي -

په ژوند دې برکت شه او قلم دې روان اوسه ډاکټر صېب.

په درناوي
ډاکټر شېرزمان سیماب
پښتو اکېډیمي
پېښور یونیورسټي
۲۷، ستمبر ۲۰۲۲ء

دا کتاب

دا کتاب (زۀ عبدالرحمان یم) د سائنس پوهه پروفېسر ډاکټر میر حاتم لیکنه ده ۔ ما سره د دې مشر د مینې او شفقت نمونه ده چې زما نه خامخا پۀ خپل درېم کتاب مسلسل لیکل اخلي ۔ ګنې دلته زۀ بېخي خپل ځان Wrong authority ګڼم ۔ ځکه چې زما مزاج بېخي د تصوف د باریکو او د رحمان بابا د مزاج سره بلد نۀ دے ۔ اوس دا یا خو د رحمان بابا کمال دے چې زۀ ورته د کومې زاویې نه ګورم د هغه زاویې نه ورته پروفېسر میر حاتم صېب بېخي نۀ ګوري او یا د (تخلیق کار د مړینې Death of author) (د رحمان نظر جدا د بل جدا دے) چشمې مو پۀ سترګو دي ۔ زۀ چې د رحمان بابا پۀ شخصیت نظر وکړمه نو داسې ښکاري چې تر شلمې صدۍ پورې د باګرام پۀ ګردونو کښې د ترکو د رقص خاپونه ژوندي وو او لکه چې یوېشتمې صدۍ د تارکولو او سیمټي تمدن سره دغه خاپونه له مینځه وړي وي او یا وړونکي دي ۔ ځکه چې پۀ تاریخي پس منظرکښې مونږه شاته لاړ شو نو کۀ وګورو زمونږه پۀ تمامو تاریخي کتابونو کښې ستر شاعر رحمان بابا ګڼلے شوے دے ۔ دغه روایت کۀ اولس برقرار ساتلے ؤ نو ورسره د خپل وخت دانشورانو (مستشرقینو) هم برقرار ساتلے دے ۔ مونږه چې نن هم د کوم مستشرق تذکره لولو نو د پښتنو لوے شاعر (مومند عبدالرحمان) ئې یاد کړے دے۔ خو د دومره مقبولیت باوجود چې یویشتمې صدۍ سرکېښودے دے نو د

رحمان بابا پۀ مقبولیت کښې کمے روان دے ۔ د دې یوه وجه دا کېدېشي چې مونږ پۀ ریاستي کچ داسې کوم وسایل نۀ لرو چې رحمان بابا پرې د خپل اولس او راتلونکو نسلونو سره متعارف کړو ۔ بله وجه دا ده چې مونږ رحمان بابا د نوي کهول سره د وخت د غوښتنو مطابق تشریح نۀ کړې شو څنګه چې پکار دے او بله وجه هم دا چې رحمان بابا پۀ خپله هم کېدېشي چې د یو محسوس ذهنیت مطابق ئې کلام تګ وکړو او اوس شاید چې تګ نۀ شي کولې ۔ کومه وجه چې ما د وسایلو بیان کړه نو د هغې نه به تېر شو ۔ ولې کومه وجه چې ما د رحمان بابا د کلام د شرحې بیان کړه نو پۀ هغې کښې ډاکټر میر حاتم صېب پۀ نظر کښې لرمه ۔ نن هم یو کلاس زمونږ پۀ ټولنه کښې موجود دے چې پۀ رحمان بابا باندې نوي افکارو ته ضرورت لري ۔دا بېله ده چې ډاکټر میرحاتم (سائنس پوهه) د رحمان بابا پۀ مذهبي افکارو دوېم کتاب مکمل کړے دے او له خېره چاپېږي

دا کتاب پۀ دوه ډوله دے یو دا چې رحمان بابا پکښې د میر حاتم صېب پۀ روانه خوږه او د باباګانو پۀ ژبه باندې پۀ نثر کښې غږېدلے دے ۔ بل د رحمان بابا د دیوان نه هر هغه شعر راخستې شوے دے چې رحمان بابا پکښې د خپل ذات نفي کړې ده د اسلام پېروي ئې پۀ نصیحت اموذ انداز کښې وړاندې کړې ده۔ اخلاقیات یوه افاقي موضوع ده او رحمان بابا زیاتره خپل اخلاقي نظام د نظام مصفطیٰ ﷺ سره منسوب ساتي ۔خو د دې سره سره

د یو یشتمې صدۍ غوښتنه دا ده چې د رحمان بابا اخلاقي جاج دې د تمامو مذاهبو نه پرته واخستې شي یا د تمامو مذاهبو پۀ رڼا کښې واخستې شي ۔ ولې چې اخلاق د (ښۀ او بد) نه پرته هیڅ نۀ دي او دا کتل غواړي چې پۀ کوم وخت کښې د کومو شاعرانو د (ښۀ او بد) تصور پۀ کوم ډول ؤ۔؟ ځکه زۀ فکر کؤم چې بابا خو وائي چې !

پـۀ ازار د چـا راضـي مـۀ شـه رحمانـه
کـۀ خلاصـې پـۀ قیامـت غـواړې لـه عذابـه

ولې د یو یشتمې صدۍ د رحمان بابا ټولنه د سره دغه د عذاب تصور نۀ لري ۔ هر څوک پۀ څۀ نۀ څۀ ازار بوخت دے ۔ بلکې دلته زۀ د (شېرپاو سپین جماعت) د یو مزدور قیصه کؤمه چې چاله ئې ټوله هفته کار وکړو کله چې کار مکمل شو نو هغه سړي د مزدور نه نیمې پېسې ونیولې ۔ مزدور راته وئیل چې ډېر وس مې پرې وکړو خو پېسې ئې رانکړې اخر کښې مې ورته یو سوړ اسوېلے وکړو چې (ځه نېکه پۀ ورځ د اخرت به ئې درنه غواړمه) وائي هغه سړے مسکے شو چې د اخرت پۀ ورځ ئې غواړې نو بیا خو دانیمې نورې پېسې هم راکړه ۔ دغسې کۀ هغه قامونه وګورو چې پۀ قیامت ئې یقین نۀ وي نو د هغو به د ازار متعلق تصور څۀ وي ؟۔ ایا د نن دور د (ټیک ټاک د ستار) روزنه پۀ دغه شعر ممکن ده ؟

خو بیا هم ډاکټر صېب ته نورې حوصلې غواړو چې لګیا دے د

اولس لار ته د راوستو د پاره خپله حصه هڅه کوي ـ دغه کارکۀ یو خوا پښتو ژبې او ادب ته وده ورکول دي نو بلخوا ډاکټر میر حاتم صېب د رحمان پوهنې یوه اتهارټي هم ګرځوي ـ پۀ پښتو کښې نن سبا لیکل کول (نېکي کر دریا مي ډال) والا قیصه ده ـ ولې چې پښتانه اتۀ کروړه دي او کتاب پکښې پینځۀ سوه دانې چاپېږي ـبیا پۀ دې پینځۀ سوه چې د لیکونکي کوم کړاوکېږي هغه ځانته د زړۀ چاودن دے ـ پروفېسر میر حاتم پوره پوره کوشش کړے دے چې د رحمان بابا شرحه پۀ یو نوي انداز وکړي او د کتاب د پاره تر ډېره حده پکښې کامیاب دے ـ د رحمان بابا شخصیت ئې پۀ خپل یو ځانګړي انداز رغ کړے دے ـ د ډاکټرصېب د روغ صحت او د نور ډېرکار او زیار پۀ هیله:

ډاکټر سجاد ژوندون
رحمان بابا چیئر پښتو څانګه
اسلامیه کالج پوهنتون پېښور

"زۀ"

"زۀ" خپل اظهار پۀ حدیث قدسي کښې داسې بیان کړے دے !
(کنت کنزً مخفیاً فأحببت ان اعرف فخلقتُ الخلق)
یعنې زۀ پټه خزانه وم پس زما خوښه شوه مینه مې راغله چې زۀ دې و پېژندې شم نو ما مخلوق پېدا کړل.
قلندر عبدالرحمان بابا وایي:

دا جهان دے خدائے لۀ عشقه پېدا کړے
جملـــه و مخلوقـــاتو پـــلار دے دا

دغه زۀ پۀ مختلف صورتونو او لباسونو کښې ځان ښکاره کړے دے لکه یوه ناوې چې د خپل مخ نه شالونه لرې کوي او خپله جلوه پۀ رنګا رنګ صورتونو کښې ښائي ـ کله پۀ مقام احدیت کښې، نو کله پۀ مقام وحدت کښې دغسې پۀ واحدیت او ملکوت کښې، نو کله پۀ عالم مثال، عالم شهادت یا عالم ناسوت کښې ـ لکه حمزه بابا وائي !

د خپل ځان پۀ ائینه کښې ځان ته ګوري
دا چـــې زۀ ګـــنم زۀ نـــۀ یم دا هغـــه دے

حق نزول کړے دے او بنده به عروج کوي د دې عروج د پاره شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه د تصوف دا سفر داسې بیان کړے !
(ت): د ت نه مراد توبه هم ظاهر هم باطني.
(ص) د ص نه مراد د قلب صفائي
(و) د و نه مراد ولایت یافته

(ف) د ف نه مراد فنا في الله

هم دا هغه مقام دے چې فاني عبد د غېر فاني ذات سره خپله بقا حاصله کړي ـ په دغې وخت یا حالت کښې هغه ته صرف یو زۀ په نظر راځي لکه رحمان بابا وائي !

هسې نه چې واحدي ئې دَه له عجزه
په واحد صورت بسیار دے رب زما

دا هغه مقام دے چې منصور حلاج او بایزید بسطامي دوي هم د حق اواز پورته کړے دے ـ زۀ حېران شم د رحمان بابا مقام مرتبې او استقامت ته چې د منصوریت په دې مقام هم دۀ د عبدیت دعوه کړې ده ـ وائي چې زۀ عبدالرحمان یم ـ

رحمان بابا هغه کامل صوفي دے چې د خپل عروج په وخت هم د عبدیت غږ کړي ـ د منصوریت د کموالي او د شریعت د زیاتوالي په وجه ئې اکثر خلق مُلا ثابتوي ـ حالانکه صوفي چې په شریعت څومره عمل پېرا وي مُلا د هغې تصور هم نۀ شي کولے.

"عبد دیگر عبده چیزے دیگر"

اخر کښې پروفېسر ډاکټر میر حاتم صېب ته داد او ډاډ ورکوم چې د رحمان بابا په اړه دا د هغوي دوېم کتاب دے ـ زۀ امید کوم چې راتلونکو محققینو ته به د دې نه ډېره ګټه وي او عام لوستونکي به ئې هم ډېر په شوق ولولي ـ

الله کریم دې ډاکټر صېب سلامت لري ـ

سېد کاشف علي باچا
بونېر پیر بابا

زما نظر

"زۀ عبدالرحمان یم" د پروفېسر ډاکټرمیر حاتم د ژورې مطالعې ادبي ذوق، ادب پوهنې او رحمان پوهنې هغه نچوړ دے چې نن د یو ښۀ اعلي او معیاري کتاب په شکل کښې ستاسو په لاسونو کښې موجود دے ـ زما په اند دا هغه کاوش دے چې دکوم ائیډیا د هر یو ادیب په لاشعورکښې خو موجود وي اوکله کله ئې داسې لږ ډېر اظهار هم وکړي ـ خو ولې په کتابي شکل کښې او اولس مخې ته او د ادب مېدان ته راوړل ئې د خپل وس کار نۀ ګڼي ـ ما چې کله دا کتاب په وړومبي ځل لوستو نو زۀ ئې په خپل ځان کښې دومره ګډ او ورک کړم چې په ډغه دوران کښې زما دا ګمان هم نۀ راتلو چې زۀ په دې موجوده وخت کښې په خپله کمره کښې ناست یم ګڼې دکتاب مطالعه کوم ـ بلکې ما ګڼل چې د هغه د مغل بادشاهانو شاه جهان او اورنګزېب دور دے او د پېښور ښار د دروازو دننه تجارتي قافلو پړاونه کړي دي ـ په قیصه خوانۍ بازارکښې د قیصو محفل تود دے ـ او د دې ښار سره نزدې په بهادرکلي کښې د یو څېر د لاندې یو څو ناشنا غوندې سړي لکه چې څوک مېلمانۀ وي ناست وي او یو درند مشر چې سپینه ږیره او سپین غټ وېښته لري او دې ناستوکسانو ته مخاطب دے او ورته وائي چې (زۀ عبدالرحمان یم) محکمه، کلکه، پخه عقیده

لرم ، چې خدائے پاک واحد لا شریک دے ۔ حضرت محمد(ص) د خدائے رسول او اخري پېغمبر دے ۔ واړه رسولان اسماني کتابونه او قیامت حق دے ۔ د الله جمله صفات برحق رښتیا او د قوت خزانه ده۔

دغه د خپل مذهب او سلوک خبرې چې ختمې شي نو بیا ورته د خپل رب او دین سره د عشق او محبت قیصې شروع کړي ۔ بیا ورته د خپل کسب او پۀ خپل کسب کښې د سختیاو قیصې شروع کړي ۔ خو چې دغه هر څۀ ختم شي نو لږ وخت د پاره غلے وي او بیا غاړه تازه کړي او د خپل کور اوکلي خبره پېل کړي خو ددې سړي پۀ خبروکښې څۀ تعجب غوندې محسوسېږي ۔ او هغه داسې چې کله د خانانو اوکله د ملنګانو خبره کوي ۔ کله غم یادوي اوکله خوشحالي ۔ کله وائي مینه کوم مئین یم اوکله وائي مجنون چا کړم ۔ کله وائي قلندر یم اوکله وائي مست خراب یم ۔ خو پۀ اخره کښې دا خبره وکړي چې دنیا فاني او بې اعتباره ده ۔ او داشعر ووائي چې :

تـر هـرګـام لانـدې کـوهے دے د دې دهـر
ایښـے بویـه هـر قـدم پـۀ احتیـاط

نو زۀ خپلې خبرې اوږدول نۀ غواړم دومره به ووایم چې ډاکټر صېب د رحمان بابا نفسیات بیان کړي دي ۔ هغه رحمان بابا دومره مطالعه کړے دے چې هغه د ریاض تسنیم خبره:

یو رحمان پۀ سړبن کښې ګلپاشي کړه
یو تسنیم پۀ کراچۍ کښې غزلخوان شو

مقصد مې دا دے چې ډاکټر صېب پۀ دې زیار او هڅه کښې ځان د نفسیاتو ماهر ثابت کړے دے هغه داسې چې د یو صوفي او قادر الکلام شاعر خیالات احساسات او جذبات دومره حسینه پېرایه کښې بیانول د هر چا د وس کار نۀ دے ۔ لکه څنګه چې دا کتاب د رحمان بابا د ژوند فن او شخصیت ترجماني کوي دغه رنګ مونږ پۀ راروان وخت کښې هم نۀ صرف د ډاکټر صېب نه بلکې د هر لیکوال نه طمعه لرو چې د پښتو ادب ناوې هم پۀ داسې کالو سینګارکړي ۔

مزران مومند
پښتو څانګه اسلامیه کالج پوهنتون

باب – ۱

زما دین زما مذهب

زه عبدالرحمٰن یم. محکمه، کلکه، پخه عقیده لرم چې خدائ پاك واحد لاشریك دی. حضرت محمد مصطفٰی صلی الله علیه وسلم د خدائ رسول او اٰخري پېغمبر دی. واړه رسولان، اٰسماني کتابونه فرښتې او قیامت حق دی. د الله تعالیٰ جمله صفات بر حق رښتیا او د قوت خزانه ده.

ای رحمانه! که څه کار دی خو د دین دی
نورکارونه بې وفا دي بې اساس
زه رحمان له هغه علمه پناه غواړم
چې له دینه له مذهبه وي سېوا
دا څلور مذهبه واړه سره یو دي
ماو تا په کښې پېدا کړ اختلاف

زه موحد یم:

الله تعالیٰ واحد لاشریك دی، نه بل خدائ شته او نه شریك. د ټولونه غټه ګناه شرك دی چې خدائ پاك یې هېڅ کله نه معاف کوي اګر چې نور ګناهونه معاف کوي، ریا هم د شرك یوشکل دی کوم ته چې شرك خفي وایي. د انسان ټول کمالات په توحید کښې دي.

شریك نه لري په خپله بادشاهي کښې
بې شریکه شهریار دی رب زما

هسې نه چې واحدي یې ده له عجزه
په واحد وجود بسیار دی رب زما
چې یې هېچرې نه مثل نه مثال شته
د هغو عطرو عطار دی رب زما

جمله صفات الهیه حق دي:

د الله تعالیٰ ذات د صفاتومنبع ده او هر صفت یې د طاقت او قوت یوه بې پایانه خزانه ده. دنیا واړه د الله تعالیٰ د صفاتو مظهر دی او په هغې کښې انسان مظهر اتم دی. سیر فی الهٰي غېر محدود دی. انسان د الله تعالیٰ د صفاتو حدونو ته نه شي رسېدی. الله تعالیٰ د خپلو صفاتو هلکه غوندې عکس په انسان کښې ایښی دی ځکه ورته عالم اصغر وایي. زما عقیده ده چې د الله تعالیٰ صفات قائم و دایم او مؤثر دي.

په نامه د هغه خدائے مې دا بیان دی
چې یو نوم یې په نومونوکښې سبحان دی
هغه کار چې و هر چاوته مشکل وي
هغه کار واړه و دۀ وته اسان دی
همه واړه په تسبیح ددۀ مشغول دي
که ملك دی که پیری دی که حیوان دی
هر ماهي یې په دریاب کښې حمد وایي
هر مرغه یې په چمن کښې ثنا خوان دی

لـــه هـــزارو صـــفتونو راشـــه ګـــوره
چې یې کړی نیم صفت عبدالرحمان دی
دفتـر تمـام ګشـت و بـه پایـاں رسـید عمـر
ماهمچنـــان در اول وصـــف تومانـــده ایم

عالم بالغیب:

کـه ظـاهر دی کـه بـاطن دی کـه مـابین دی
لـــه همـــه وو خبـــردار دی رب زمـــا
خواننـــده د نانو یســـو صـــحیفو دی
داننـــده د هـــر اســـرار دی رب زمـــا

فاعل حقیقي:

چې څه کاندې واړه خدائ دی نور څه نشته
رحمـان څـه دی څـه یـې واك څـه یـې ادراك
پـه ښـېرو پـه دُعـا څـه شـي کړونـې خدائ دی
چې خدائ نـه کـا ښـیرې څـه کـا دُعـا څـه کـا
چـې مـولیٰ ورسـره مـل نـه وي رحمانـه!
کـه لښـکرې ورسـره وي یـك تنهـا دی

قادر قدیر:

ګـــوره هســـې کردګـــار دی رب زمـــا
چـې صـاحب دکُـل اختیـار دی رب زمـا

نـه یـې هـېڅ حاجت پـه چا باندې موقـوف دی
نـــه د هېچـــا منـــت بـــار دی رب زمـــا
حاجـت نـه لـري د هېچـاو یـاری تـه
لـه هغـو سـره چـې یـار دی رب زمـا
کـه پېـدا کـه پوشـیده دی کـه اوسـط دی
پـــه همـــه وو وقـــوف دار دی رب زمـــا
هـېڅ تغیـر او تبـدیل نـه لـري رحمانـه
تـــل ترتلـــه بـــر قـــرار دی رب زمـــا

خالق:

لـه نیسـتی یـې د هسـتی صـورت پېـدا کـړ
هســـې رنـــګ پروردګـــار دی رب زمـــا
هـم صـانع دی د جملـه وو مصـنوعاتو
هـم سـامع د هـرګفتـار دی رب زمـا
هـر تعمیـر چـې د دنیـا او دعقبـی دی
د همـــه واړو معمـــار دی رب زمـــا

زه محمدي یم:

حضرت محمد مصطفٰی صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ رسول او اٰخري پېغمبر دی. زما پېغمبر سیدالمرسلین، رحمت اللعٰلمین او شفیع المذنبین دی. د حضورکریم صلی الله علیه وآله وسلم د

رسالت او رهنمايي نه سپوا د هدايت بله لار نشته. د حضورکريم صلی الله عليه وسلم رسالت په تمام عالم، په ټولو زمانو قائم و دايم دی. قيامت به د حضورکريم صلی الله عليه وسلم په عهد رسالت کښې قائمېږي.

که صورت د محمد نه وی پيدا
پيدا کړې به خدائ نه وه دا دنيا

کل جهان د محمد په مخ پيدا شه
محمد دی د تمام جهان آبا

په صورت کښې آخرين دی پيدا شوی
په معنٰی کښې اولين دی تر هر چا

که رڼا ده پيروي د محمد ده
ګڼه نشته په جهان بله رڼا

هسې رنګ نعمت را کړی خدائ و ما دی
چې هيڅ څيز بها يې نشته بې بها دی

يو خو دا چې يې په شکل د آدم کړم
دويم دا چې محمد مې رهنما دی

حضورﷺ آخري پيغمبر دی

نبوت په محمد باندې تمام شه
نشته پس له محمده انبيا
خدائ يې مه ګڼه بيشکه چې بنده دی
نور يې کُل واړه صفات دي په رښتيا

انبياء عليهم السلام معصوم دي:

نبوت د الله تعالیٰ عطا ده، دکسب تجربې، عقل او ګمان په دې کښې دخل نشته. معرفت الهٰي ورته پخپله حاصلوي. د فطري او بشري تقاضو باوجود د حدود الهٰي نه باهر نه وځي. عصمت ددې ذاتي او لازمي صفت دی. انبياء عليهم السلام د انسانيت خلاصه او عطيه دی. د علم و عقل د آخري سرحدنه پس د نبي د حکمت د دانايي او معرفت حد شروع کېږي، چې غېر نبي د هغې ګرد ته هم نه شي رسېدی، ځکه د نبي ژوند په عام انساني معيار باندې تلل ناداني ده. د نبي په قول و فعل الهٰي مهر لګېدلی دی. غيبي حقيقتونه د مخ نه د ظاهري مشاهدې پرده لرې کوي. يقين دې ته وايي چې د ذاتي مشاهدې نه يقين پاڅي او د نبي په ښودلي شوي حقيقتونو باندې راشي. د حضورکريم صلی الله عليه وسلم ذات دين دی. سنت نبوي جاذب رحمت الهٰي دی. ختم نبوت د الله تعالیٰ عظيم انعام دی. ټول پيغمبران د عامو بنيادمونه افضل او اعلیٰ دی. حضورکريم صلی الله عليه وسلم مونږ منع کړي يو چې يو پيغمبر په بل باندې اوچت کړو.

ملائيك د الله تعالیٰ مخلوق دی چې په خدمت باندې مقرر دي لکه د اټوميټك مشين پشان کارکوي. د جذباتو او احساساتو سره يې څه کار نه وي، د عشق نه بې خبره دی.

په هجران کښې د يار خيال راسره مل وی
په زندان کښې د يوسفؑ سره اسير يم

که لیدلې زلیخا یوسف په خوب وو
ما په وینبه دی لیدلی په خواب نه دی
ما په هجرکښې لذت د وصال بیا موند
له یوسفه ملاقي شوم په زندان کښې
د یوسفؑ له حاله زده کړه دغه پس
وایه حال د زمانې و برادر ته
په ژړا ژړا تر هسې حده راغے
چې ځان ړوند کړو په یوسفؑ پسې یعقوبؑ
چې قاصد د ورك یوسف زېری پرې وکړو
د یعقوبؑ د سترګو بیا نظر پیدا شه
چې یوسفؑ د حبشي په بها مومې
د مطلوب په طلب نه شندې ځان ولې
اشنایي تر جدایی کمزورې نه ده
معطر په بوئ د مصر درست کنعان دی
د عیسیٰ له دمه دم وهلی نه شم
چې خوله بېرته شي په ګفتګوئے د ستا
څوك له زمکې و آسمان ته شي ختلی
ده عیسیٰؑ له ره ورکړی دا مکان دی
څوك له خدائ سره خبرې شي کولی
ده موسیٰؑ مشرف کړی په دا شان دی

زۀ په تا پسې موسیٰ یم قارون نه یم
چې مطلب مې غوا و غېلې یا ګلی دي
هرڅوك چې د عشق په آتش ځان سېزي رحمانه!
خدائ دې ابراهیمؑ غوندې څوك نه کا په لمبوکښې
پېغمبرؐ غوندې صاحب د دنیا تېر شه
دا دنیا یې ویرانه نه شوه په هجران
ځنې ځنې یې ولیان پېغمبران کړل
نه چې هر سړی ولي او پېغمبر دی
ملائك د عشق له غمه خبر نه دی
خو هم ماله دا سخت سفر پېدا شو
مرتبه که ستا د عشق شي ورڅرګنده
ملائك به واړه وایي چې بشر وی

طاعت و عبادت مې فریضه ده:

الله تعالیٰ فرمایي: «وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ»[1] چې انسانان او پېریان ما د خپل عبادت دپاره پیدا کړي. د طاعت او عبادت میدان او مفهوم ډېر پراخ دی. هر هغه کار چې ددین دی او که ددنیا، چې په اخلاص سره د خدائ پاك د رضا دپاره کوي په طاعت او عبادت کښې شامل دی. هغه خلق خوش قسمته دي د

1 - سورة الزاریات، آیت:۵۶

چا چې یوه لحظه هم بغېر طاعت او عبادت نه نه تېرېږي ځکه خو زه وایم:

که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی
ګنه نشته بل نعمت په دا دنیا
په دنیا کښې لوټ هغه عالمو وکړو
چې یې وکړو عبادت په دا دنیا
نېك عمل حضور جنت دی طاعت بویه
چې حاصل کا څوك جنت په دا دنیا
دنیا نۀ ده واړه دین دی
چې له نهی وي سېوا

د خپل نېکو او بدو حساب ساته. ګناه ته لږ مه وایه چاسره ښه کولوکښې بخل مه کوه. د نفس و شیطان دکېدو نه وېښ اوسه. عبادت داسې کوه لکه چې بس دادې اٰخري وخت دی. د عبادتنه پس د قبولیت دعا غواړه.

ای رحمانه! که څه کار دی خو د دین دی
نورکارونه بې وفا دي بې اساس
په دنیا کښې که څه کار دی خو ددین دی
ددې کار په کننۀ اٰفرین دی
که یو ځله سر د خدائ دپاره ټیټ کړې
په قیامت به سر بلند شې تر هر چا

تاریکي د معصیت راڅخه واخلې!
د طاعت په روښنایی مې زړه روښان کړې
عبادت په شتاب هسې کړه رحمانه!
لکه عمر چې دې تلونی په شتاب دی

❖❖❖

نور عالم که د دنیا غمونه کاندي
د رحمان سره دې غم د آخرت وي
چې تقویٰ دیانت نۀ لري رحمانه!
د دې هسې هم نشینو نشین مۀ شه
خدائ هاله د سړي یاد شي چې دردمند شي
کمه نه ده دردمندي له عبادته
چې د شر له عملونو نه خیر غواړي
تشنه لب غوندې سَر شوی په سراب دی
زۀ هرګوره تر خپل یار پورې شرمېږم
برهمن چې سر په پښو د خپل صنم ږدي
ته و خپلو نېکو بدو ته نظر کړه
چې بدي د څو تیری ده له ثوابه
چې نېکي بدي په تله کښې تلل شي
خود په خپله تله واخله عدالت کړه
لږ یې مه ګنه که هر څوګناه لږ وي
چې لږ لږ وبله جمع کړې بسیار شي

که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه
هر یو نخل چې مېوه لري سنګسار شي

❖❖❖

خدائ دې بد له لاسه مه کوه اوکه وي هم
د رحمان دې په کل بدو استغفار شي

که یوه رتی زر دې په لاس کښېوځي
خرڅ خروار د عبادت په رتی زرکړې

حیوانات هم په تسبیح د خدائی مشغول دي
ته انسان یې له حیوانه بتر مه شه

نفس شېطان سړی وکفر ته وباسي
رحم فهم په ځان وکړه کافر مه شه

د دنیا د سود دپاره غمګین مه شه
غم د دین و د ایمان کړه بې دین مه شه

د ابلیس و ریاضت ته دې نظر کا
چې غرورکا په طاعت په ریاضت څوك

ګناهګار توبه ګاریم:

د حضورکریم صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد دی، تاسو ټول خطاکار یئ. ښه خطاکار هغه دی چې توبه وباسي. انسان نه خطا کېږي، ځکه چې آدم علیه السلام نه خطا شوې ده، خو توبه وباسل هم د آدم علیه السلام سنت دی. توبه وباسه، د توبې دپاره د خپلوګناهونو اعتراف د خپلې کوتاهي یقین په ګناه ندامت او آینده دګناه نه د بچ کېدو عزم پکار دی، ګوره یو بزرګ د خپلو ګناهونو اعتراف څنګه کوي:

چار چیز آوردہ ام شاہا کہ در گنج تو نیست
عاجزی درماندگی عذر و گناہ آوردہ ام

خدایه! څلور داسې څیزونه مې راوړي، چې ستا په خزانوکښې نشته. عاجزي، درماندګي، عذر اوګناهونه مې راوړي دي.

بدترین څیز په ګناه اصرارکول دي. یو عارف په څومره ښائسته طریقه د توبې د ماتېدو بد وایي:

رات کو خوب سی پی صبح کو توبہ کرلی
ایسی بد مستی توبہ سے الٰہی توبہ
جرم پہ جرم بہی ہے توبہ پہ توبہ بہی ہے
بن گیا سلسلۂ نا متناہی توبہ

الله تعالیٰ خو ډېر زیات توبه قبلولو والا دی. فرمایي: چې اې ګنهګاره! ته هر څه یې کافر یې، ګبرو بت پرست یې،توبه وباسه واپس شه زما درګاه د ناامیدی درګاه نه ده. که سل ځل دې توبه

ماته کړې بیا هم راځه.

باز آ باز آ هرآں چه هستی باز آ
گر کافر و گبرو بت پرستی باز آ
این درگه ما درگه نا امیدی نیست
صد بار اگر توبه شکستی باز آ

خو اصل کښې د الله تعالیٰ نه د غوښتو طرز پکار دی،لکه چې وایي:

وه طرز نالہ ہو جو اس کو بی قرار کرے

حدیث شریف کښې راځي، چې د الله تعالیٰ هغه خلق ډېر خوښ دي کوم چې دعا غوښتوکښې خدائ پورې مچي شي (ملّحین فی الدعا) لکه یو بزرگ وایي:

دامن رحمت گرفتم داد داد

او یا لکه د هغه بدوي چې دکعبة الله غلاف یې نیولی وو او وې «اللهم اغفر» اې الله! ما او بخښې «فان لم تغفر» که نه مې بخښې، فاغفر، بیا مې وبخښې یا لکه ځینې ملنگان وایي: لے کے ٹلونگا.

هومره توان و توفیق نه کنم په بخت کښې
چې تائب کا ما له فسق له فجور
ته چې ما وته توبه وایې ناصحه
په دا وخت کښې چا څخه د توبې تاب دی

زۀ توبه په هغه تېر عمر وکاږم
چې صرف شوی دی بې یاره په غفلت کښې
دانسته گناه کوې توبې وکاږې
لکه بُت هسې په غټو، سترگو خواب کړې

❖❖❖

خدائ دې بد له لاسه مه کوه اوکه وي هم
د رحمان دې په کل بدو استغفار شي
په طاعت په عبادت مې زړۀ یخ نه کړ
همېشه د معصیت په اورکباب یم
سر د خدائ و عبادت ته ایښوی نه شم
مدام ډوب د گناهونو په گرداب یم
چې و خپلو گناهونو ته نظر کړم
سزاوار د هر عذاب دهر عتاب یم

د بخشش امید لرم:

الله تعالیٰ فرمایي: «لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ»[1] د الله تعالیٰ د رحمت نه مه ناامید کېږی. د الله د رحمت نه ناامیدي کفر دی. زما گناهونه هېڅ کله د الله د رحمت نه نۀ شي زیاتېدی، خو دا هم نه ده پکار چې مشغول په معصیت یې او امید د رحمت لرې. سړی زړېږي

1 - سورۀ زمر، اٰیت: ۵۳

خو امیدونه یې هغسې ځوان وي. عمر یې اُخري وي بیا هم د خپل عمر په وړاندې منصوبې جوړوي. په ماضي باندې ژړا مه کوه او د مستقبل بې ځایه غمونه مه خوره په حال کښې چې درنه څه کېږي کوتاهي مه کوه.

ستا له رحمه به زه ولې نومیدي کړم
چې دې نام دی د رحیم په نام نومړی
هېڅ اُمید مې د ایام په ګردش نه شي
چې فرصت به په خپل دور و ما را کا
په امید د آئینده ؤ زړه ور مه شه
نقد نسیا ځبله بېل کړه اوتر مه شه
که امید لرې له رحمه له کرمه
ستا هم بویه په هر چا باندې کرم
د امید مزی یې هسې رنګ دراز وي
چې تر خضره ورته خپل عمر بسیار شي
لا یې لپه تخم هم کرلی نه وي
ناکشته یې ځنې طمعه د خروار شي
غړوندی د نازوکړیو خسیو غړي
چې سبا بېګاه به ما لره ګوهار شي

عاجز خاورې ایرې یم:

انسان د خاورونه جوړ دی واپس به خاورولـه ځي. خاوره د پستی او ذلت علامت دی. خاورې یو بې قیمت او بې حثیت څیز دی چې د هغې نه لاندې درجه نشته. خپل ځان ته د خاورو نسبت کول تواضع او عاجزي ده او دا د انسان کمال دی. شیطان په دې مردود شو چې وې «خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّ خَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ»[1] زه د اور نه پیدا یم او اُدم د خاورې نه. نو مردود شو او دا د ټولونه اولنی د تکبرګناه وه. نن هم چې څوك د خاورونه کرکه کوي او ځان په ګوته څنډې نو د تکبر په زمره کښې راځي. خاکساري او عاجزي د انسان کمال دی ځکه خو وایي:

دا هنر نه دی چې خاورې څوك سرۀ زرکا
چې زر خاورې کا رحمانه هنر دادی
زه دې پېژنم په اصل کښې خاکي یې
ته چې ځان څنډې په ګوتو له ترابه
ذخیره ددنیا مه کوه رحمانه!
دا همه واړه د خاورو ذخیرې دي
چې په زړۀ مې تور لحد شي د خپل خاك
بې مزه شي هم مې خوب هم مې خوراك
نن سپېره په خاؤرو ډکه خوله بهتر یم
چې آخر مې دا خوراك دی دا پوشاك

1 - سورة اعراف، اُیت: ۱۲

چې داهسې عالم لاندې شو تر خاورو
د چا یاد دي ما او تاغوندې سګان

که غلبېل کړم د تمامې دنیا خاؤرې
بیا به نه مومم دارا او شاه جهان

ډېرې خُلې زما په یاد شکر خورې شوې
بیا زمونږ په زمانه خاؤرې ایرې شوې

په هغو زمکو چې روغې پرې مانړی وې
د ایام په ګردشونو ادیرې شوې

❖❖❖

لکه څوك چې نعمتونه د دنیا خوري
زه د یار د کوڅې خاورې په دا رنګ خورم

زر داران که او به څښې په جام د زرو
خوښ زما دا خپل د خاؤروکنډولی دی

کاشکې زه خاؤرې ایرې د ستا در وی
چې قدم دې همېشه زما په سر وی

لکه زه چې ستا د در په خاؤرو خوښ یم
هومره عیش و طرب نه لري شاهان

چې یې خاورې کړه صورت د ستا په درکښې
سر تر عرشه دی وکښلی زما روح

ته چې هر چاته په خوارو سترګوګورې
لا رومبی به ستا صورت تر خاؤرو خوار شي

غرض خوب دی که په خس وي که په خاؤرو
څه حاجت دی په بستر او په بالین

ستا ددر په تورو خاورو باندې خوښ یم
بې تا خوښ په تماشا د ارم نه یم

پند ورکوم پند اخلم:

زما کلام او پند عالمګیر دی تمام انسانیت ته مخاطب دی. په خپل پند کښې زورنه هم ورکوم، خفه کېږم چې څوك په غلطه لار ځي یا اور ته ځان غورځوي. زه یې د غفلت د خوبه را پاسول غواړم او صحیح لارې ته یې رهنمایي غواړم. اول خپل ځان ته وایم خپل ځان ملامته کوم او بیابل ته وایم.

خو عاشق ته د نصحیت په معامله کښې زه د مجنون نائب یم، څنګه چې مجنون خپل پلار بیت الله شریف ته بوتلو چې هلته د لیلیٰ د عشق نه توبه وباسي، نو مجنون لاس اوچت کړو او وې وئیل: «خدایه! زه د هرې ګناه نه توبه او باسم خو د لیلیٰ د عشق نه نه» زه هم عاشق یم د عشق نه نه اوړم که ناصحان راته نصیحت کوي خپلوان راته پېغورکوي، څوك راته مجنون وایي، څوك لېوني، څوك را باندې فتوې لګوي، څوك تهمتونو. خو چې څومې دم وي عشق به پرې نه ږدم، بل ناصح ته وایم:

عاشقي په مثل اور نصحیت باد دی
شېخه! اور مې لا زیاتېږي وایه وایه

په آزار د چا راضي مه شه رحمانه!
که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه
کوهی مه کنه د بل سړي په لارکښې
چرې ستا به دکوهي په غاړه لار شي
که بل بد کاندي ته ښه کړه مه رنځېږه
هر یو نخل چې مېوه لري سنګسار شي
هغه زړۀ چې عرش الله دی ګوره کوم دی
څو دې توان شي د جمله زړونو خدمت کړه
کرد ګلوکړه چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مه کړه په پښوکښې به دې خار شي
چې و بل ته نصیحت کا ځان یې هېر وي
نور څوك نه دی هغه ته عبدالرحمان یې
رحمان څه دی چې به پند و چاته وایي
هدایت د هر بنده په کردګار شي
اے رحمانه ! اول ته نصیحت واخله
دغه پسه بیا و بل ته نصیحت کړه
داوئیل دې اثر کله کا په نورو
اې رحمانه! په ځان ولې اثر نه کړ
و بد خواه وته څوك نېك نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریك دی که باورکړې

دا خو زه له شفقته تاته وایم
ګنه ځان له سر نوشته په چا ژغړ شي
هم پند اخلم هم پند وایم و هر چاته
زۀ د ځینو یم مرید د ځینو پیر یم

نصیحت او عشق :

اور بدونکی یې رحمان د وئیل نه یم
بهتر دادي چې نور نه وایي واعظ
ته چې پند وایې ناصحه و رحمان ته
کاشکې نورکړې هغه کښلي د میثاق
رحمان هسې وزګار چرې دی له عشقه
چې غوږ ونیسي ناصح غوندې وزګار ته
ته و ماته نصیحت مه کړه ناصحه
زۀ دا خپل تخم خپل ځان له کرمه
ته و ماته نصیحت مه کړه ناصحه
عشق بې نیاز دی له ثواب له وباله
د ناصح په نصیحت به منع نه شم
که هزار ځله مې رور و برادر شي
ناصحان چې نصیحت و ماته وایي
چرې دوئ هم مئین شوي دي که نه دي
چې و ماته نصیحت کا څوك په عشق کښې
ګویا پلار ته نصیحت کاندي فرزند

رنګر ږزان دې اول خپلې ږیرې رنګ کا
بیا هاله دې و رحمان ته وایې پند
سل ځله که وُخوري ناصحان ځیګر زما
بېل به و بله نه کا درد ستا و سر زما
لار زما و یار ته مه تړه ناصحه
ما موندلے دے دا یار په ډېر محنت کښې
نصیحت را باندې نه کا
لکه موی هومره اثر
واوره غوږ باسه ناصحه
کوتاه وایم مختصر
جار واته مې بېرته نشته
چې عالم شه را خبر
زۀ رحمان تر هر څه تېر یم
تېر به نه شم تر دلبر

◈◈◈

دعا غواړم:

دعا د الله تعالیٰ خاص انعام دی. دعا دایمان نښه، د تعلق الهٰي دلیل، د عبادت مغز، د عبودیت او بندګي روح او د دوربش رونق دی. دعا د رب او بنده ترمېنځ قوي رابطه، د مؤمن وسله، د فقیر خزانه، د مسکین توشه، د نادارو امید، د لاچارو تسکین، د بې بسو تسلي، د ضعیفانو قوت، د حقې لارې د طلبګارو ډهال او د سالکینو د لارې سامان دی.

دعا جامع الاسباب، د ذرائع مور، د خیرکنجي او د مطلب براري د ټولونه ښه او بهتر تدبیر دی. د فقیر سرمایه خو بس دعا او د دعا قوت دی. قضا صرف په دعا بدلېږي، چاته چې د دعا دولت ملاؤ شو په هغه د الله تعالیٰ د عطا او غنا دروازې پرانستل شوې څوك چې د الله دروازې لاندې کېناست، کلك شو او د غوښتو دپاره دَ مچي کېدو چل زده کړو هغه به کله هم ناکام نه وي د اضطرار د وخت دعا نه ردکېږي شپه او ورځ ژړا او دعا زما خوښه مشغله ده خدائ دِ قبوله او منظوره کړي.

صبح و شام مې لاس نیولي وي دعا کړم
خواست له خدایه ستا د مهرو د وفا کړم
لاس و پښې د خلقو نیسي دعا غواړي
مینې هسې منت بارکړ زما دل
هېڅ پوره به دې نېمګړی نه شي خدایه
که بېلتون د دوه یارانو و بله نه شوې

د رحمـــان غلطـــي وبخښـــه ای خدایـــه!
د اوتـــرو چـــارې نـــه وي پـــه حســـاب کښـــې
ګونـدې ستاسـو پـه مـخ زه هـم پسـندیده شـم
لاس د خـــدائ و درتـــه ونیســـئ پســـندلیو
چـــې راکښـــلی مـــې پـــرې غشـــی د دعـــاو
هغـــه نخښـــه مـــې ونـــه ویشـــته خطـــا شـــوه
لکـــه پـــوچ بـــادام بـــې مغـــزه بـــې حاصـــله
هســـې پوچـــه بـــې حاصـــله مـــې دعـــا شـــوه

❖❖❖

چـــې زمـــا پـــه چمـــن راشـــي ګســـتاخي کـــا
د شـــبنم پـــه څـــېـــرې عمـــر یـــو زمـــان کـــړې
چـــې زمـــا د یـــار تـــر مېنځـــه جـــدایي کـــا
کـــاڼی پریـــوتی پـــه خونـــه د بـــدانو
هـــر طـــرف مـــې د دعـــا غشـــي ګـــوزارکـــړل
ولـــې یـــو هـــم هســـې نـــه وو چـــې کـــارګر شـــه

زه سالک یم:

د سلوك یا تصوف اصلي مقصد د حضورکریم صلی الله علیه وآلـه وسـلم ظـاهري او بـاطني مکمـل پیـروي پـه اخـلاص سـره د شـریعتِ کامـلِ متابعـت دی چـې د الله تعـالیٰ رضـا حاصـله شـي. ددې دپـاره د شـېخ او مرشـد ضـرورت دی، چـې هدایت یافتـه متبع سنت ماهر فن د خپلې سلسلې سره منسلك وي. بیعت د شـېخ او

مریـد تـرمېنځ معاهـده ده، چـې دخپلـې مرضـی او خوښـې ژونـد ورکـړي او د الله تعـالیٰ د رضـامندی ژونـد قبـول کـړي. شـېخ لار ښایي مرید پرې عمل کوي. شېخ د مرید په دیني اصلاح او خیر خواهي کښې به کمی نه کوي او مرید بـه د شـېخ پـه هدایاتو عمـل او پابنـدي کـوي. پـه دې طریقـه دا لار غـوڅېږي او سـالك زر یـا وروسته منزل ته رسېږي. په دې کښې ځینې څیزونه ډېر ضروري او بنیادي دي، لکه د شېخ صحبت، د زړه نګراني، د نفس اصلاح، د اخلاق حمیده حاصلول د اخلاق رذیله نه ځان ساتل.

زه پـه دې قائـل یم چـې بغیـر د پیـر او مرشـد د رهنمـایي نـه پـه دې لارې تګ ګران دی.

بـــې رهبـــره یـــون د عشـــق پـــه لارې ګـــران دی
دلتـــه بویـــه چـــې پېـــدا کانـــدي رهبـــر څـــوك
چـــې ســـبا ارمـــانوې پنـــد د پیرانـــو
ولـــې نـــن د پیـــر طلـــب نـــه کـــړې بـــې پیـــره

د الله تعالیٰ په معرفت شکرګذار یم:

چـــې دا هســـې معرفـــت یـــې پـــرې پېـــرزوکـــړ
پـــه رحمـــان بانـــدې منـــت د پـــاك مـــولا دی

د خپل زړه په حالت خوشحاله یم:

کـــه نـــور خلـــق قدمونـــه ږدي پـــه زمکـــه
مـــا دې ایښـــي پـــه اســـمان قـــدم د زړۀ

هر وخت د خپل نفس نګراني کوم:

یو وېښته مې د صورت بې عشقه نه دے
څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم

د شیخ صحبت اکسیر اعظم ګڼم:

صبت بې تاثیره نه دی دا حدیث دی
ګنګو غریبې هم په څېر دګنګو زردکه

هرکله چې ز د پیر او مرید اهمیت منم او د سلوك د بنیادي اصولو قائل یم، نو ځان ته سالك وئیلوکښې حق بجانب یم.

معرفت:

چې دا هسې معرفت یې پرې پېرزوکړ
په رحمان باندې منت د پاك مولا دی

هسې رنګ نعمت را کړی خدائ و ما دی
چې هېڅ هېڅ بها یې نشته بې بها دی

په هردم کښې نوې نوې تماشا کړم
زۀ رحمان د خدائ وکړو وته حېران یم

بې خودیه یې د دنیا له غمه خلاص کړم
لار مې بیا مونده بېرون له شش جهته

چې د خدائ له معرفته خبر نه شوم
معلومېږي چې یا دېو یم یا دواب یم

زړه:

که نور خلق قدمونه ږدي په زمکه
ما دې ایښي په اسمان قدم د زړه

زه ملهم د زړه له چا غواړم بې خدایه
چې کړی نه شي طبیبان ملهم د زړه

چې عنقا شو اهل دل په دا دنیا کښې
ترو به څه وایي و چا وته احوال څوك

صحبت:

چې تقویٰ دیانت نه لري رحمانه!
د دې هسې هم نشینو نشین مه شه

دانا اهله همدمان دي نه پوهېږم
که مچی د رحمان پندې په ګوګل دي

نفس:

دا خو ته یې زما نفسه
چې دې زه کړم کور وکر

تمام ووتې له عقله
په دنیا پسې اوتر

کـه دِیـو قـدم د ځـان د پاسـه کېښـود
نُـه فلکـه بـه دې لانـدې تـر قـدم شـي
راشـه واچـوه د نفـس و خلـې تـه خـاؤرې
څـو دې نـۀ ده خولـه دګـور پـه خـاؤرو ډکـه
نفـس شـیطان سـړی وکفـر تـه وباسـي
رحـم فهـم پـه ځـان وکـړه کـافر مـه شـه
زړۀ د نفـس پـه پیـروی در څخـه لاړ شـه
د خبیـث پـه لاس دې ورکـړ قـرآن ولـې

عقل:

څـو د عشـق پـه خـم خانـه مـې داخـل نـه کـړ
پختـه نـه شـه دغـه عقـل خـام زمـا
هغـه عقـل چـې مـې لاف د خـودرایی کـړ
پـه یـوه پیالـه د مئیـو لمـا یـووړ
کـه پـه عقـل پسـې لاړم پـه کـار نـه شـه
کـه لـه بختـه مـې یـاري غوښتـه یـار نـه شـه

استغراق:

چـې د سـتا پـه تماشـا یم خبـر شـوی
نـور خبـر پـه تماشـا د عـالم نـه یم
لکـه بُـت چـې پـه رڼـو سـترګو وده وي
هسـې زه پـه بیـداری کښـې وړی خـواب یم

لکـه زه چـې مسـتفرق یم سـتا پـه غـم کښـې
بـل بـه نـۀ وي پـه جملـه بنـي آدم کښـې
زه رحمـان کنـاره خـوښ یم لـه عالمـه
بـاري سـتا سـترګو رسـوا کـړم پـه عـالم کښـې

مجاهده:

مـراد لـه زهـده معرفـت دی
نـه تـش ځـان وژل اقربـه

مراقبه:

و رحمـان تـه ځـان هغـه ګـړی اسـمان شـي
چـې د سـتا پـه غـم کښـې ناسـت وي سـرنګون

زرغونـه کانـدې دانـه زمـا د عشـق
چـې پـه زړۀ مـې زرغـون خیـال شـي د اَشـنا

قبض و بسط:

د رحمـان خنـدا پـه اجـر د ژړا ده
تـازګي دګـل پـه قـدر د شـبنم وي

کـه دې غـم د درسـت جهـان تـر زړه چاپېر شـي
دلګیـر مـه شـه هسـې وایـه چـې بـه تېـر شـي

که د زړه له غمه وچوي دلګیر مه شه
کاتبان که په چول قلم تازه

اخلاق حمیده حاصلول غواړم:

اخلاق د خُلق جمع ده. خُلق باطني اوصاف او خوئ ته وئیلی شي انسان دکردار له اعتباره د خپل اعمالو او اخلاقو نه پېژندی شي. چونکه مقصد د خدائ پاك رضا ده، نو کوم اوصاف چې خدائ ته خوښ دي هغه اخلاق حمیده او فضائل دي، لکه اخلاص، استغنا، سخاوت، تواضع، شُکر او دغسې نور اخلاق. د فضائلو ذکر ځائ په ځائ په قرآن مجید کښې شوي دي. الله تعالیٰ د هغې د اختیارولو حکم ورکړی. په تصوف کښې د اخلاق حمیده په حاصلولو او دوام خاص کوشش کېږي، چې مقامات جوړ شي.

اخلاص:

د رحمان کلام په دا سبب شېرین دی
چې ئې هرکلام کلام دی د اخلاص

پس له مرګه به دا مهر و اخلاص نه وي
که اخلاص کړې نن هنګام دی د اخلاص

فنا:

که په ځان باندې قدم کېږدي رحمانه!
نهه فلکه به دې لاندې تر قدم شي

چې د مرګ خواري په خوا لرم رحمانه!
لا پخوا تر دغه دمه ولې نه مرم

ځائ لري که ځان ژوندی په زمکه ښخ کړم
چې مې پس له مرګه ځائ دی یو مغاك

څو ترمېنځه ورانه نه کړي د تن پوله
وبه نه رسي تر خدایه تر رسوله

پس له مرګه که ژوند غواړې سرګیاه کړه
په پرېکړي سر بیانوې مر غزار شه

تواضع:

کمینې له جمله آفتو خلاص کړم
لکه خاؤرې د دښمنو په چشمان شه
که تن زمکه کړې زړه تخم باران اوښکې
لکه نخل به سر وکاږې له خاکه

ژوندی ځان په زمکه خښ کړه لکه تخم
که لویي غواړې د خاؤرو په مقام شه
ځان صدف غوندې و خاؤروته کړه څېرمه
لکه ځګ هسې د بحر په سر مۀ شه

رضا بالقضاء:

بې خیري مې کل په خیر باندې شمېرلې
د زمري په خوله کښې ناست یم فراغته

ستا له لاسه واړه ما له نافع دي
که مې زهر وي په زخم که مرهم وي

رضا ولې په قضا سپارلی نه شې
دغه زهر په ځان ولې شکر نه کړې

هر چې درشي ستا په مخ کښې
واړه وګڼه بهبود

رضا پاسله و قضا ته
مدام خوښ اوسه خوشنود

رضا پاسله و قضا ته فراغت شه
اوکۀ نور څه نور څه وایې ځان به خوارکړې

توکل:

توکل مې لاس و پښې سرۀ کړ په نکریزو
چې په ځای یې کښېنولی یم قرار
چې هزده هزار قومونه یې پیدا کړه
مربي مې دی هغه پروردګار
آب و خور لکه ګیاه په ځای را رسي
په خپل کورکښې مې سکون دی هم رفتار
لکه ونه مستقیم په خپل مقام یم
که خزان را باندې راشي که بهار
بې له خدایه نور د هېچا منت مه کړه
په وچ کاڼي باندې ونه دکهسار شه

استغنا:

دکاملې عقیدې له برکته
د دونهې په غاړه ناست شاه جهان یم
بادشاهي دګدایانو په دعا شي
زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم
په هجران کښې که ګدا وم کند په غاړه
په وصال کښې یې بیا خان او امرا شوم
ته زما و بې کسی ته نظر مه کړه
خدائ ساتلی لکه ګنج په بیابان یم

لکــه ونــه د ځنګــل پــه مېــوه پــوره
پــه ویرانــه ویرانــی کښــې آبــادان یم
و یــارانو وتــه خــاك تــر تلــي لانــدې
د دې نــور جهــان پــه ســر لکــه اســمان یم
د دلبــرو صــدقې لــره یــې غــواړم
هســې نــه چــې پــه دنیــا پســې زهیــر یم

قناعت:

قناعــت مــې تــر خرقــې لانــدې اطلــس دی
پــټ د درســت جهــان بادشــاه ظــاهرګــدا یم

قناعت مې هسې خوند په خوله کښې کېښود
دا وچ ټوك یې په دهن کښې انګبین شو

خدایــه ګــنج د قناعــت رحمــان تــه ورکــړې
چــې بــې ملکــه بــې حشــمة دولــت منــد وي

کــه لښــکرې د حــرص دربانــدې زور شــي
ســر دننــه پــه قلعــه د قناعــت کــړه

صبر:

صبر ونیســه پــه مــخ کښــې کــه مــراد غــواړې
هېچــا کــړے دغــه کــار پــه شــتاب نــه دی
صبر ونیســه پــه مــخ کښــې کــه مــراد غــواړې
پــه تلــوار بــه هــېڅ ونــه کــړې کــه تلــوارکــړې

شکر:

زه رحمــان لــه چــا شــکوه شــکایت نــه کــړم
نشــته بــل دوســت و دښــمن زمــا بــې تــا

پــه وصــال یــې منــت بــار اوســه رحمانــه
پــه صــدف کښــې دخــل نــه وي دګــوهر بیــا

زه رحمــان پــه خپــل اشــعار شــکرګــذار یم
چــې دا هســې رنــګ دېــوان مــې دی مونــدلی

د دې ســست بــدن منــت پــه رحمــان بانــدې
چــې لــه خپلــه دره تلــی نــه شــي بــل در تــه

دا پېنځــه ورځــې ژونــدون چــې غنیمــت دی
شــکرانه پــه دا نعمــت دکردګــارکــړه

سخا:

که یوه دانه د وږي په لاس ورکړې
هم دغه به دې توښه شي د عقبا
که یو څاڅکې اوبهٔ تږي لره ورکړې
د دوزخ او ستا ترمېنځ به شي دریا

ژړا:

تعجب زما په ډېرو اوښکو مه کړه
ما موندلی په دا بحرکښې ګوهر دی
زما اوښکې چې پیدا د زړه له نم شوې
لکه اور چې له کبابه نم اخراج کا
د رحمان خندا په اجر د ژړا ده
تازګي د ګل په قدر د شبنم وي
په خندا کښې مې ژړا ده لکه شمع
له عالمه پټ پنهم د ځان په ویر یم
د وصال مرغه د اوښکو دانو راکړ
لکه لعل و دُر په غاړه د خوبان یم

عروج و نزول:

لکه بار د ونې پوخ شي ځنې رېژي
زهٔ هم هسې بار تړلي سر براه یم
که یو ځله ترکماله ورسېږې
نور به غوښې د خپل ځان لکه قمر خورې

اخلاق رذیله نه بچېدل غواړم:

کوم اخلاق چې الله پاك ته خوښ نه وي هغې ته اخلاق رذیله وایي. الله تعالیٰ د اخلاق رذیله نه د بچ کېدو حکم ورکړی او نه بچ کېدونکی ګناهګار دی. د رذیله د اختیارولونه انسانانو ته انفرادي او اجتماعي نقصانات رسېږي او معاشره تباه کېږي. اخلاق رذیله لکه کبر غرور، ریا، دروغ، غیبت، حرص حسد وغېره دي، چونکه دا خصلتونه جبلي دي، نو بالکل ختمېدی نه شي. په تصوف کښې ددې دَ اماله یا د محل د بدلېدوکوشش کېږي او په مختلفو طریقو باندې د دوئ دکمزوري کولو او مضمحل کولوکوشش کېږي چې د دوی په تقاضا باندې بیا عمل نه کېږي.

کبر:

له لویی له سرکشی زما توبه ده
خدائ څوك مه کړه د اسمان په څېر نسکور
هسې مه وایه چې زهٔ یم په جهان کښې
پېدا کړی خدائ د سر دپاسه سر دی
سرهوا سرهوا مه ځه و آسمان ته
ته په اصل کښې له زمکې یې پېدا
سر دننه په ګرېوان کړه سترګې رو ښې
ډېر په پورته پورته مه ځه سر هوا
عاقبت به تورو خاورو لره ورشې
ځان به څو څنډې به ګوته له ترابه

ریا:

د ریـــا لـــه زاهـــدی زمـــا توبـــه ده
چې یې کاندي څوك په رسم و په عادات
زه رحمـــان لـــه ریـــا زهـــده پنـــاه غـــواړم
د ریـــا زهـــد عـــذاب دی هـــم عتـــاب
د ریـــا خرقـــه یـــې خـــدائ مـــه کـــړه پـــه غـــاړه
رحمـــان کـــوږ دســـتار تړلـــی قلنـــدر دی
د ریـــا تـــر نـــا قبولـــه عبادتـــه
د ساقي په مئیو مست و خراب خوښ یم
د ساقي لـه لاسـه هسـې پیالـه نـوش کـړه
چـې دې غـوڅ کـا لـه زړه خیـرې د ریـا

غیبت:

خـــدائ امـــان راکـــړه لـــه هســـې زندګیـــه
چـې تـه بـد وایـې لـه بـل بـل لـه تـا
کـه لـه خپلـه عیبـه ځـان ژغـورې رحمانـه!
د هېچـا لـه عیبـه مـه کـوه پوښـتنه
تـه چـې بـد لـه بلـه وایـې، زه وېرېـږم
چـرې خپلـه بـدي نـه کـړې معینـه
تـر هغـه بـه وړومبـی سـتا عیـب څرګنـد شـي
و هـر چاوتـه چـې کـړې د چـا غندنـه

کـه تـه نـه کـوې نظـر د چـا و عیـب تـه
هـر سـړی بـه سـتا د عیبـو پـرده دار شـي
کـه تـه دوه او درې عیبونـه د بـل شـمارکـړې
بـل بـه تاتـه هسـې وایـي چـې سـتا سـل دي

دروغ:

غـــزا وشـــوه کـــه ګفتـــار لـــرم پـــه ژبـــه
زۀ رحمـــان چـــې کـــردار نـــه لـــرم کـــذاب یم

د دېـوال پـه سـر بـه څـو ځغلـې تـرکومـه
دروغجـــن چـــې پـــه دروغـــه کانـــدي لاف

حرص:

ډېـر هـوا او حـرص مـه کـوه خـدائ یـادکـړه
دی کـــافي دی د عـــرب او د عجـــم

تـر حـرص بـه هورتـه بلـه بـلا نشـته
دا بـلا دې سـتا پـه خونـه شـوه نزولـه

◈◈◈

باب–۲

زه عاشق د رب یم

انسان د رب عاشق دی. د هغه وخت نه کله چې د ازل په ورځ الله تعالیٰ جمله روحونوته اووې: «اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ» زه ستاسو رب نه یم. نو هغوی په جمع اووې:« قَالُوْا بَلٰی» او ته زمونږ رب یې. دا د عشق ابتدا وه.

کله چې الله تعالیٰ زمکو اسمانونو او غرونو ته اووې چې زه تاسو ته یوه ذمه واري حواله کوم، څوك دې ذمه واري اخستو ته تیار دی، نو هغوی وېرېدل او انکار یې وکړو، خو انسان ته د عشق چسکه لګېدلې وه، ده بې پرواه دا ذمه واري قبوله کړه، لکه څنګه چې وایي:

آسمان بار امانت نتوانست کشید
قرعهٔ فال بنام من دیوانه زدند

چسکہ لگا ہے جام کا
ہے شغل صبح و شام کا
اب میں تمہارے کام کا
اے دوستو نہیں رہا

شاعر مشرق علامه اقبال هم وایي:

بے خطر کود پڑا آتش نمرود میں عشق
عقل ہے محو تماشائے لب باب ابھی

مولانا روم رحمه الله خو هر څه د عشق و محبت په غاړه کښې

اچولي دي.

شاد باش اے عشق خوش سودائے ما
اے طبیب جملہ علت ہائے ما
اے دوائے نخوت و ناموس ما
اے تو افلاطون و جالینوس ما

او بل شاعر وایي:

قلم بشکن سیاهی ریز و کاغذ سوز و دم در کش
حسن ایں قصہ عشق است در دفتر نمی گنجد

زه رحمان خو وایم چې:

دا جهان دی خدائ له عشقه پیدا کړی
د جمله ؤ مخلقاتو پلار دی دا

عاشقي په دنیا کښې یوه لویه پایه و مرتبه ده. ددې نه اعلیٰ روزګار اوکاروبار بل نشته. ولیان، غوثان، قطبان او اوتاد د عشق له کبله دي. عاشق د سرومال او ننګ و نام پرواه نه کوي، ملائیك د عشق له خونده خبر نه دی، زاهد خشك هم ددې په خوند پوهه نه دی ځکه خو:

ځکه زاهد زهد کړی د یو جنت دپاره
سربښندلی نه شي په اوربل د جانانه

دغه واړه کرامات د عاشقی دي
چې څوك قطب کا څوك غوث کا څوك اوتاد

اوس زمـا لـه ننـگ و نامـه سـره څـه دي
چـې دې نـوم د عاشـقۍ راباندې زبـاد دی

مرتبـه کـه سـتا د عشـق شـي ورڅرګنـده
ملائیـك بـه واړه وایـي کـه بشـر وی

بې رهبره د عشق په لارې تګ ګران دی. عاشقي آسانه مه ګڼه سربازي ده. د عشق په آدم خوروګردابونوکښې لامبو ده عاشقي به دې سپك لکه ښه کړي، څهره به دې زېړه تر زعفران د طاعون شي چې طبیبان او حکیمان به دې علاج نه شي کولی، که افلاطون غوندې هوښیار یې خو زر به لېونی شي.

عاشـقي چـې مـا ګڼلـه نادانـایي وه
اوس خبـر شـوم لـه دې خپلـې نـادانۍ

کښېوتم د عشـق پـه آدم خـوروګردابونـو
نـه پـه وړاندې تلی شم نـه پـه بېرتـه ګرېزان

رنځ د عاشقۍ چې ما ظاهرکړو و طبیب ته
هېڅ وئیلـی نـه شـي طبیبـان او حکیمـان

پـه جذبـه د عاشـقۍ بـه لېـونی شـي
که په قطع افلاطون غوندې هوښیار وي

کسب مې عاشقي ده :

زه پـه خپلـه پـه تـا نـه یم مئـین شـوی
سـتا لـه لـورې پـه مـا شـوې ده نـدا

زه پـه تـا بانـدې مئـین یم لـه ازلـه
نـه چـې کـړې مـې نـن ورځ ده ابتـدا

زه عاشـق یم سـروکـار مـې دی لـه عشـقه
نـه خلیـل نـه داودزی یم نـه مهمنـد

مـا بـې عشـقه بـل هنـر نـه زده ناصـحه!
بخښـنده شـه کـه نـادان یم کـه دانـا

زه بـې عشـقه بـل یـوکـارکـولی نـه شـم
ډېـر لـه عشـقه تښـتېده وایـي واعـظ

بې لـه عشـقه کـه مـې عیـب کـه مـې هنـر دی
نـه خبـر پـه عبـادت نـه پـه ګنـاه یم

مـا بـې عشـقه بـل څـه کـار نـه دی زده کـړی
چـې څـه دي هـم دادي واړه کـار زمـا

هـم یـې ونـه ښـود ماتـه
بـې لـه عشـقه بـل هنـر

چـې قـایم شـوم پـه مقـام د عاشـقۍ
هېـر شـه دلتـه واړه بـل مقـام زمـا

یـو وښتـه مـې د صـورت بـې عشـقه نـه دی
څوکیـدار پـه هـر نفـس د خپـل کـاروان یم

بې له عشقه چې مې پرې شه دپوزې
ګڼه نور له جملګي قیده آزاد یم

ای رحمانه! چې عاشق شي
ځان دې ژاړي کوك په کُوك

که د سر ښیندل دشوار په ما او تا دي
دا په عشق کښې سهل کار دی دشوار نه دی

معشوقه که د خپل سر په بها مومي
و رحمان و ته ویرې ده بها نه ده

معشوقې د عاشقانو دین ایمان دي
زه به چالره خپل دین ایمان ور نه کړم

معشوقې په محنت نه دي چا موندلي
مګر خدائ یې په رحمان باندې پیرزوکا

په رحمان باندې منت د معشوقو دی
د بې حسنو معشوقو منت بار نه دی

زه رحمان خو منت بار د عاشقی یم
چې مئین یې په دلدارکړ زما دل

عاشقانو باندې حق د معشوقو دی
حق به ولې په باطلو بدلوم

ستا د عشق تر تورې ککری د رحمان ځار شه
دا هم سهل کار دی زما یاره که په دا وی

د رحمان په عاشقی کښې سترګې وشوې
چې څوك وایي عاشق ړوند دی هغه خوار شه

❖❖❖

د دنیا له دولتونو بې پروا یم
زه رحمان د عاشقیه په دولت کښې

که چا لار د عاشقی ده ورکه کړې
زه رحمان دګمراهانو رهنما یم

نوکري د معشوقوکوم په عشق کښې
مهینې نه د بهلول نۀ د اورنګ خورم

زه د عشق په کارکښې تېر تر سرومال یم
دریغه که په سر مې دا مشکل کا خدائ اسان

ما سېوا له یاره هر چې دي رحمانه
واړه کفر دی په دین د عاشقانو

❖❖❖

عاشقي اعلی مرتبه ده:

عاشقي چې مې له خلقو په غلا غلا کړه
هغه غلا مې په تمام جهان رسوا شوه

د رحمان د عاشقی هسې غږ وشه
چې برپا یې شو هر شهرکښې شورونه

چا پېژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کښې
اوس مې ستا له رویه نوم رسوا په درست جهان دی

اوس زما له ننګ و نامه سره څه دي
چې دې نام د عاشقۍ راباندې زباد دی
عاشقي او صبوري سره دروغ دي
زۀ دا لافې په دروغ څرنګ وهمه
د رحمان دا پوچ ګويي څه په کار نه ده
عاشقي په ګفتار نه شي په کردار شي

❖❖❖

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په جهان نشته
تر همه کارونو غوره کار دی دا
عاشقي یوه پایه ده عجائبه
دغه کارکولی نه شي هم هر هر څوك
دغه واړه کرامات د عاشقۍ دي
چې څوك قطب کا څوك غوث کا څوك اوتاد
دا آسمان چې لوی په عقل کښې باله شي
په محیط د عاشقۍ کښې یو حباب دی
و اسمان ته لاس د عقل نه رسیږي
دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم ږدي
که روزګار دې په جهان کښې عاشقي ده
د دې نور عالم روزګار څه روزګا نه دی

که اعلی مرتبه غواړې عاشقي ده
نور همه واړه ادنٰی دي ادنٰی مه شې
عشق یو داد دی په عاشق باندې له خدایه
هسې نه چې و هر چاوته عیان شي
عاشقي که نورو خلقو ته خواري ده
ما موندلی دا دولت دی په خوارۍ کښې

❖❖❖

ملائك د عشق له غمه څه خبر دی
خو هم ماله دا سخت سفر پیدا شو
چې یې کسب عاشقي شوه د دلبرو
نظر نۀ کاندې په کسب د کیمیا
هر ساقي چې جام د عشق لري په لاس کښې
دا پیاله یې په مستانو ده مباحه
عاشقي سړی مجنون کاندي رحمانه!
ګنه څوك په هوښیارۍ ووځي له کوره
بې رهبره یون د عشق په لارې ګران دی
دلته بویه چې پیدا کاندي رهبر څوك
که د سر ښندل دشوار په ما او تا دي
دا په عشق کښې سهل کار دی دشوار نه دی

عاشقي کښې دپېغور اوملامته پرواه نه لرم:

عام خلق د رسم و رواج په پابندوکښې وي، چې دا ښه دی او دا خراب دی. عاشق که حقیقي وي اوکه دمجاز- سېوا د خپل معشوق د مرضي اوخوښي نه بل څه ته نه ګوري او د رسم و رواج پابندي نه کوي، نو خلق ورته پېغور ورکوي او ملامته پرې وايي.

زه یو خوار و زار یمه رحمان په عاشقی کښې
خپل دی که پردی دی راته نه ګوري له عاره

خو عاشق پخپله وايي:

که رحمان په عاشقی ملامت کېږم
ما په سترګو قبول کړی دا پېغور دی

زه عار نه لرم په عشق کښې له پېغوره
بې پروا یم د ستی په څېر له اوره

لکه څوك چې په خره سور وي مخ یې تور وي
زه هم هسې تر خپل خدائ پورې بې آب یم

راته وایه زه به هم هغه کومه
رقیبانو ته بخښې انعام په څه

زه د ستا په جفا خوښ یم تل ترتله
که غماز مې له دې رازه خبر نه کړې

◈◈◈

لور په لورې د تهمت په غونډو ویشتم
ملامت را باندې وایي درست جهان

چې دا حال ورباندې نه وي ورغلی
په ویل به څه ګروهیږي د رحمان

ملامت به په ما څه لره وایه شه
که د ستا له دلبري نه څوك خبر وی

که رحمان په عاشقی ملامت کېږم
ما په سترګو قبول کړی دا پېغور دی

په رحمان باندې به هېڅ ملامت نه کا
هر سړی چې ستا له حسنه خبردار وي

عاشقي آسانه مه ګڼه:

عاشقي اسانه مه ګڼه خبر شه
سربازي ده هر نفس په دا مېدان کښې

ورکه عاشقي شه هم یې نوم هم یې نښان
زه یې هسې خوارکړم لکه خاك د بیابان

کښېوتم د عشق په آدم خوروګردابونو
نه په وړاندې تلے شم نه په بېرته ګرېزان

عاشقي به یې د باد په مخ بنه کا
که چا ځائ وي کوه قاف غونډې نیولی

عاشـــقي چـــې مـــا ګڼلـــه نادانـــايي وه
اوس خبـــر شـــوم لـــه دې خپلـــې نـــادانۍ

د رحمـــان څهـــره يـــې زېـــړه تـــر زعفـــران کـــړه
خدائ زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

رنځ د عاشقۍ چې ما ظاهرکړو و طبيب ته
هـــېڅ وئيلـــی نـــه شـــي طبيبـــان او حکيمـــان

راشـــه عاشـــقي مـــه کـــړه رحمانـــه اوکـــه نـــه وي
تل به په اور ناست يې که بادشاه يې د جهان

دربغـــه نخـــل د عشـــق مـــه وی زرغـــون شـــوی
چـــې لـــه ښـــاخه يـــې د غـــم ثمـــر پېـــدا شـــه

هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي
زه خـــو يـــې مجنـــون ګـــنم کـــه نـــن وي کـــه ســـبا

عشق او عقل:

څـــو د عشـــق پـــه خـــم خانـــه يـــې داخـــل نـــه کـــړم
پختـــه نـــه دی دغـــه عقـــل خـــام زمـــا

هغـــه عقـــل چـــې مـــې لاف د خـــودرايۍ کـــړ
پـــه يـــوه پيالـــه د مئيـــو لمـــا يـــوړ

کـــه پـــه عقـــل پســـې لاړم پـــه کـــار نـــه شـــه
کـــه لـــه بختـــه مـــې يـــاري غوښـــته يـــار نـــه شـــه

تـــه نظـــر پـــه خپـــل هنـــر پـــه عقـــل مـــۀ کـــړه
دا اسـباب پـه عاشـقۍ کښـې اسـباب نـه دی

باب – ۳

زما کور و کلی

زه د ښار اوسېدونکی نه یم، بلکې د ښار نه بهر د پښتنو دیو ساده کلي اوسېدونکی یم، چې د اکثرو پیشه زمینداري ده. زمکه للمه ده باړه د اوبو واحد ذریعه ده. د پښتنو د معاشرې مطابق پرې جنبې، دښمني، غم ښادي، پښتونولي، ترکان، لوهار، نايي خان او نوکر د ژوند حصه ده. په دې وجه ځینې اوقات غېر پښتون زما په کلام او اصطلاحاتو نه پوهېږي. مثال په طور غېر پښتون په دې نه پوهېږي چې مطلب يې څه دی، لکه «باران په تېراه وشو او خرې يې د خالصې ويوړل»

يالکه د خپل زړه باره کښې وايم:

پـــه ژړا يـــې دمـــه کړمـــه ګنـــړي چـــوي
دی ودان دا پېښـــــور پـــــه دا تېـــــراه

ځکه چې د باړې اوبه د تېراه د بارانونو د وجې نه دي. ماسره د خپل کور اوکلي غم شته د هغوی په غم شريك يم او نه غواړم چې زما له طرفه هغوی ته څه تکليف ورسي.

دکلي د غم ښادۍ نه اوتی يم، نه دنيا لرم نه مال، نه مې چا سره څه روزګار شته، نه څه کار. خلق خپل روزګارکوي زه خپلو سوچونو کښې ډوب ناست يم. خلق ما پورې خاندي چې څه لېونی دی او زه په خلقو پورې خاندم چې څه د فاني دنيا په خاورو پورې نخښتي دي، خو بيا هم کلی زما کلی دی ماته ګران دی.

خـــدائ د وژغـــوره لـــه هـــر پرېشـــاني
ای زمـــا دکـــور وکلـــي ودانـــي
کـه پـه کلي کښې مې کـور دی زه ګمان کـړم
چې کـور نـه دی دامې ګـور دی پـه صـحرا
چـې د ورور آو د عزیـز زړه پـرې آزار شـي
حاصـل مـه شـه هغـه خپلـه مـدعا
ګـاه د نـورو رضـا بو یه ګـاهې خپلـه
پکـار نـه ده همېشـه خپلـه رضـا

❖❖❖

خـوب دکـور وکلـي پـه نـارو زمـا بـرهم شـه
څـه چـل دی چې نـه شـي ستاپه زړه اثـر زمـا
همسـایه مـې واړه اواتـه لـه خوابـه
کـه پـه سـل کوټـو دننـه کـړم زبیرګـي
لـه زبیرګـو نـه مې نـور خلـق پـه عـذاب شـو
تـل د وچـو لـه کبلـه سـوزي تانـدي

چرته خانان چرته ملنګان:

د دُنیـا خبـرې واړه پـه دنیـا شـي
مـا بـه څـۀ کـا څـوك چـې نـه لـرم دنیـا
کـه مـې څـوك پـه فقیـری شـمېري فقیـر یم
کـه مـې څـوك پـه امیـری شـمېري امیـر یم

زه دینـار او درهـم نـه لـرم پـه کـورکښې
ولـې نـور عـالم مـې بـولي دنیـادار
څـوك دې را کانـدې قسـم پـه کردګـار
کـه درهـم لـرم پـه کـورکښې یـا دینـار
د دنیـا پـه دولـت نـاز مـه کـړه رحمانـه
دا یـو مـوی دی پـه نظـر د مـوی شـګاف
کـه رحمـان سـره متـاع ددنیـا نشـته
شـکر دا چې نـه خـودرایې و نـه خـودبین دی
زرداران کـه او بـه څښـې پـه جـام د زرو
خـوښ زمـا دا خپـل د خـاؤروکنـډولی دی

❖❖❖

نـه شـي د ملنګـو د خانـانو سـره کلـي
چرتـه عزیـز خـان چرتـه ملنـګ عبـدالرحمان
کـه زردار دي اشـنایان د زردارانـو
د رحمـان د اشـنایانو تکیـه خـدائی دی
د دنیـا هـوس پـه مـا بانـدې حـرام شـه
د هوسـی هسـې کـړم شـپه پـه مېړتـون

❖❖❖

بار کښې کوږ لرګی یم:

په تـوده زمکـه اسـتوګنه ده مشـکله
څـه بـه زیسـت شـي د رحمـان سـره د چـا
تـر هغـه حـده پـه پورتـه بـد سـړی شـوم
چې د درست جهان په سترګو کښې اغزی شوم
تمـامي جهـان لمـن راڅخـه نغـاړي
سپین زړوکي مې اغوستي تورکودی شوم
دنیـا واړه سـره زبسـت و روزګـارکانـدې
خو یـو زه پـه دغـه بـارکښې کـوږ لرګـی شـوم
زه یو خوار و زار یمه رحمان په عاشقی کښې
خپل دی که پردی دی راته نه ګوري له عاره
خـدائی لـه هسـې زاوزاده امـان راکـړ
چـې بـې دیـن، بـې دیانـت شـي، بـې ایمـان

سرپیتوب:

نن زمانه کښې د ټولو نه کمیاب او نایاب څیز انسان دی. خاورې او اوسپنې ترقي وکړه په بره لاړل، خو انسان په ښکته لاړ. انسان اشرف المخلوقات دی. دنیا او ددنیا څیزونه دَ انسان دپاره پیدا دي، چې فایده ترې واخلي خو ددې نه بله بده ورځ به کومه وي چې انسان د څیزونو په خدمت کښې دهغې په صفاتو او اثراتو معلومولو کښې

داسې اخته دی، چې خپل خالق او دهغه صفات یې هېر کړي دي ورنه خو:

ابرو باده و ماه خورشید فلک در کارند
تا تو نانِ بدست آری و بہ غفلت نہ خوری

انسان ددنیا ډرائیور دی او دانسان ډرائیور د هغه زړه دی او د زړه د سمېدو او جوړېدو تعلق د الله تعالیٰ د تعلق سره دی. ددنیا ورانی او جوړښت په انسان پورې دی که انسان روحاني طور جوړوي، نو ټوله دنیا کښې په جوړښت وي ورنه ټوله دنیا کښې به ورانی وي. دانساني کمالاتو دپاره د خارجي څیزونو حاجت نشته دده خپل بدني اعمال دې دپاره کافي دي، ځکه خو زه وایم:

هلـه بـه سـړی شـې چـې دې نـوم عبـدالرحمٰن شـي
اوس سـړی پـه څـه یـې کـه دې لوسـتي زبـر و زور دي

ادمیـت څـه پـه دولـت نـه دی رحمانـه!
بُـت کـه روغ وي د سـروزور نـه انسـان شـۀ
واړه د خپـل ځـان پـه نظـرګـوره کـه دانـا یـې
ای عبدالرحمانه! جهان درست عبدالرحمان دی
اوس عطـا د آدمیـت رابانـدې وشـوه
چـې رحمـان د هغـه یـار دکـوڅې سـپے شـوم
اے رحمانـه! چـې بـد فهـم بـدکردار شـي
راتـه وایـه سـپی بهتـر دی کـه سـړی

که صورت مې د سړي دی زه یې څه کړم
په معنٰی کښې د چارپایو په حساب یم

د رحمان و توان ته ګوره هومره نازکړه
څه د اوسپنو روغ نه دی آدم زاد دی

که مې کم و بیش له لاسه واقع کېږي
یم سړی شکم لرم بې شکم نه یم

لکه ځان هسې و بل وته نظر کړه
لکه ستا دی هسې ځان دی د هرچا

❖❖❖

ته په اصل کښې سړے یې څاروی نه یې
د چارپایو چارې مه کوه دو پایه

په ظاهر لباس غلط د سړي مه شه
مېنځ یې ګوره له چغزي او له متاکه

سړی بویه چې درون بېرون یې یو وي
نه هغه چې بېرون زر وي درون لاك

له سرپه غرض واړه سرپتوب دی
نه چې پټ وي مس دَ زرو په لباس

خدائ و تاته د ملکو مقام درکړ
ته دا خپل صورت په خپله ګاو خرکړې

خدائ رازق ګڼم :

الله تعالیٰ قرآن کریم کښې په سورة قریش کښې فرمایي: چې ددې کور (بیت الله) د رب عبادت کوي، چې تاسو د لوږې نه خلاصوي او د خوف او یرې نه امان درکوي. که وګوری نو دا دوه د بنیادم غټې مسئلې دي. د لوږې نه به مړ شم او یا د نه امن د وجې نه به مړ شم، خدائ رازق منی خو رزق په اسبابوکښې ګڼی. د بزرګانو مشهوره مقوله ده: «اسباب بے کار نهیں لیکن اسباب پر مدار نهیں» اسباب خو هم د خدائ د حکم لاندې دی ځکه خو وایي:

یہ اسباب ئیں دست قدرت میں یوں
قلم دست کاتب میں جیسے رہے

بېشکه چې بغېر اسبابو توکل ډېر لوی شی دی، خو دا د هر سړي کار نه دی. دا د شاه غلام علي مجددي دهلوي غوندې خلق کولی شي چې بادشاه ورته د لنګر دپاره د څه ورکولو ووې، نو هغه ورته هم په هغه کاغذ د پاسه ولیکل:

ما ابرو ئی فقر و قناعت نمی بریم
با بادشاه بگوی که روزی مقرر است

ترجمه: زه د فقر او قناعت په آبرو داغ نشم لګولی. بادشاه ته ووایه چې د هر سړي رزق مقرر دی، خو رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم چې د خپل عام اُمت دپاره کومه طریقه خوښه کړې هغه داده: چې کله یو صحابي تپوس وکړو، چې د اوښ پښه وتړم

اوکه توکل وکړم ازادې پرېږدم، نو رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمایل: د اوښ پښه وتړه او بیا توکل وکړه. مطلب دا چې سبب اختیارکړه خو اعتبار په خدائ ساته. ځکه خو زه وایم:

خدائ د رزق په زېرمه مه هېروه کلك شه
تر سرې د سرې رزق دی مقدم
نهال په زړه د صبر نخل کړه رحمانه!
چې مدام د برخوردارو په څېر بر خورې
زهر ښه دي چې په صلح په صلاح وي
نۀ شکرې په فتنه او په غوغا
نس په خاورو په خس ډك ښه دی بې غمه
نه د غم په خارو خس پخه حلوا
ټوك روټی یوه شړی درلره بس ده
نور همه واړه اسراف دی مسلم
ګېډه وتړه په پړي سره کلکه
د روټی طمع مه کړه له فلکه
هر سائل چې سوال د نان کړه له آسمانه
ګویا غواړي په کچکول کښې اوږمکه

❖❖❖

خدائ رازق بولې او رزق ګڼې له کسبه
په دا شناخت و ځان ته وایې حق شناس
مدام اوښکې تویوې د رزق له غمه
دُرګوهر په بها پلورې ارزان ولې
چې د ټوك په طلب ګرځې خدائ دې هېر دی
فقیري دا هسې چرې وي فقیره
وېښته سپین سترګې تاریکې غاښ کنډاس
نه وکاږې ددنیا له چارو لاس
مړول د وږې ګېډې مشکل نه دي
مړول د وږو سترګو مشکل کار شي
هرګیاه له ځایه نه خوځي نم مومي
ته د رزق په طلب مړې جهان ولې
که ماښام له ستوني ښکته کړې حلوا
سبا خواست کوې له خدایه د ښوروا
تمام عمر تر اشنا تر عزیز پورې
یوې ګیډې مختورن کړې هم رسوا
مرتبه به دې د مچ او د مېږې شي
زړه په غوړو غوښو مه تړه همایه
څو دې تېره تلخایي تر ستوني نه شي
شېرینې به خوند در نه کا په دهان کښې

محتاج مه شې:

محتاجي د غنا او د خودی ضد دی. محتاجي د لالچ او حرص پرورش کوي. خدای د څوك محتاج نه کړي، ورنه دا حالت یې شي.

آن که شیران را کند روباه مزاج
احتیاج است احتیاج است احتیاج

احتیاج هسې بلا ده په جهان کښې چې پلار زوی کا د زوی. زوی د پلار چې چاته دی حاجت پېښ شي، نو نه سړی به هم درته لو یه بلا شي، ځکه خو وایي: "چې د چا لاس کښې کار وي هغه سرکار وي" ته به ورته صاحب صاحب وایې، ځکه خو زه وایم چې صرف د یو خدائ منت بار شه چې د نورو د منت نه خلاص شې.

په بزرګۍ د هغه پاك پروردګار
موقوف مه شه په سړي د سړي کار

په سړي چې د سړي غرض موقوف شي
نور بې آبه بې حرمته شي روزګار

احتیاج هسې بلا ده په جهان کښې
چې پلار زوی کا د زوی، زوی د پلار

که یو خس وي په محتاجو لکه غر شي
څوك دِ نه کا خدای محتاج دَ یوه خس

چې مې وینې ترو مې څه پوښتې له حاله
له عیانه احتیاج د بیان څه دی

زمکه للمه دهقان خوار:

زما دکلي خلق اکثرکاشتکار دي زمکه للمه ده څه لږ ډېر او به خور د باړې نه دی. د باړې او به د څښکلو ،اودسونو او نورو ضروریاتو غټه ذریعه ده، ورنه د باران په طمع ناست وي. زما شعرونه زما دکلي د بودوباش او دهقان نقشه پېش کوي:

د باغبان سترګې کا سپینې
چې تازه نخل نهال شي

روئیدن دکښت اسان دی
پرورش یې لوئے جنجال شي

هرچې کښت یې په باران و په سېلاب وي
د هغو عمر به واړه په عذاب وي

هغه ملك چې پکښې سېند او رود بار نه وي
دهقانان به یې همه خانه خراب وي

لا به کله بارانونه پرې نزول شي
چې نخیل و زراعت یې په سېلاب شي

د اوبو په غلا چې ورشي نۀ جاروزي
که ساکن د خانقاه او د محراب وي

د اوبو په وېش چې ورشي انصاف نۀ کا
که په لاس کښې یې ورقونه دکتاب وي

یو به نسي هېڅ بری له سري ورخه
پائناب سړی که زویه د ارباب وي

هسې رزق دې خدائ هېچا لره ور نه کا
که به رزق د چا په هسې رنګ اسباب وي

تر دا هسې زمینداره هغه ښه دي
چې نوکر د یوه تورکافرکلاب وي

باره وتره هاله کښت زراعت کړه
تقوی دار شه هله طمع د جنت کړه

هر چې کرکا د وربشو غنم غواړي
له خاطره دې بېرون کا دغه خیال څوك

زۀ په هجرکښې بې برګ و بې نوا یم
لکه کښت چې او به نه مومي شډل شي

عمر نمر دَ مازیګر دی:

هر بنیادم ته الله تعالیٰ یو خاص عمر ورکړی، چې هېڅ شان نه کمېدی شي، نه زیاتېدی شي. په دې محدود عمرکښې چې هغه څه وکړي هغه د هغه د آخرت سرمایه ده. مثال یې دګاډي دی چې هر منټ او هره ګېنټه دګادي ډبې دګاډي منزل ته روانې دی. په هره ډبه کښې تا څه واچول ښه دی که بد که خالي منزل ته به یې یوسي دعمر حقیقت به څوك ددې نه زیات څه بیان کړي.

لکه سیند د اباسیند په غورځنګ درومي
هسې یون دی په تلوار تلوار د عمر

سرکشي لري تر هسې حده پورې
چې نیوي نه شي هېڅوك مهار د عمر

چې سمند یې نه جلب لري نه واګي
خو به پرېوځي عاقبت شهسوار د عمر

په ساعت د سلوکالو یاري پرې کا
بې وفا دی هسې رنګې یار د عمر

عاقبت به د اجل په مقراض غوڅ شي
پیوسته به مدام نه وي تار د عمر

اوس مې ځائ په دا جهان کښې پاتې نه شه
خوځېدلی تر چهل وتر پنجاه یم

توره ږیره مې شوه سپینه زۀ حېران یم
چې رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل

هېڅ مې نه کړه په دا عمرکښې حاصل
هسې پاتې شوم مردود و ناقابل

زه توبه په هغه تېر عمر وکاږم
چې صرف شوے دے بې یاره په غفلت کښې

لکه شمع په ورځ مرمه د شپې سوځم
تمام عمر مې نقصان دی بې مخلصه

تېر شه درست عمر زما په دا هوس
که مې و پوښتی چې څوك یې یا څه کس

د هجران غمونو هسې په عذاب کړم
هغه عمر چې مې لږګاڼه اوس ډېر شه

که همه عمر مې یار په غېږکښې ناست وي
زه لـه غمـه بـه د هجـر پـه فریـاد یم

فرامـوش مـې دی د سـتا پـه مینـه ځـان
ځـان لا څـه دی بلکـې عمـر جـاودان

تمـامي عمـر د سـتا پـه طلـب ورك یم
لټـوم دې پـه هـر ښـار پـه بیابـان

❖❖❖

دراز عمـر مـې حاصـل شـه لـه راسـتیه
لکـه سـروه مـدام سـبز و تـازه پـایم

د خپـل عمـر شپې او ورځې چې په زړه کړم
هسـې درومـي ګویـا بهنـده او بـه دي

نـه دکـوره چرتـه ځـم نـه سـفرکـړم
بـې سـفره مـې غـوڅېږي لار د عمـر

بیـا ئـې وار پـه دا دنیـا نشـته رحمانـه!
پـه هـر چـا بانـدې چـې تېـر شـۀ وار د عمـر

زه مسافر یم:

دنیا تـه چې څوك هم راغلی بیا تـرې تللی دی. هېڅوك همېشـه پاتې کېدونکی نشـته. د حدیث مبارك مفهوم دی، چې د انسان مثال د مسافر دی چې په لارکښې د ونې سوري ته یوه شېبه کېني او بیا ترې روان شي، چې په سفر ځې ځان سره توښه واخله.

وړانـدې سـرائ لـره توښـه تـړه رحمانـه!
څـو سـفر دې کـړی نـه دی لـه دې سـرایه

د رحمـان د زړه دمـه پـه هېچـا نـه شـي
مسـافر غونـدې حېـران دی بـې مخلصـه

بـې درګاهـه یـې بـل ځـائ د رحمـان نشـته
پـه سـفرا سـتوګنه څـو مسـافران کـا

تـه چې لـه مـا ځـې زمـا د اوښـکو بـاران ګـوره
رُخ د سـفر هـېڅ نشـته پـه دا ګنـو شـېبوکښـې

مرګ حق دی:

د عمر او ژوند ختمېدو ته مرګ وایي. د اجل وقت مقرر دی چې نه وروستوکېږي نه وړاندې کېږي، سېوا د خدائ نه هېچا تـه پتـه نشته چې کله او په کومه زمکه به مري. مرګ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د دیدار او د خدائ پاك سره د ملاوېدو پل دی. د خدائ عاشقانو څه څه نه دي وئیلي.

خرم آں روز کہ ازیں منزلِ ویران بروم
راحتِ جان بطلبم و زپئے جانان بروم

د جانـان دیـدن دپـاره
زه محشـر تـه خوشـحالېږم

د مرګ په وخت کښې وچې شونډې، سترګوکښې اوښکې او په تندي نرمې خولې د الله تعالیٰ د رحمت علامتونه دي. اسلامي تاریخ د مرګ په وخت کښې د بزرګانو د عجیبه عجیبه حالاتو او واقعاتو نه ډك پروت دی.

موت حق ہے ایک دن دنیا یہ سب جل جائنگی

ځکه خو زه وایم:

هر جام و صراحي دې فلك مات کړ
څو به ګرځي په دا دور جام زما
زۀ رحمان به څو ژوندی په جهان ګرځم
چې په بلو لمبو څرخ لکه پتنګ خورم
خپل تابوت درته ولاړ زین کړی آس دی
تۀ په زېرمه د بل آس و د زین مۀ شه
چې د تن له سرایه درومي توښه واخله
تر دا سرای به هورته سرائ نشته محکم

❖❖❖

چې یې ته په دواړو سترګو ښکلولې
ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان
چې دا هسې عالم لاندې شه تر خاؤرو
د چا یاد دي ماا و تا غوندې سګان
پس له مرګه که ژوند غواړې سرګیاه کړه
په پرېکړې سر بیانوې مر غزار شه
ځائ لري که ځان ژوندی په زمکه ښخ کړم
چې مې پس له مرګه ځائ دی یو مغاك

نن سپېره په خاؤرو ډکه خوله بهتر یم
چې آخر مې دا خوراك دی دا پوشاك
ګویا شوي دي هغه چې شدني دي
زه پخوا تر هلاکته یم هلاك
چې د مرګ و تاخت و باخت وته نظر کړم
صورت و ښنم د مېړي په څېر پامال
په ژوند ومره چې د مرګ له غمه خلاص شې
اسان کار دې کړ په ځان باندې ګران ولې
عاقبت به د اجل په مقراض غوڅ شي
پیوسته به مدام نه وي تار د عمر

◈◈◈

باب – ۴

آدم په غم لړلئ

که اوګورئ نو د آدم علیه السلام او بني آدم په ژوند کښې غمونه او ژړا زیاته ده، خندا او خوشحالي کمه ده. او دا د هغه وخت نه ده دکله نه چې د آدم علیه السلام د خاورو خمیر شروع شو. ځکه رحمان وایي:

خاورې د آدم چې کړې خمیر فرښتګانو
درست یې په غمونو په دردونو ولاړه

د هغې نه پس چې کله د جنت نه زمکې ته راکوزکړی شو، نو د توبې د قبلېدو پورې آدم علیه السلام دومره ژړلي، چې د ټولو بنیادمو ژړا راجمع کړی د آدم علیه السلام د ژړا برابر نه ده. ماشوم چې څرنګ پیدا شي نو اول کار یې ژړا وي، بلکې ژړا د هغه داسې وسله وي چې هرکار پرې کوي، چې اوږی شي ژړا کوي، چې خوب ورځي ژړا کوي، چې خوږ شي ژړا کوي، چې بیمار شي ژړا کوي، چې څه غواړي ژړا کوي. په باقي ژوند کښې هم ژړا دده د ټولونه مضبوطه او ماثره وسله وي، چې کوم کار په بله طریقه نه کېږي په ژړا وشي. ددنیا جور و جفا، ظلم و ستم، جدایي او بېلتون د وسائلوکمیابي او نایابي، د بچو غمونه اوکوم کوم نېمګړتیاګانې دي چې انسان یې ژړا نه کوي، خندا و ژړا خو د هغې اظهار او نتیجه ده.

غم او خوشحالي ورور خور:

په دنیا کښې غم او خوشحالي دواړه چلېږي، کله غم وي کله خوشحالي، چرته ښادي. خو دواړه د یو بل ضد دي. الله پاك د هر څیز ضد پیدا کړی او د ضد په وجه د ښه څیز قدر سېوا کېږي. که تیاره نه وي د رڼا قدر به چرته وي، د صحت قدر د بیماري نه دی. که رانده نه وي نو د سترګو قدر به چا سره وی، خواصل مسئله دا ده چې که غم وي که خوشحالي د الله تعالیٰ د احکامو اطاعت او د نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم پیروي پرېښودل نه دي پکار. په اطاعت باندې استقامت اصل شی دی، چې کله د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اوښکې د خپل زوی ابراهیم په مرګ باندې روانې شوې، نو اصحابوکرامو عرض وکړو، چې یا رسول الله! تاسو خو مونږ ته وئیلې چې په مرګ باندې مه ژاړی، نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم وفرمائیل: اوښکې خو د چا په اختیارکښې نه دي، خو په خوله به مونږ هغه وایوکوم چې د خدائ رضا وي. دهغسې حضرت جنید بغدادي ته یوکس وې چې تاسره مې وخت تېرکړو، خو څه کرامت مې ونه لیدو. هغه ورته وې چې د سنت خلاف د څه ولیدل. وې د سنت خلاف مې څه ونه لیدل، نو هغه دا مشهور ملفوظ اووې: «الاستقامة فوق الکرامة» استقامت په اطاعت دکرامت نه ډېر اوچت دی.

پکار ده چې انسان د غم او خوشحالی په وخت کښې ثابت قدم وي. ثابت قدمي په خوشحالی کښې نسبتاً اسانه ده، خو په غم

کښې زور غواړي ځکه زما کلام د غم نه چاپېره ګرځي چې دې وخت کښې بنده ته د مدد ضرورت وي.

ما د یار د مینې غم پخپله خوښ کړی ددې لوئ غم دکبله نور غمونه هېر دي دا غم مې د سرتاج دی. که زه د غم آه فریاد کوم نو په دنیا کښې څوك دي چې بې غم دي، هېڅوك نشته.

زه یو دم دا ستا له غمه بې غم نه یم
بې غم ستا له ذکره فکره یو دم نه یم
نور عالم که د دنیا په ښادۍ ښاد دی
زما زړه دې مدام ښاد د ستا په غم وي
ما دې خدائ د ستا له غمه بې غم نه کا
تر هغه ساعته پورې څو مې دم وي
ستا په غم کښې چې ما وینې عالم ژاړي
ژړوې راسره نور عالم په څه

❖❖❖

دا دستور دی چې یو غم په سړي زور شي
نور غمونه یې همه شي تر پښو لاندې
بې له ما چې د ستا غم په هوس پېرم
کوم وګړي په هوس د غم سودا کړه
غم به هېڅ یوه هوښیار خوښ کړی نه وي
ما خوښ کړے دی ستا غم په هوښیارۍ کښې

که له غمه دې ونه مرم هاله وایه
چې یا دېو یم یا دوآب یم آدم نه یم
چې له غمه له اندوهه دې مړ نه یم
سنګ آهن یمه آدم نه یم ګویا زه
د یار غم لکه زمری را باندې راشي
خدائ دې پېښ په هېچا نه کاندي مزری
که مې زړه له غمه وچوي راته وایي
غم د هجر دغه مه ګڼه لا نور دی
لکه زه چې یې له غمه په عذاب یم
خدائ دې نه ږدي په چا هسې عذابونه
په ښادۍ ښاد شوې نه یم د هېچا
تور ټپ سوی یم په غم د هر اشنا
زه او یار چې سره خپل غمونه شمارکړو
یار و ماته حېرانېږي زه و یار ته
چې رحمان غوندې خورسند نه شي په نول کښې
خلاص به نه شي په هېڅ رنګ د زړه له نول

◈◈◈

په خاطر مې غلبه شو ستا غمونه
لږ د خدائ دپاره کېږده قدمونه
لکه زه چې ستا د غم پنډونه اخلم
هومره پنډ اخیستی نه شي پهلوان

د یار غم مې لکه تاج دی په سر ایښی
نور غمونه مې همه لاندې تر پښو دي
په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی
همېشه مې په زړه پروت انبار انبار دی
زه د ستا له غمه ژاړم واړه وینې
واړه وینې، واړه وینې، واړه وینې
هم په دا راته اسان شو نور غمونه
چې ستا غم د حد په هورته راته ګران دی
زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
برق و رعد چکاره دي، باران څه دی
بې غمي په دنیا چرې ده رحمانه!
یو بې غم دې څوك راوښیي کدام دی

◈◈◈

دا خو زه د ستا د غم سره لوبېږم
څوك له دېوه سره کا پهلوانۍ
هسې ډوب یم ستا د غم په دریاب تللی
چې ماهي غوندې بې تېغه یم کوټلی
زه رحمان یې هردم وینم ستا په غم کښې
که خپل مرګ په سترګو نه دی چا لیدلی

❖❖❖

که صورت مې په ظاهر روغ معلومېږي
زړه مې ستا له غمه چاودې دی نازنینې
زه رحمان په دا خبره حق حیران یم
نه پوهېږم چې د یار له غمه څه شوې
لکه مالګه چې څوك کېږدي په اوبو کښې
زۀ هم هسې سر زده یم په مثال
رحمان هېڅ له خپله ځانه خبر نۀ یم
چې دا هسې رنګ زبون و محزون چا کړم
د رحمان په ځېر ومه شه
حال احوال د چا تباه
خدائ و ما وته ګلونه د جنت کړل
که داغونه مې په زړه باندې د غم ږدي

زه مدام ژاړم:

ژړا په زړه باندې د ګذار خوړلو نتیجه او ردِ عمل دی. د ګذار خوړلو وجوهات مختلف کیدی شي. ژړېدونکي خلق د خدائ خوښ دي او قرآن کریم یې تعریف کړی دی. د حضور کریم صلی الله علیه وآله وسلم نه ډېر زیات د ژړا د فضلیت حدیثونه روایت شوي او پخپله هم ډېر ژړا والا وو. د پېغمبرانو د ژړا او واقعات حیرانوونکي دي. ژړا د صحابه کرامو او اولیاء الله د سحر ماښام مشغله وه.

ژړا په چپه خوله د خپل رنج و الم اظهار او د زړه ترجماني ده. ژړا د خپل فریاد رسي او د خلقو توجه حاصلولو ماثره او معجله طریقه ده. ژړا یو داسې ژبه ده چې تمامه دنیا پرې پوهېږي. ژړا د معرفت دلیل او د اهل معرفت د علاماتو نه ده ژړا ډېر لوی دولت دی،خوش نصیب دی هغه کس چاته چې حاصله ده، ځکه خو زه مدام ژاړم.

د رحمان اوښکې به څه رنګ په قرار وي
چا لیدلی دی دریاب په قراری کښې

زۀ چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
برق و رعد چکاره دي، باران څه دی

که ناري وهم که ژړام
پروا نه لري یو چوك

ای رحمانه! چې عاشق شي
ځان دې ژاړي کوك په کُوك

تعجب زما د ډېرو اوښکو مه کړه
ما موندلی په دا بحرکښې ګوهر دی

د وصال مارغه د اوښکو دانو راکړ
لکه لعل و دُر په غاړه د خوبان یم

زما اوښکې چې دا هسې شست و شوکا
دا محنت واړه زما د مخ آبرو کا

◈◈◈

له اوله ټټر ووهم بیا آه کړم
په نارو نارو خروس د صبح ګاه یم

د رحمان د سترګو نم به هاله وچ شي
که وچ شوی د چا نم وي له ناسوره

لږ یې وپوښته چې حال یې د زړۀ څه دے
د رحمان له سترګو څاڅي نم په څۀ

هېڅ اثر د رحمان اوښکې په یار نه کا
خدائ دې اوښکې د چا نه کا بې اثره

خراب زړۀ چې مې ژړل د یار له غمه
بیا په اجر د هغې ژړا خندان شۀ

◈◈◈

چې په وصل کښې یې اوښکې نه وچېږي
ترو به حال د رحمان څه وي په هجران کښې

زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
د رقیب کره هم ډول وي هم سندرې

همېشه د خپلو اوښکو له سېلابه
سرګردان یم تر فلکه و تر آسیا زۀ

ستا له ډېره ډېره جوره معلومېږي
چې به ما په خپلو اوښکوکښې لاهوکړې

د خپل یار له غمه درست په اوښکو ډوب یم
له دې هسې رنګ طوفانه وایم څه
څوك د غم زما د ډېرو اوښکو نه کا
کم به نه کا په خوردن سره ندی
که څوك قیاس زما د ډېرو اوښکو وکا
هسې ګرځم لکه خس پاس په دریا زۀ

◈◈◈

سترغلي مې د فراق په ژړا شنه شول
د سبزۍ اثر یې پاڅېده له آبه
هومره اوښکې مې بهېږي په رخسار
چې غرقاب مې هم ګرېوان دی هم کنار
په ګرېوان یې تل د اوښکو باران اوري
نه ورکېږي د رحمان د زړه غبار
په ژړا مې د خپل یار دیدن حاصل کړ
د شبنم په څېر د ګل سره یکتا یم

◈◈◈

خندا او ژړا:

خندا د خوشحالۍ او ژړا د خفګان علامت دی. دواړه خور ورور دي کله خندا وي کله ژړا. دخندا وجوهات د ژړا ضد دي د دواړو طبیعاتي محرکات او اثرات هم جدا جدا دي. د ډېرې خندانه پس دانسان طبیعت مړاوی شي خو د ژړا نه پس طبیعت کښې سکون او آرام راشي او لکه یو درونډ پیټی یې داوړونه کوز شي. زنانه ژاړي هم زیاتی او اثرات پر هم زیات وی د سړو مقابله کښې.

زه چې ګورم نو دنیا کښې یا خندا ده یا ژړا ده. حالات او واقعات خدائ پاك راولي چې ژړول یا خندول کوي.

یا خندا ده په دنیا کښې
یا ژړا ده په وایی وایی
تر دا دوه چارو په هورته
نور څه نشته په دا سرائ
واړه ته یې خندول که ژړول کړې
زه به خپله نه ژړا کړم نه خندا کړم
هم هغه مې ژړوي چې خندوي مې
نور څوك نشته د رحمان فریادرس
د رحمان خندا په اجر د ژړا ده
تازګي د ګل په قدر د شبنم ده
په خندا کښې مې ژړا ده لکه شمع
له عالمه پټ پنهم د ځان په ویر یم

مـــا دا ســـتا جـــورو جفـــا دي قبـــول کـــړي
ولـــې نـــه شـــي د ژړا پـــه ځـــائ خنـــدا
هـــېڅ خنـــدا مـــې لـــه دې خلقـــو ســـره نـــه شـــي
ژړوي مـــې هغـــه تللـــي تللـــي خلـــق
ســـتا کتـــو مـــې عجـــب زخـــم پـــه زړه وکـــړو
چـــې هـــم وینـــې تـــرې بهېـــږي هـــم خنـــدان دی

خوب خندا مې نشته:

خوب او خندا د خوشحالۍ او بې غمۍ علامت دي چې څوك په غم اخته وي او یا یې زړه په تراره وي. هغه نه خاندلی شي او نه ورله خوب ورځي چې خوب نه راځي نو پاڅم کله شپېلۍ راواخلم کله رباب اوکله کتاب، خو درد مې هېڅ نه کمېږي د زویرګونه مې ګاونډیان بې خوبه وي څه وکړم.

خـــوب خنـــدا لـــه بـــې غمیـــه شـــي رحمانـــه
څوك چې ستا په څېر غمژن وي څه به خوب کا
چـــې پـــر غـــم غلطـــوم د شـــپې پـــاڅم
کلـــه مـــې پـــه شـــونډو ږدم کلانـــی
ګـــاه کتـــاب کلـــه ربـــاب پـــه لاس راواخلـــم
بـــاري غـــم مـــې پـــه هـــېڅ رنـــګ نـــه کـــا کمی
همســـایه مـــې واړه اووتـــه لـــه خوابـــه
کـــه پـــه ســـل کوتـــو دننـــه کـــړم زبیرګـــي

زه رحمـــان بـــې یـــاره خـــوب و خنـــدا نـــه کـــړم
بـــې ده نـــه دي خـــوب خنـــدا پســـندلي مـــا
د رحمـــان بخـــت بـــه هالـــه لـــه خوبـــه وېښ شـــي
کـــه تـــه ســـترګې ورتـــه پورتـــه کـــړې لـــه خوابـــه
پـــه رحمـــان بانـــدې بـــې یـــاره خـــوب حـــرام دے
کـــه یـــې ســـل بالښـــته لانـــدې تـــر پهلـــو کـــړې
خـــوب خنـــدا پـــه بـــې غمـــي کېـــږي رحمانـــه
څوك چې تا غونډې غمژن وي څه به خوب کا

◈◈◈

خـــوب خنـــدا پـــه بـــې غمـــي کېـــږي رحمانـــه
چـــې پـــه زړه یـــې غـــم دیـــار وي څـــه بـــه خـــوب کـــا
خـــوب خنـــدا د بېلتانـــه پـــه مزکـــه نشـــته
څـــه آرام بـــه پـــه دا دشـــت کـــر بلا کـــړم
لکـــه بُـــت چـــې پـــه رڼـــو ســـترګو وده وي
هســـې زه پـــه بیـــداری کښـــې وړی خـــواب یم
خـــوب دکـــور وکلـــي پـــه نـــارو زمـــا بـــرهم شـــه
څـــه چـــل دی چـــې نـــه شـــي ستا پـــه زړه اثـــر زمـــا
تـــل دې ستا د خـــواب الـــودو ســـترګو خـــواب وي
چـــې فتنـــه پـــه خـــوب اوده شـــي ډېـــر ثـــواب وي
غرونـــه غرونـــه خـــوب پـــه څـــاڅکي اوبـــو تښـــتي
یـــار پـــه ســـیند زمـــا د اوښـــکو بېـــدار نـــه شـــۀ

د سپلاب په مخ کښې کله د چا خوب شي
شپرین خوب را څخه ډېرې ژړا یوورې
ستا دې خواب آلودو سترګو خواب راڅخه یوورې
لبو دې لذت د مئیو ناب راڅخه یوورې
لکه تښتي وحشیان له مردمانو
هسې و تښتېدو خواب زما د سترګو
ته چې خوب غواړې په عشق کښې راته وایه
کوم چا کړے د مزري په خوله کښې خواب دے

❖❖❖

د چا آزار نه اخلم:

د چا زړه آزارول غټه ګناه ده ځکه چې زړه د خدائ پاك مسکن دی، لکه چې یو شاعر وایي:

ڈہادے مسجد ڈہادے مندر ڈہادے جو کچھ ڈہیندا
اک بندے دا دِل نہ ڈہاویں رب دلاں وچ رہیندا

او د فارسي شاعر وایي:

مباش در پی آزار ہرچہ خواہی کن
کہ در شریعت ما غیر ازیں گناہے نیست

څوك مه آزاروه نور چې هرڅه کړې، ځکه چې زما په شریعت کښې دې نه بله ګناه نشته. او دا ښکاره ده چې بل آزارکړې نو ته ښادي نه شې موندلی.

معشوقې همېشه ناز په عاشق کاندي
رحمان هېڅ له خپله یاره آزار نه دی
ما خو نه دي څوك بې وجهې آزارکړي
دا چې ما آزاروي آزار د چا دی
خدائ دې یو له بله هېڅوك آزار نۀ کا
اې دلبره! ماخله ته آزار زما
په آزار د چا راضي مه شه رحمانه!
که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه
سهل کار دی که رحمان په زړه آزار شوم
چې خاطر د هغې مستې آزار نه شه
په رحمان باندې بې یاره هسې حال دی
لکه حال د زندانیانو په زندان کښې
بې سببه چا آزار موندلی نه دی
تا په څه سبب آزارکړ زما دل
د هجران په بیماری کښې را معلوم شه
چې اخستی مې آزار د پلار و مور دی
په یاری کښې ازار نشته خدائ دې نه کا
که ذره به زما زړه له تا آزار وي

درد مې نه کمېږي:

درد به مې څنګه کم شي چې نیکه مې له ازله په دردونو لړلی

شوی وو.

خـاؤرې د آدم چـې کـړې خمیـر فرښـتګانو
درسـت یـې پـه غمونـو پـه دردونـو ولاړۀ

چې زړه دردمند شي نو د بدن نه ددردونو څرېکې راخېژي.

درد دل سینے میں رہ رہ کے ٹھیر جاتا ہے
جو نہ ٹھیرے مجھے وہ درد خدایا دے دے

دا سـتا درد بـه پـه هـزار درمـان ور نـه کـړم
دانسـته بـه دغـه سُـود پـه زیـان ور نـه کـړم

کـه لـه ډېـره درد و غمـه مـې زړه چـوي
ورتـه هـېڅ دی زمـا درد او زمـا دوك

چې هېڅ ترس په زړه کښې نه لري رحمانه!
دا نـاترس او بـې پـروا نګـار د چـا دی

درد و آه وکـاږم پـه بهانـه د تمـاکو
سـوی لـوغړن مـدام پـه نـار یم سـتا د مـخ

کلـه بـې دردانـو لـره زړه د چـا وردرومـي
زه بـه صـدقه کـړم سـل بـې درد تـر اهـل درده

زه د یـار پـه درد و غـم کښـې شـادمان یم
لکـه ګـل د پریشـانۍ پـه وخـت خنـدان یم

دا سـتا درد بـه پـه هـزار درمـان ور نـه کـړم
دانسـته بـه دغـه سُـود پـه زیـان ور نـه کـړم

سـتا پـه درد کښـې طبیـب وایـي رحمـان تـه
لا بـه ښـه وه کـه دې حـال تـر دا بتـر وی

❖❖❖

د یار جفا وفا ګڼم:

د قیامت په ورځ به د ټولونه سخته سزا داوي چې الله پاك د چانه مخ واړوي او دیدار ورنه کړي. د عاشق دپاره د یار بې رخي، بې توجهی او بې پروایي د ټولونه زیات سخت ساعت دی او هم دغه جفا ده چې د وفا ضد دی. دا دومره سخت دی چې:

مـا رسـتم د دهـر ولیـده پـه سـترګو
د خپـل یـار لـه جـوره ژاړي لـه کونـډه

خو ماته د یار د لاسه جور و جفا هم خوښه او د سر تاج دی.

زه رحمـان یـې تـاج ګـڼم د یـار لـه لاسـه
کـه مـې پنـډ پـه سـر د جـور و د سـتم ږدي

هـومره جـور لکـه یـار لـه مـا سـره کـا
یـاد مـې نـه دی هـومره جـور د اغیـار

سـتا لـه ډېـره ډېـره جـوره معلـومېږي
چې بـه مـا پـه خپلـو اوښکوکښـې لاهـوکـړې

کـه بـلا ده کـه جفـا ده کـه وفـا ده
دا همـه واړه پـه مـا کـړه خـدائ نـازل

تـه چـې ماتـه وایـې چـې پـه څـۀ کـوې ژړا
نـه در معلـومېږي دغـه خپـل جـورو جفـا

ته جورو جفا کړې زه ژړا کوم دلبره
ستا که دغه نه وی دا به هم نه وی زما

جور و جفا څوك په بها پلوري
زه یم د جورونو خریدار ستا

په اخلاص او په راستی ورته ولاړ یم
یار جفا هومره په څه که الغیاث

ډېر مخونه د جفا دې را څرګند کړه
لا به کله را څرګند کړې د وفا مخ

که ته سل ځله له ما سره جفا کړې
ستا جفا واړه وفا ده جفا نه ده

◈◈◈

زه و تاوته د ستاله جوره ژاړم
ته راواخلې سل ګیلې نادرې نورې

اوس د ستا رضا جفا کړې که وفا کړې
ما د ستا جفا قبوله په وفا کړه

زه د ستا په جفا خوښ یم تل ترتله
که غماز مې له دې رازه خبر نه کړې

ګذشته جور و جفا دې آواره وي
که دا جور و جفا بارې دیګر نه کړې

په جفا و په وفا یې لارغه نه شي
پُر حذر د ناز پرور په کړی داد یم

ته خپل جورو جفا څه وایې وما ته
ما همه واړه لیدلي دي پوهېږم

څو به صبر په جفا د یارکومه
څو به موم د نمر و مخ ته ګرځومه

که یار سل ځله جفا ورسره کاندي
د رحمان دا هسې کله اعتبار دی

که یار سل ځله جفا راسره کاندي
زما کله په جفا د یار باور شي

زۀ رحمان له یاره خوښ یم که جفا کا
که جفا نه کا وفا کا څو تېری دی

زه رحمان د زمانې له جوره درومم
خپل صاحب لره په داد او په فریاد

هسې تغافل کا ستا په جور په جفا کښې
خلق حېرانېږي د رحمان په تغافل

◈◈◈

خوله پټه بهتره ده:

اګرکه ددنیا تماشې چرچې غلغلې او هنګامې دګویایي د وجې نه دي، نو خاموشي هم د لوی نعمت نه کمه نه ده،لکه چې حدیث مبارك کښې وایي: که چا د دوه څیزونو دکنټرول او حفاظت ضمانت راکړو، زه به د جنت ضمانت ورکړم. یو هغه چې د دوو جامنو په مېنځ کښې دی. یعنې ژبه او بل چې د دوه خانګو په مېنځ کښې دی. یعنې "شرمګاه". پښتانه وایي: "خپله ژبه هم قلا ده هم بلا ده" څوك چې د خاموشي په خوند خبر شي د مخلوق نه بیا لرې تښتي.

دِل ڈھونڈ تا ہے پھر وہی فرصت کے رات دن
بیٹھا ہوا تصور جاناں کئے ہوئے

بڑی پرکیف ہوتی ہے میری فرصت کی خاموشی
بہت مصروف رکھتا ہے دِلِ با ماجرا مجھ کو

بفراغ دل زمانے نظر بہ ماہ روئے
بہ ازآنکہ چترشاہی ہمہ روز ہائے ہوئی

او بل شاعر وایي چې په زړه کښې مې داسې درددی که

وایم نو ژبه مې سوزي که نه وایم نو هډوکي مې سوزي.

مرا دردیست اندر دل اگر گویم زبان سوزد
و گردم در گشم ترسم که مغز استخوان سوزد

آخري خبره داده چې ښه وئیل ښه دي خو د نه وییلو برابر نه دي.

زه مکتوب غوندې په پټه خُلۀ ګویا یم
لا ندې کړله خاموشي غوغا زما
څه شوکه خاموش یم ستا د عشق له آه سرده
ستا زما له مینې خلقه واړه خبر ده
عشق د بوئ په څېر په پټه خوله څرګند وي
په دا چاروکښې غوغا څه په کار نه ده
خاموشي که هرڅو لویه مرتبه ده
زه له یار سره په سوال و جواب خوښ یم
په هر غم کښې خاموش اوسه اوکه نه وي
د بدخواه خاطر په ښاد دوست به ازارکړې
د سکوت په تېغ چې ژبه بُریده شي
لا قلم غوندې په قال کښې دویده شي
چې د آه و د فریاد طاقت یې نه وي
هر سکوت دبې طاقتو آه فریاد دی

فراق رحمان:

د خپل یار نه جدا کېدل او نه لیدل جدایي، بېلتون او هجران دی. په شاعري کښې حقیقي وي اوکه مجازي د هجران او بېلتانه ذکر د شاعر پسندیده مشغولا ده او د خپلو خیالاتو اَسونه په کومو کومو اُسمانونو زغلوي، لکه یو شاعر وایي:

ہجر نبی میں آہ کہاں بی اثر گئی
تڑپے جو ہم یہاں تو مدینے خبر گئی

حضرت شمس تبریزي چې کله د حضرت مولانا رومؒ سره ملاؤ شو او د مولانا رومؒ په زړه کښې یې د محبت زنړي زرغون کړه.

کاشتی در جان من تخم محبت کاشتی
آخرش کردی ہمہ کاری کہ در دل داشتی

نو شمس تبریزي غیب شو. مولانا روم درس اوکتابونه پرېښودل او د شمس تبریزي په تلاش کښې د فراق په اورکښې سوزېدو.

مثنوي د مولانا روم دکلام یوه شاعري مجموعه ده چې ټوله د فراق په زمانه کښې لیکلې شوې. مولانا روم به اشعار وې او د هغه مرید حسام الدین چلپایي به لیکل.

د هجران د سختۍ نه بل غټه سخته نشته، چې په لحد کښې هم نه هېرېږي. د هجران ګذارونه د تیرو تورو، سېلابونو او د سور تنور نه زیات سخت دی، ځکه زه په وصل کښې هم د هجر غم وړی یم. په هجرکښې مې خوب، خندا، خوراك خراب شي اوکور کلی او وطن راته تنور شي.

چې یې پور د مرګ تر پوره لا بدتر دی
هې توبه د بېلتانه له بده پوره

غم د هجر چې تیرې تر اور سخت دی
له دې غمه مې په امن په امان کړې

چې مې نوشه د هجران پیاله کړه تلخه
د وصال لذت مې کُل زهر وګنډېر شه

یاره! ستا په جدایۍ او په ډېر غم کښې
سیند د اوښکو درومي په رُخسار زما

د وصال شپه مې بدله په بېلتون شوه الغیاث
د قیامت خواري راپېښه په ژوندون شوه الغیاث

د وصال په طمع طوق د جدایۍ شو را په غاړه
هغه طمع چې زما وه اوس طاعون شوه الغیاث

بېلتانه یې پېښور راته تنورکړ
له خېبره تر اټکه الغیاث

◈◈◈

که څه وایم له هجرانه وایم څه
له دې درده بې درمانه وایم څه

زه چې پروت یم د هجران په تناره کښې
د وصال له ګلستانه وایم څه

چې مې یو نفس وصال ورسره وشه
واړه اجر د هجران مې دی مونډلی

سخت ساعت د بېلتانه به مې هېر نه شي
که را ډکه شي د تور لحد ګورهنده
چې په وصل کښې یې او ښکې نه وچېږي
تروبه حال د رحمان څه وي په هجران کښې
ډېر غمونه د هجران راباندې تېر دي
اوس یو دم راباندې ګران دی بې مخلص
رحمان ګرم دی چې نارې د هجران اوري
و آشنا وته کاته په ځیر ځیر نه کا
جدايي زما په زړه کا هسې چارې
لکه باز چې په تارو او په دراج کا
که په هجرکښې څوك پوښتنی شي له حاله
حال خو دادی چې ناتوان یم بې مجاله
په دنیا په آخرت مې دې خدائ نه کا
بې نصیبه د مهرویانو د وصاله
بېلتانه دِ هسې خوارکړ زما دل
چې له ځانه یې وېزارکړ زما دل

◈◈◈

د وصال په یوه کال مګر برپائ شم
د هفتې په هجر هسې بې بنیاد یم
په وصال کښې مې د هجر طمع نه وه
حق حېران متحیر په دا فساد یم

هم په دا چې له خودیه شم بې خوده
د هجران په غم کښې لپې لپې بنګ خورم
جدائي د اشنایانو هردم کاندي
په رحمان باندې د تُوروګذارونه
سر د رحمان درومي د هجران په تېره توره
ته یې نګهبان شې یاالله العالمینه
څو به شمېرم درد غمونه د هجران
هومره ډېر شو لکه رېګ د بیابان
تور لېمه مې د فراق په ژړا سپین شو
دوباره د زړه په وینوکښې رنګین شو
چې زما دیار تر منځه جدايي کا
کاڼی پریوتی په خونه د بدانو
ډېر یاران ور څخه بېل شو هېڅ ګرم نه دی
که رحمان له جدايي نه په فریاد وي
زه په وصل کښې خواري د هجران ژاړم
د هرکار فکر ترکاره لا پخوا شي

◈◈◈

د هجران په بیماری کښې را معلوم شه
چې اخستی مې آزار د پلار و مور دی
خوږ ژوندون مې جدايی هسې تریخ کړ
چې د غم له تلخی دم نه شم رانغړی

لــه احوالــه یــې ورو ورو پښــتې یــارانو
بېلتانــه د رحمــان وار دی خطــا کــړی
چــې بېلتــون پــه ســترګو وینــې اشــنایي کــا
د رحمــان پــه څېــر بــه نــه وي بــې بصــر څــوك
زه رحمــان د بېلتانــه ســېلاب یم وړی
کــه لاس را کانــدي د خــدائ پــه محبــت څــوك
کــه وصــال مــې د یــار بیــا مونــد هالــه ســیال یم
ګڼــه نــه یم زه رحمــان د هېچــا ســیال
بــې صــبرۍ د یــار پــه وصــل کښــې مهجــورکــړم
د پســرلي پــه مرغــزارکښــې وچ ګیــاه یم
چــې همــېش پــه غــوږ نعــرې د هجــران اورم
رحمــان ځکــه د خپــل یــار و مــخ تــه ځیــر یم
زۀ رحمــان د بېلتانــه لــه غمــه ژاړم
واقعــه ده ډېــره ســخته هــېڅ ګــرم نــه یم

◈◈◈

د وصــال د لالان کــوم طــرف تــه غــواړم
چــې بنــدي شــوم د هجــران پــه کچــرۍ
چــې دې وصــل او هجــران وتــه نظــرکــړم
زه ګومــان کــړم جنــت دادی ســقر دا دی
ســتا پــه یــادوکښــې رحمــان هســې مشــغول دی
چــې پــه زړه کښــې یــې هــېڅ غــم د وصــال نشــته

زړه کــه چــاؤد وی هــم لــه دې غمــه بــه چــاود ؤ
چــې د یــار د بېلتانــه خــوارۍ پــه زړه کــړم

سحر ماښام هم ژړام هم دعا کړم:

سحر ماښام مې سېوا د ژړا او د یار د صفت او ثنانه بل کار نشته، چې د یار ثنا نه کړم نو د چرګ او چیندخ نه هم راته ځان ښکته ښکاري، چې هغوی سحر سحر نارې وهي او زه اوده یم.

زه هــر صــبح و شــام دعــا کــوم و تاتــه
تــه و ماوتــه کــوې دشــنام پــه څــه
هســې یــاد یــې همېشــه مــدام زمــا
چــې اورا د یــې پــه هــر صــبح و شــام زمــا
زه بــه ولــې د خپــل یــار ثنــا نــه وایم
چــې ســحر ســحر نــارې وهــي تــل غــوك
چــې پــه هــر ســحر زمــا پــه ژړا خانــدي
لــه دې هســې صــبحدمه ولــې نــه مــرم
شــام ســحر زمــا دا ســتا زلفــې رخســار دي
هــېڅ مــې مــه پوښــته لــه شــامه لــه ســحره
هــر بېګــاه وایــې چــې خولــه بــه ســبا درکــړم
دا بېګــاه بــه پــه رحمــان کلــه ســبا کــړې

لـــه اولـــه ټټـــر اووهـــم بیـــا آه کـــړم
پـــه نـــارو نـــارو خـــروس د صـــبح ګـــاه یم

ارماني یم :

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یوه دایره راښکله او په هغې کښې یې د یو غاړې نه بلې غاړې پورې یوه کرښه راښکله چې دا د انسان ژوند او عمر دی چې په دې دایره کښې محدود دی. بیا یې وړې وړې کرښې نورې راښکلې چې دا ددنیا حوادث دي او یوه کرښه یې داسې راښکله چې د دایرې نه بهر اووتله. وې فرمائیل: دا د انسان خواهشات، آرزوګانې او ارمانونه دي، چې د خپل ژوند او عمر د حدنه هم بهر وتي دي، چې کوم خواهشات او آرزوګانې پوره نه شي نو ارمانونه شي.

ہزاروں خواہشیں ایسی کہ ہر خواہش پہ دم نکلے
بہت نکلے میرے دِل کے ارمان پہر بھی کم نکلے

دنیا او د دنیا څیزونه فاني دي. هر هغه شی چې جدا کېدو او ختمېدو والا دی د هغې ارمان به وي، خواه ځان دی که جهان دی. صحت دی که نعمت دی، مال دی که دولت، یاران دي که دوستان.

دا دنیـــا پـــه مثـــال پولـــه مـــرګ ســـېلاب دی
د ســـېلاب پـــه مـــخ کښـــې څـــه پولـــه اېښـــودی

درېغـــه یـــو ځلـــه خـــو بیـــا پـــه جهـــان راغـــی
لـــه جهانـــه پـــه ارمـــان وتلـــي خلـــق

هـــزار حیـــف دی چـــې پـــه خـــاؤرو کښـــې لاړه شـــي
پـــه چـــووه او پـــه چنـــدن لړلـــي خلـــق

هســـې زر زر مـــرګ پـــه مـــونږه شـــتابي کـــا
لکـــه لـــو د پاخـــه کښـــت کـــا دهقـــان زر زر

د بنـــو ځنبـــل هـــم هســـې زر زر نـــه وي
لکـــه درومـــي لـــه جهانـــه رحمـــان زر زر

تېـــر ســـاعت بـــه د هېچـــا پـــه لاس کښـــېنوځي
اوس بـــه څـــه وایم و چاوتـــه چـــې تېـــر شـــه

اوس کـــه لاس پـــه بلـــه مـــرم هـــېڅ ســـود نـــه کـــا
هغـــه چـــار چـــې مـــې لـــه لاســـه شـــوه بېـــرون

درېغـــه یـــو ځلـــه هغـــه زمـــا پـــه حـــال شـــوی
چـــې و ماتـــه لولـــوي صـــبر و ســـکون

◈◈◈

کاشـــکې زه خـــاؤرې ایـــرې د ســـتا در وی
چـــې قـــدم دې همېشـــه زمـــا پـــه ســـر وی

خـــو یـــو ځلـــه زمـــا ســـتا وبلـــه مـــخ وی
نـــور مـــې موخـــه ســـتا د غشـــو پـــه ټټـــر وی

زۀ رحمـــان د یـــار پـــه ښـــه او بـــد پـــوهېږم
کاشـــکې زهـــر پـــه دهـــن د چـــا عســـل شـــي

کـــه ســـتا ســـترګې دي قـــاتلې زه مقتـــول یم
وایـــه نـــور دې پـــه خـــاطر کښـــې ارمـــان څـــه دی

تـــه چـــې دا رنګـــې اوږدې اوږدې وعـــدې کـــړې
کاشـــکې راکـــړې و مـــا خـــط د امـــانۍ

باب – ۵

مینه کوم مئین یم

محبت د انسان په ختهٔ کښې اغږلی شوی دی. د ازل دَ هغه وخت نه کله چې ده اووې «قالو بلیٰ» د اٰدم علیه السلام توبه وښکل د محبت وجه وه او د شیطان انکار د محبت د نشتوالي نښه وه. حضورکریم صلی الله علیه وآله وسلم چې کله حضرت معاذ ابن جبل رضی الله عنه ته اووې، چې اې معاذه! «اِنّی اُحِبك» اې معاذه! زه تاسره محبت کوم، نو دا سلسله د هغه وخت نه ترننه پورې مسلسل روانه ده چې یو یې بل ته وایي او دې ته «حدیث المسلسل بالمحبه» وایي.

د هغه وخت نه د محبت په موضوع حقیقت او تعریف لیکل او وینا شروع ده. حضرت مولانا روم رحمه الله خو ډېر شعرونه په محبت وئیلی دی او د هر مشکل حل، د هرې بیماری علاج او د هرې کشالې معجزه یې محبت امرت دها راګزولی.

شاد باش اے عشق خوش سودائے ما
اے طبیب جملہ علت هائے ما

اے دوائے نخوت و ناموس ما
اے تو افلاطون و جالینوس ما

حضرت سید سلیمان ندوي رحمه الله خو وایي:

محبت تو اے دِل بڑی بات هے
یه کیا کم هے اس کی جو حسرت ملے

او حضرت عزیزالحسن مجذوب رحمه الله خو خاص په محبت باندې یو اوږد غزل وئیلی، چې څه اشعار یې دادي:

ازل ابتدا هے ابد انتها
نه صبح محبت نه شام محبت

میرے سامنے لو نه نام محبت
چهلك جائے گا هائے جام محبت

هٹالے ارے اپنی مستانه نظریں
چهلکنے کو هے میرا جام محبت

محبت محبت، محبت محبت
بڑا لطف دیتا هے نام محبت

محبت او د محبت قیصې د تمامېدو نه دي د نن نه ډېر مخکښې یو شاعر وئیلي:

قلم بشکن سیاهی ریزوکاغذ سوز و دَم درکش
حسن ایں قصۂ عشق است در دفتر نه می گنجد

یار دلبر زما:

د یار او دلبرتذکره او د دیدن تمنا هم د محبت له کبله ده. یار او دلبر هم هغه معشوق دي، چې عاشق یې په عشق کښې ګرفتار دی. اوس دا عشق او محبت حقیقي هم کېدی شي، لکه چې صرف د خدائ د ذات سره وي او مجازي هم کېدی شي، لکه چې د مجنون لیلیٰ، فرهاد شیرینی، آدم خان درخانی او د هیر او د رانجها یادېږي. د الله

تعالیٰ ذات خو ورالؤرا دی او ستا د وهم او ګمان نه هم په وړاندې دی، چې نه یې لیدی شې او نه ګوتې وروړی شې، نو هغې ته هم شاعر د مجاز رنګ ورکړی، نو مطلب یې د خدائ ذات وي خو ستائینه د مجاز په جامه کښې کوي، لکه چې رحمان وایي:

زه د یار مینې په یار باندې شېدا کړم
که څوك ماګنړي زه نه یم واړه دی دی

دا د فنا فی الله مکمل شکل دی، چې خپل ځان یې هم لکه عدم شي، بلکې یو خدائ ورته ښکاري. یو بل شعرکښې ددې وضاحت دی:

څو تر مېنځه ورانه نه کړي د تن پوله
او به نه رسي تر خدائ تر رسوله

او الله تعالیٰ هم فرمایي: چې بنده په اطاعت کښې ماته دومره نزدې شي چې زه د هغه سترګې جوړې شم چې نظر پرې کوي د هغه لاس جوړ شم د هغه پښې جوړې شم. لنډه دا چې هغه بنده چې څه کوي د الله تعالیٰ د رضا مطابق یې کوي. دلته خبره د قرباني او د اخلاص ده. رحمان د یار په دیدن مال و متاع بائیلي، سرومال ښیندلو ته تیار دی. د پېغور د ملامت وېره یې نشته چې بې د یار بل هېڅ څیز نه قبلوي.

زه رحمان په خپله ګرم یم چې مئین شوم
ولې نور عالم مې بولي ګرم په څه
هغه تېر شو چې مې مینه په غلا غلا کړ
اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده

یو وېښته مې د صورت کوږ شوی نه دی
هسې رنګ دِ پټ پنهم په زړه ادا کړم
د آشنا د مینې لاس زما ګرېوان دی
زه په دا کارکښې هېڅ عذر نه لرم
زه د یار مینې په یار باندې شېدا کړم
که څوك ماګنړي زه نه یم واړه دی دی
بې مئین مې هېڅ حال دَ صورت نشته
لکه بې مال و متاع تش دکان یم
بې مئین قراري رابانې زوګ دی
شپه او ورځ په حرکت کښې لکه باد یم
چې د یار په دیدن سرومال ښیندم
خلقو واورئ زه هغه عبدالرحمٰن یم
که یار سر په دیدن غواړي مه جاروزه
دغه حکم رحمان کړی دی دلال
بې د یارله ښه دیدن دې خدائ نه کا
د رحمان په زړه کښې بله تمنا
پس له مرګ به یې بیا لتا قربان کړم
که صورت مې خدائ پیدا کړ په محشر بیا
چې له تا سره په سرکاندې سودا
بل به نه وي هسې ما غوندې شېدا

زړه کـــه یـــو دی خـــو مـــا تـــالره درکـــړی
مګـــر نـــورو لـــره نـــور زړونـــه پیـــدا کـــړم

پـــه رحمـــان بانـــدې دا هســـې ګمـــان مـــه کـــړه
چـــې بـــې تـــا پـــه څـــه غلبـــړي هغـــه نـــور دي

زه و یـــارکـــه پـــه تـــن دوه پـــه معنـــی یو یـــو
هـــزار خـــونې واړه ښـــهر یـــو بغـــداد دی

هســـې رنګ مـــې د خپـــل زړه لـــه وینـــو واغســـت
چـــې ځاندرســـت راتـــه پـــه شـــکل د جانـــان دی

تـــه چـــې مـــا پوښـــتې لـــه یـــار لـــه حقیقتـــه
څـــوك د یـــار خبـــرې کانـــدې و اغیـــار تـــه

رحمٰـــن هســـې و خپـــل یـــار تـــه بـــې حجـــت دی
لکـــه عـــذر چـــې صـــاحب تـــه غـــلام نـــه کـــا

هـــزار وار بـــه د یـــار تـــر نـــامې ځـــارکـــړم
کـــه پـــه قطـــع مـــې دا یـــو صـــورت هـــزار وي

مـــرګ لـــه هېچـــا ســـره وار نـــه کـــار رحمٰـــن
یـــار بـــه ځـــان تـــر یـــار ړومبـــی کـــا کـــه یـــې وار وی

هـــر ژونـــدون د یـــار پـــه وصـــل ښائســـته کېـــږي
بـــې میـــین کـــه ژونـــدون دی څـــه پکـــار دی

کـــه پـــه دار شـــم زه د یـــار لـــه لاس خـــوښ یم
ســـرو قـــد دی زمـــا یـــار و زمـــا دار

آشنا زما:

آشنا هم د یار په مثال زړه ته نزدې اوګران وي ځکه خو وایم نور د هیچا قیل و قال مې پکار نه دی چې تر غوږ مې قیل و قال شي د آشنا یو آشنا هېڅ کله نه غواړي چې د هغه آشنا د بل چا سره تعلق اوساتي. په دې وجه باقي ټول خلق په اغیاروکښې حسابوي.

خوشـــحالي زمـــا د زړه پـــه هغـــه دم وي
پـــه هـــردم چـــې زړۀ خوشـــحال شـــي د اَشـــنا

نـــور د هېچـــا قِیـــل و قـــال مـــې پکـــار نـــه دی
چـــې تـــر غـــوږ مـــې قیـــل وقـــال شـــي د اَشـــنا

نـــه بـــل څـــوك زمـــا طبیـــب بـــې اَشـــنا شـــته دی
نـــۀ بـــه بـــل څـــوك پـــه مثـــال شـــي د اَشـــنا

زه رحمـــان د هغـــه یـــار پـــه ژړا خـــوښ یم
کـــه اغیـــار مـــې خدائ لـــه میـــان پیدا نـــه کـــا

یـــوه بخـــره هـــر ســـړی لـــره خـــدائ ورکـــړه
زمـــا بخـــره اشـــنایي د خپـــل اشـــنا شـــوه

کـــه زردار دي اشـــنایان د زردارانـــو
د رحمـــان د اشـــنایانو تکیـــه خـــدائ دی

کـــه د ســـتا د خـــاطر مینـــه پـــه اغیـــار وي
ســـتا دپـــاره دي اغیـــار هـــم زمـــا یـــار وي

چـــې مـــې یـــار ولیـــد پـــه سیمه د اغیـــارګـــډ
لـــه غېرتـــه مـــې لېمـــه شـــو پـــه خونبـــارګـــډ

دا کـوم رنـګ د آشـنائي او دَ وروری دی
چې زه ستا دمـخ ثنا کـړم تـهٔ مـې زوری

د آشـنا د بېلتانـه پـه کاروبـارکښې
همېشـه پـه تنـدي تـوره د فرنـګ خـورم

د آشنا د مینې پت بـه مـې مـات نـه شـي
کـه مـې سر لـه تـن درومـي پـه دا پت کښې

ترک دَباګرام:

شاعرانِ خپلې معشوقې په مختلفو نومونو یادوي، کله یار، کله دلبر، کله خوبان، کله مهرویان، کله رېبار اوکله آشنا او دغسې نور ډېر- د ټولونه مطلب دی ښائسته او ښکلي- ترکِ دَ باګرام به شاید د رحمٰن نه بغېر د بل چا په کلام کښې نه وي.

د ښائستو صفت د شاعري د لوازماتونه دی. د هغوی پـه صفت خدمت او یاري باندې فخرکوي.

کـه مـې پیـري کـه مـې پلـوري چـاره نشـته
زه رحمـــــان د ښائســـــتو خانـــــه زاد یم

هم نغمې کاندې هم رقص کا هم خاندي
د رحمـــان پـــه شـــعر تـــرك د بـــاګرام

غـم د ترکـو تـر رحمـان هسـې چـاپیر شـه
لکـــه وســـکنړي جامـــه پـــه چـــا خیـــاط

قسم وخوري لـه خوبـانو بیـا یـې مـات کـا
څـــه بـــاور دی د رحمـــان پـــه قســـمونو

خوبرویـان بـه د سـپوږمۍ ټکـړه را واخلـي
که رحمان کچکول په لاس کښې قلندر شي

عنـدلیب خـاطر مـې الـوځي پـه ګلـو
کـه د ترکـو سـنبل زلفـې یـې شـهپر شـي

مـا رحمـان بـه ژړا نـه کـړه لـه خوبـانو
کـه مـې نـه وي پـه قسـمت دا هسـې ښکلي

چې مې خال د ترکو ولید په خپل زړه کښې
دواړه کسـي مـې و زړه وتـه نسـکور دي

ما وې زه بـه نـه کـړم پـه خوبـانو باندې مینـه
مینـه د خوبـانو وچـوي د صـورت وینـه

ډېـر عمـر مـې تېـر شـو بېهـوده پـه زمانـه
نـور دِ زمـا سـر وي او د ترکـو آسـتانه

مـخ د ترکـو چـې تـر آب حیـات صـاف دی
زه دې آب حیـات سـوی یم پـه نـارکښـې

د جهـان ښـکلي کـه واړه د رحمـان شـي
خدائ نـه کـا چـې یـې تـه لـه دل هېـر شـې

پـه رحمـان د ښائسـتو قـدر ډېـر دی
د طبیـب لـه قـدره چـا زده بـې رنځـوره

لکـه کانـدي پـه کـوترو نظـر بـاز
هســـې زه یم د دلبـــرو نظـــر بـــاز

زه نـــور چاوتـــه د راز خبـــرې نـــه کـــړم
بـــې هغـــو چـــې مـــوی مژګـــان لـــري دراز
دل و دیـــن مـــې کـــړه دَ هغـــه تـــرك فـــدا
لا یـــې نـــه حســـابه وي د ځـــان بَهـــا

زما د ننګ و نام او دښمني سره څه دي:

ننـګ و نـام د تکبـر او غـرور علامـت دی او عاشـق د تکبـر او غرورنه پاك دی. د عاشق مقصد خو د یار رضا او دیدن وی. په هغې پورې نخښتی وي د خپل ځان ورسره څه احساس نه وي، نو د ننګ و نام به یې څه پرواه وي.
زه د چاسره دښمني نه کوم، نه مې په زړه کښې چاته خیرې شته، چې نور خلق ماسره دښمني کوي، نو ماله پرې خندا راځي.

ننـګ و نـام دَ سـتا پـه مینـه لـه مـا درومـي
زار شـه سـتا تـر مینـې ننـګ و نـام زمـا
عاشـــقي او ننـــګ و نـــام دي ســـره لـــرې
څـو بـه عمـر واړه غـم د نـام و ننـګ خـورم
اوس زمـــا د ننـــګ و نـــام ســـره څـــه دي
چې دې نـوم د عاشـقی را بانـدې زبـاد دی
دښـمن هـم د سـړي کلـه کلـه دوسـت شـي
دوســـتي نـــه کـــا دَ رحمـــان ســـره حبیـــب

کـه سـتا خپلـه سیاه رویـي نـه وی دښـمن
آئینـــه زمـــا دَ زړه نـــه ده خچـــن
د ســـړي د دښـــمني طاقـــت مـــې نـــه وو
خـدائ را پېښـه دښـمني کـړه دَ اسـمان
د دښـمن پـه دښـمني مـې خنـدا کېـږي
لکـــه شـــمع د مقـــراض لـــه خصـــومت

حسن د مجنون په سترګو کښې دی:

د حسن او بدرنګي قصه د ازل نه شروع ده. د یوسف علیه السلام قصـه ټولـه د حسـن نـه چاپېره ګرځـي. نـن صبا مـس ورلـډ، مـس امریکا، مس فرانس او مس فلانا او فلانا مقابلې ټولې د حسـن کرشمې دي، او د حسـن پـه تعریف، فائدو، قسمونو او نزاکتونو چې څـه وئیـل شـوي او لیکـل شـوي ددنیـا د فتـرې او کتابخانې ترې ډکې دي، خو لکه څنګه چې وایي، حسن د مجنون په سترګو کښې دی په لیلا کښې نه دی. زه هم ددې قائل یم.
هېڅ موقوف د معشوقې په حسن نه دی
د عاشق خاطر پـه خپلې مینـې ښاد دی
غلبـه د عشـق بهانـه د حسـن غـواړي
توره شپه په عاشق زلفې د خپل یار شي
نـار د عشـق پـرورش مـومي لـه عشـق
هسـې نـه چې د خوبـانو پـه سـنګار شـي

حسن واړه د عاشق په عشق موقوف دی
معشوقه که فرښته وي که چوړی

بې د خپل اشنا د حسن له تعریف
هېڅ مې مه پوښته له نور قیل و قال

زه رحمن د هغه حسن ثنا خوان یم
چې جرګه د عاشقانو وي پرې پنډ

زه رحمن چې ستا د حسن ثنا خوان یم
ستا له روئ درست جهان زما ثنا کړ

چې تر حسن تر جمال یې زار نه شم
شرمنده یم د خوبانو تر جمال

ستا په ډېر حسن مې دا عقیده نه شي
چې داروغ وګړي واړه اوتر نه کړي

هر اسباب چې ما څخه دَ زهدو د پرهېز وه
واړه تا د حسن په اسباب راڅخه یوړو

دا همه واړه حجاب دی چې لیده شي
نور د حسن بالاتر دی له حجابَ

د یار در نهٔ پرېږدم:

په عربي کښې دارکور ته وايي. په پښتو او فارسي کښې هم د در نه اصلي مقصد کور دی، خو په عامه ژبه کښې در دروازې او درشل ته وايي، او په اردوکښې اکثر درو دیوار وئیلی شي، خو مقصد ترې د معشوق کور دی. ډېر پخوا مجنون وئیلي وو:

افتر علی الدریار دیار لیلیٰ
اقبل ذولجدار و ذالجدار

چې د لیلیٰ په کلي تېرېږم، کله یو دیوال ښکلوم، کله بل. یوشاعر خو تردې حده اووې:

وه اپنا در نه کهولیں گے
هم اَن کا در نه چهوڑیں گے

حکومت اپنی اپنی هے
کهیں اَنکی کهیں اپنی

څنګه چې یو بزرګ وئیلي: «جو الله کے در پر بیٹھ گیا- جم گیا اور مانگنے میں اڑگیا وه کبهی ناکام نه هوگا» چې څوك د خدائ په دروازه کېناست کلك شو او مچي شو هغه به ناکام نه وي.

زما د یار دکوڅې خاورې مښك عنبر دي. کاشکې چې د یار د کوڅې خاورې وی، چې قدمونه یې زما په سرکېښودلی. مرګ او ژوند مې په دې در دی، وابه ونه وړم د یار دکوڅې تورې خاورې مې د سردارانو د سرداری نه،د سلطانانو د سلطانی نه او د باغ ارم نه زیاتې خوښې دي.

که مې وشي له دلبره ملاقات
پابه نه څم له دې دره له جناب

ستا د در په تورو خاورو باندې خوښ یم
بې تا خوښ په تماشا د ارم نه یم

سر زما درګاه د هغه یار عزیز دی
بې له دې نه نشته بله لار زما

مښك زما زعفران زما، ستا دکوڅې خاورې دي
ستا دکوڅې خاورې دي مښك زما زعفران زما

ما چې غږ په غوږو ستا د در د سپیو واورېد
هسې رنګ بلبله په چمن کښې په ګفتار نشته

څو ژوندی یم په دنیا کښې
پرې به نه ږدم دغه در

لکه زه چې یې د در په خاورو خوښ یم
خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کښې

ستا له دره له دیاره به وانه وړم
څو ونه مرم ستا په در او په دیارکښې

هسې خوښ یم ستا در په خاکساری کښې
لکه خوښ وي سرداران په سرداری کښې

که له درَ یې شړې که یې پرېږدې
ډېر مئین دی ستا په مخ عبدالرحمان

یو نفس به دې له دره بېرته نه شم
څو مې یو نفس باقي په دا جهان دی

چې در وهم دیوارو ته نظر کړم
باغ بوستان و دغه در درې واړه یو دي

چې اشنا شي ستا له در و دیواره
انتظار یې په روضه د رضوان څه دی

د سرومالـه تېریم :

په دنیا کښې سرومال قیمتي اثاثه ده، نور څه قربانوي خو د سرو مال حفاظت کوي. په عاشقي کښې دا قربانول آسان کار شي.

زه به سرومال د یار تر نامې زارکړم
دا په عشق کښې سهل کار دی که په دا شي

چې په سرومال یریږي هغه عاشقي نه شي کولی د هغسې په عاشقي کښې سود وزیان نه حسابېږي.

ته د سرو دَ مال وېره په ما مه کړه
وېره ما سره د سرو دَ مال نشته

سرو مال واړه زما و دل آرام ته
نه ارزېږي په کنجکه الغیاث

کله شولا کله خریدار یم ستا د مخ
تېر تر سرو مال په بازار یم ستا دمخ

سرو مال د سړي لوټ کا زړه یې یوسي
له دې هسې دل ستان وایم څه

غل خو غلا د سرومال په توره شپه کا
ته په ورځ زما د سرود مال چورې

هسې بې سرو سامان دې څوك نه شي
لکه زه چې بې سامان یم بې سره

که مې سرو مال د ستا په مینه درومي
زه تر سرو ماله تېر یم په دا کارکښې
هسې بې سروسامان یم ستا په عشق کښې
چې خبر نه یم له زمکې له آسمان
وصال نه دی چا په سرو مال موندلی
مګر غاړه په دا کار د چا ادا شي
زه به سرو مال د یار تر نامې ځارکړم
دا په عشق کښې سهل کار دی که په دا شي
لکه سروسامان ستا د زلفو نشته
هسې زړه زما بې سرو بې سامان دی
په دنیا کښې خو یو سرومال ویل شي
دواړه ما په تا بایلو دي، دي که نه دي
دا ستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دانسته به دغه سُود په زیان ورنه کړم
هر چې ستا په لار قدم د راستی کېږدي
که یې زیان وي زۀ رحمان یې پوروړی
سُود سودا د عاشقی که نفع مند وي
ما هېڅ سُود پکښې بیا نه موند نقصان راغی

د رقیب له لاسه ذرې ذرې یم :

عاشق خو غواړي چې بس زه یم او زما معشوقه وي. مېنځ کښې بل هېڅوك نه وي. که په معشوق باندې سوری راشي نو هم دی خفه وی چې ورسره ولې یو ځاي دی او د بعضو خو د خپلو سترګو سره دشمني وي چې ورته ولې ګوري. په داسې حالت کښې چې یو بل کس په معشوق باندې قبضه اوکړي دهغه توجه او همدردیانې حاصلې کړي، نو وایه چې د هغه کس باره کښې به د عاشق جذبات او احساسات څه وي.دې کس ته رقیب وایي. اودا د شاعري یو لازم جز دی. شاید چې یو شاعر به هم داسې پیدا نه کړي، چې د هغه په کلام کښې به د رقیب او غماز ذکر نه وي.

زه هم د رقیب د لاسه ذرې ذرې یم. د رقیب دا جور وستم لږ دی چې یار زمانه اړوي، کله پېغورونه راکوي او ملامته کوي مې-څه اوکړم چې یار مې ورسره مل وي. ځان پورې یې نیسي غوږ ورته ږدي او چې زه آه فریاد کوم ژاړم، نو رقیب د خوشحالۍ نه سندرې وایي،ډهول وهي، د یار دپاره د رقیب ناز نخرې وړم. منت سماجت او تابعداري یې کوم ګني د رقیب علاج راځي اوکه لاس مې پرې بر شو نو پرې به یې نه ږدم.

چې رقیب را ته ترلی په زنځیر وه
خپل حبیب راباندې پرانست هغه در بیا
راځرګند دي سودو زیان د رقیبانو
که خدائ نه کاندي خپل یار د چا رقیب

چې خپل یار د چا رقیب شي مثال دادی
لکه څوك چې په وطن کښې شي غریب

د رقیب له بدو سترګو دې ځان ژغوري
هر عاشق چې بهره مند وي له حضوره

د رقیب له بد خوي به څه وایم
لا چې یار ورسره مل شي هله ګوره

زمانه مې د رقیب له لاسه وژني!
چې مې سپی ګانړه هغه را باندې شېر شه

په عاشق به هېڅ دهشت د رقیب نه وه
که یې نه کړی له خوبانو اختلاط

د رقیب له جوره خوب د عاشق نه شي
د هغو چې یار دښمن وي څه به خوب کا

له وطن مې په هر زمان اوباسي
رقیبان یې راپسې کړه محاصل

د رقیب خبرې وړم د یار دپاره
دعا ګوئ هم د نېك خواه هم د بدخواه یم

د رقیب علاج آسان دی بلا دا شوه
زه له خپله یاره نا ویساه یم

ما قبول د رقیب نازکړ تا دپاره
سودو زیان په دا جهان کښې خور او ورور دي

کله رقیبانو ته نظر کړکله ماته
ستا باران د مهر په ښو بدو یو شان اوري

یو د ستا ګله شوه بل غرور د رقیبانو
وار په وار مې وژني کله هغه کله دا

یار به د رقیب په لوري خدائ نه کا رحمانه سم
ولې چې د سپیو فرښتو سره څه کار نشته

چې مې وینې له رقیب سره خاندي
په ژړا مې لېمه سره که الغیاث

د رقیب طمع مې نه وه ستا په درکښې
په جنت کښې دې راوښود د بلا مخ

زه به څه رنګ د رقیب و مخ ته ګورم
کله اهل سُنت ګوري د ترسا مخ

لږ پرهېزکړه له رقیبه خدائ دپاره
ګډوې سره حلال حرام په څه

زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
د رقیب کره هم ډهول وي هم سندرې

عاشقان د یار تر سپیو هم ځار بړي
ګنړه ما د رقیبانو څه پروا کړه

لکه ته چې د لاور زما په مرګ یې
چې دا رنګ چرې رقیب دلاور نه کړې

ستا څه لاس را باندې نه رسي دلبره
چې په لاس د رقیبانو مې سزا کړې
ما رنځور په کټ کښې پرېږدې چې کړېږم
ته لا ګرځې د رقیب سره خندا کړې
لاس تر غاړه د رقیب سره خندا کړې
چې ما ووینې له قصده راته شا کړې
ما غندي او رقیب ستایي طالع ګوره
چې سړی ورته د سپي په مقدار نه شي
څو مې تېغ په پهلو نه دی لګېدلی
ستا پهلو به و رقیب آسان ورنه کړم
معرکه زما د مرګ نه ده نور څه ده
رقیبان چې تا بللي دي پوهېږم
چې رقیب او تا غوږونه وبله وروړه
ما هغه ساعت ژړلي دي پوهېږم
رقیبان ځکه تېری په رحمان کاندې
چې تا خواه پورې نیولي دي پوهېږم
زه د یار په مینه غل کړم رقیبانو
ګنړه نور یې کوم راپورې دي پورونه
د رقیب له بده خویه به څه وایم
ترو دا ګوره چې لا یار ورسره مل شي

رحمان صلح له رقیب سره په دا کا
آشنا ښه دی البته خوړونکی سپی
څه به ستا له رقیبانو زه مانه کړم
دا دستور دی چې له ګل سره خار وي
د رقیب و ناکردو ته چې نظر کړم
د عاشق له آه ړوند په تور لېمه شوې
لکه درست عمر په خُوله د رقیب کارکا
دغه هسې یو زمان زما په خوله شوې
دا زما په ورمېږه ماتولی شېر یې
که په مرګ د رقیب هم هسې شمشېر یې
ز آغوش رحمان مه رو با رقیب
که ایس سفله بدخوی و بد ذات هے
که څوك آه و فریاد ښه ګنړي په عشق کښې
زۀ په عشق کښې دغه کارګنړم غماز

◈◈◈

باب: ۶

قلندر یم قدردان د درویشانو

په دنیا کښې په هره زمانه کښې یو قطب الارشاد وی، چې ددین او شریعت د امورو پاسداري کوي او یو قطب تکوین وی چې ددنیاوي امورو سلطنتونو او ملکونو معاملې سنبالوي، کله دا دواړه محکمې د یو تن سره وي. دا خاص الخاص کس وي. درویش ګدا او قلندر هغه کسان وي چې د الله تعالیٰ په مینه کښې د چا د تهمت او ملامت پرواه نه کوي. نه ددنیا د رسمونو او مصلحتونو پابند وي. په خپل ځان کښې مست الست وي. په ظاهره د شریعت پابندي یې دومره نه ښکاري خو د زړه دنیا یې آباده وي، د الله تعالیٰ په مینه کښې د سرومال نه تېر وي او وایي:

ځکه زاهد زُهد کړی د یو جنت دپاره
سر ښیندلی نه شي په اوربل د جانانه

دا اکثر د اهل خدمت اوتکوین نه وي. د فرښتو په شان لکه داټومیټک مشین په شان کارکوي، مصلحت ته نه ګوري د الله تعالیٰ نیاز بین وي او په الله تعالیٰ باندې ناز هم کوي. لکه چې وایي:

ګدائے میکده ام لیك وقت مستی بین
که ناز بر فلك و حکم برستاره کنم

گدائے میکده هوں مست هوں اپنی گدائی میں
یه هیے سنگ درمیخانه مجھ کوشه نشین ساقی

دوئ بې هاتیانو بې اوښانو بادشاهان وي دوئ ته سپکه مه ګوره.

مبین حقیر گدایان عشق راکه ایں قوم
شهان بے کمر و خسروان بے کله اند

بادشاهي دګدایانو په دعا شي د غضب او د ښېرو نه یې ډډه په کار ده ځکه چې:

په هر چا چې د غضب لینده کړی کښه
خطا نه درومي ګذار د درویشانو
درته وایم چې له آه یې پرهېزکړه
د هغو چې پوشاکونه پشمینه دي

زه په دې خوشحال یم چې قلندر یم:

د ریا خرقه یې خدائے مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

او د درویشانو قدردان یم:

درست دیوان د رحمان زار تر دا غزل شه
چې بیان یې کړکردار د درویشانو
بادشاهي دَ ګدایانو په دعا شي
زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم
په هجران کښې که ګدا ووم کند په غاړه
په وصال کښې یې بادشاه د امرا شوم
آئینه که د جمال کړ ورڅرګند
دا ګدا رحمان به شاهِ سکندر شي

که مطلب د نور چا نورې مرتبې وي
ما گدا په آستانه د خپل جانان کړې

◈◈◈

شین لوگی مې په سر چتر دونهه تخت دی
گرد غبار د خپل دولت لکه ملنگ خورم

قلندر چې په رښتیا قلندري کا
خان سلطان او قلندر درې واړه یو دي

د ریا خرقه یې خدائ مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

◈◈◈

په یوه قدم تر عرشه پورې رسي
ما لیدلی دی رفتار د درویشانو

بې هاتیانو بې اوښانو بادشاهي کا
د زاړه پوزې ټوکرکښې یې قالین دی

په هر چا چې د غضب لینده کړه کښه
خطا نه درومي گذار د درویشانو

درته وایم چې له آه یې پرهېز کړه
د هغو چې پوشاکونه پشمینه دي

د آه غشي یې په زمکه کله لگي
هر قامت چې کمان طور خمیده شي

چې په خواست د حاجت پورته کا لاسونه
د آسمان د ملائکو پرې آمین وی

رندي او زاهدي سره لړې لړې:

دا مسئله او تنازعه ډېره پخوانۍ ده چې یو طرف ته شېخ او زاهد دی او بل طرف ته رند او قلندر دی. رند او قلندر وایي چې زه د خدائ عاشق یم. اگرکه د ظاهري شریعت پابندي مې دومره نشته خو د زړه محبت مې ډېر زیات دی. د خدائ په محبت باندې خپل مال و سر ښیندم او زاهد او شېخ خشك بې محبته دي. اگرکه د ظاهري شریعت پابندي زیاته کوي او دا مسئله د هغسې موجود ده، لکه چې سید سلېمان ندوي وایي:

قیل و قال مدرسه کو چهوڑکر
شیخ بهی رندوں میں اب داخل هوا

دل اس پیری میں بهی غرق هوسناکی و رندی هے
پهنسی هے کشتی عمر رواں گرداب ساحل میں

حضرت عزیزالحسن مجذوب خو پخپله رند او مجذوب دی، گوره څه وایي:

تیرے رندوں پہ سارے کهل گئے اسرار دین ساقی
هوا علم الیقین عین الیقین حق الیقین ساقی

براسب کهه رهے ئیں اهل دنیا اهل دین ساقی
ترے رندوں نے بهی اُف ذلتیں کیا کیا سهیں ساقی

ریائی گریه هم رندوں کو اے صوفی نهیں آتا
که رکهتا هے لب خنداں دل اندوهگین ساقی

بنوں کیوں خشك زاهد ترك کیوں عشق بتان کردوں
بهار زندگی کو میں کیوں نذر خزاں کردوں

ذرا هوشیار رهنا شیخ جی میں هوں وه مستانه
نظر سے زاهد صد ساله کو پیر مغاں کردوں

کوئی دل لگی هے یه اے شیخ رندی
بهت هوش رکهتا هے مخمور هوکر

زاهدوں پرمے اچهالی جائے گی
جان ان مردوں میں ڈالی جاے گی

شیخ کی پگڑی اچهالی جائے گی
سرکشی سر سے نکالی جائیگی

زه هم وایم:

لږ تفاوت نه دی د رندی د زاهدی
چرته زلمی جونه چرته کنډ یتیمان

هېڅ مې حاصل نه کړ په شېخۍ او په تقوی کښې
پس له دې مې وار دی هر چې شي په مېخانه

شېخ و شېخي، ورد و وظیفه او ذکر فکر
زه و ساقي، جام و باده، چنګ و ترانه

زه و زاهدانو ته حېران یم دوی و ماته
دېوانه به ده خندد و ده به دېوانه

ګوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه!
مه کړه دا د عشق خبرې مستې رندانه

شېخ و زاهدان چې نصیحت و ماته وایي
نه دي خبر شوي ستا د مخ له محسناته

د خرقې خدمت مشکل دی اوکه نه وی
زه هر دم و دغه چارې وته ځیر یم

پټ بادشاه ظاهر ګدا یم:

د فخر و غرور او تکبر په وجه نه وایم،بلکې د تحدیث نعمت او شکر دپاره وایم چې الله تعالیٰ غني پیدا کړی یم. د خدائ نه سېوا نور د هرچانه مستغني یم.

بیهٹا هوں غنی هوکے هر ایك شاه وگدا سے
سو بار غرض جس کو پڑے وه ادهر آئے

د خدائ فضل دی چې د قناعت، استغنا او توکل غوندې صفاتو پاندې متصف کړی یم. خپله ګدائي راته بادشاهي ده.

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی
پټ دَ درست جهان بادشاه ظاهر ګدا یم

شین لوګی مې په سر چتر دونهه تخت دی
د دونهې په غاړه ناست شاه جهان یم

ته زما و بې کسی ته نظر مه کړه
خدائ ساتلی لکه ګنج په بیابان یم

لکه ونه د ځنګل په مېوه پوره
په ویرانه ویرانی کښې آبادان یم

دکـــــاملې عقیـــــدې لـــــه برکتـــــه
د دونهـــې پـــه غـــاړه ناســـت شـــاه جهـــان یم

دلبرانـــو وتـــه خـــاك تـــر تلـــي لانـــدې
د دې نـــور جهـــان پـــه ســـر لکـــه اســـمان یم

بادشـــاهي دګـــدایانو پـــه دعـــا شـــي
زه رحمٰـــن ځکـــه بادشـــاه یم چـــې ګـــدا شـــوم

پـــه هجـــران کښـــې کـــه ګـــدا وم کنـــد پـــه غـــاړه
پـــه وصـــال کښـــې یـــې بیـــا خـــان او امـــرا شـــوم

شـــین لـــوګی مـــې پـــه ســـر چتـــر دونهـــه تخـــت دی
ګـــرد غبـــار د خپـــل دولـــت لکـــه ملنـــګ خـــورم

چـــې لـــه ســـنګ مـــې دلبـــر پـــه لاس کښـــې جـــام دی
نـــن اورنـــګ د زمـــانې زمـــا غـــلام دی

نـــوکري د معشـــوقوکـــوم پـــه عشـــق کښـــې
مهینـــې نـــه د بهلـــول نـــه د اورنـــګ خـــورم

د دنیـــا بادشـــاهان خواســـت کـــا لـــه فقیـــره
ته بادشاه دَ هسې ملك یې خواست ګر مه شه

د مســـتۍ د هوښـــیارۍ یـــون څرګنـــد وي
پـــه هرچـــا کښـــې چـــې څـــه وي هغـــه رفتـــارکـــا

لکـــه ونـــه مســـتقیم پـــه خپـــل مکـــان یم
کـــه خـــزان رابانـــدې راشـــي کـــه بهـــار

آب و خـــور لکـــه آســـیا پـــه ځـــای را رســـي
پـــه خپـــل کـــورکښـــې مـــې ســـکون دی هـــم رفتـــار

توکـــل مـــې لاس و پښـــې ســـره کـــړ پـــه نکریـــزو
چـــې پـــه ځـــای یـــې کښـــېنولی یم قـــرار

چـــې زمـــا پـــه بـــاب یـــې کښـــلي دي را رســـي
کـــه رحمـــت دی کـــه زحمـــت دی وار پـــه وار

ما او تا غوندې:

دَ «ما» او «تا»، «زه» او «ته» او «زما او ستا» استعمال په کلام کښې ډېر ځای شوی دی. ددې نه زما مطلب خپله عاجزي، کمزوري او ضعیفي ده، چې زه څوك یم یو فقیر ګدا، بې نام ونښان، څه رحمان او څه یې نام، دا یو قسم د حب جاه نفی ده لکه:

چـــې دا هســـې عـــالم لانـــدې شـــو تـــر خـــاورو
د چـــا یـــاد دي مـــا او تـــا غونـــدې ســـګان

بادشـــاهان پـــه عاشـــقۍ کښـــې ملنګـــان شـــي
مـــا و تـــا غونـــدې وګـــړي دچـــا یـــاد دي

زحمتونـــه د هجـــران واړه پـــه عشـــق کښـــې
تـــا و ماوتـــه ښـــودلي دي کـــه نـــه دي

دا څلـــور واړه مذهبـــه ســـره یـــو دي
مـــا اوتـــا پـــه کښـــې پیـــدا کـــه اختـــلاف

کـــه جـــوړه تلـــی څـــوك و قبـــر وتـــه درېـــغ
ژاړم دا چـــې یـــا بـــه تـــه نـــه یـــې او یـــا زه

که د سر ښیندل دشوار په ما او تا دي
دا په عشق کښې سهل کار دی دشوار نه دی
دوه یاران به دا رنګ نه وي چا لیدلي
چې یوه ورته کنځل کړ بل دعا کړ
زه د یار مینې په یار باندې شېدا کړم
که څوك ماګنړي زه نه یم واړه دی دی
زه و یارکه په تن دوه په معنٰی یو یو
هزار خونې واړه ښهر یو بغداد دی
زه و یار چې خپل غمونه سره شمارکړو
یار و ماته حېرانېږي زه و یار ته
زه هر صبح شام دعا کوم و تاته
ته و ماته کوې دشنام په څه
دعا ګو چې د چا ومري څه ښادي ده
ته په څه زما د مرګ وته آرزو کړې
ته و ماته نصیحت مه کړه ناصحه
زه دا خپل تخم په خپل ځان له کَرم
زه او ته که هغه وخت وی چا به نه کړی
د لیلیٰ او دَ مجنون قصه خواني
زما ستا و نندارو ته به حېران وي
که ژوندی وي آدم و درخانی
نن راغلی په جهان یې که دیدن کړې
نه به ته په دنیا راشې نه بیا زه

څه شوکه خاموش یم ستا د عشق له آه سرده
ستا زما له مینې خلقه واړه خبر ده
دا فلك کُلال دے سازول و ماتول کا
ډېرې ما او تا غوندې پېدا کړ هم فنا
زه دَ ستا په غم کښې شمع غوندې ژاړم
ته زما په غم کښې صبح غوندې خاندې
عاشقي و معشوقې ته سپینه لار ده
ته و ما و ته دا سپینه لارګرنګ کړې
که ته سل ځل زمایې زه دِ ستا یم
تلوني نه دي له ماجستجوئ دَ ستا

دم او قدم واړه په حساب دي :

د بنیادم نه به دَ دم او قدم حساب غوښتی شي. دَ قدم مثال لکه د ظاهري اعمالو دی او دَ دم مثال لکه باطني اعمال- دَم اوقدم ډېر لوئ شی دی. که یو طرف ته قدم سړی ګرنګ ته غورځوي نو بل طرف ته یې عرش ته رسوي،لکه:

په یوه قدم تر عرش پورې رسي
ما لیدلی دی رفتار د درویشانو
که نور خلق قدمونه ږدي په زمکه
ما دی ایښی په آسمان قدم د زړه
د بزرګانو دا خواهش وی چې هره پېره دَ ساه اغستو سره د خدائ

نوم واخلي،چې یونفس یې هم بې ذکره نه شي. ددې دپاره د پاس النفاس دَ ذکر مشق پکار دی، ځکه خو زه وایم:

دلتـــه دم او قـــدم دواړه پـــه حســـاب دي
پـــل غلـــط لـــه لارې مـــه ږده بـــې حســـابه

بختور دي هسې خلق چې دم او قدم یې په قابوکښې وي.

و آســـمان تـــه لاس د عقـــل نـــه رســـېږي
دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم دی

چـې یـې عـرش وکرسـي لانـدې تـر قـدم دی
بـــالاتر دی هســـې شـــان قـــدم د زړه

کـه لـه زمکـې و آسـمان تـه خاتـه ګـران دي
داســـفر پـــه یـــوه ګـــام دی د اخـــلاص

پـــه یـــوه قـــدم تـــر عـــرش پـــورې رســـي
مـــا لیـــدلی دی رفتـــار د درویشـــانو

کـــه پـــه ځـــان بانـــدې قـــدم کېـــږدي رحمـــان
نهـــه فلـــك بـــه دِ لانـــدې تـــر قـــدم شـــي

کـــه نـــور خلـــق قدمونـــه ږدي پـــه زمکـــه
مـــا دی ایښـــی پـــه آســـمان قـــدم د زړه

د آشنا پـه طلب ګرځم وچې شونډې لېمـه تـر
یو قدم مې دی په بحر یو قدم مې دی په بر

کـــه دلـــدار پـــه دلـــداری زماقـــدم ږدي
ګویـــا هـــر قـــدم پـــه لارې د حـــرم ږدي

همېشـــه دې زمـــا ســـر او ســـتا قـــدم وي
تـــر هغـــه ســـاعته پـــورې څـــو مـــې دم وي

مـا د سـتا لـه غمـه خـداي بـې غمـه نـه کـا
تـــر هغـــه ســـاعته پـــورې څـــو مـــې دم وي

زه بـــه ســـتا لـــه غمـــه کلـــه وو چـــې مـــړ وم
بـــارې دم د خـــدائ پـــه لاس دے نازنینـــه

زمـــا هـــر زمـــان هـــردم پـــه تـــا ګـــذر وي
تـــه یـــو دم زمـــا پـــه لـــوري ګـــذر نـــه کـــړې

ددې لارې تلـــه څـــه هســـې آســـان نـــه دي
مشـــکلات دي پـــه هـــردم پـــه هـــر قـــدم

چـې د مـرګ خـواري بـه خـواه لـري رحمانـه!
لا پخـــوا تـــر دغـــه دمـــه ولـــې نـــه مـــرم

تـــه خطبـــه پـــه منبـــر څـــه لـــولې خطیبـــه
قـــدم کېـــږده پـــه ځـــان بانـــدې منبـــر دا دی

تـــر هـــرګـــام لانـــدې کـــوهي دی ددې دهـــر
ایښـــی بویـــه هـــر قـــدم پـــه احتیـــاط

چـــې لـــه مرګـــه بـــې پـــروا یـــې پـــه هـــر دم
دغـــه هســـې غـــم دِ هېـــر دی پـــه کـــوم غـــم

◈◈◈

باب – ۷

نو روز نوبهار و می و دلربا خوش است

په شاعري کښې ډېر د پخوانه دې میخانې او ساقي ذکر موجود دی. د صوفي شاعرانو خو دا خاص موضوع ده. که مولانا روم رحمه الله دی که حافظ شېرازي دی اوکه سعدي شېرازي- دې میخانې او ساقي ذکر پکښې دی. دې نه د هغوی مطلب شراب معرفت دی، میخانه هغه خانقاه ته وايي کوم ځائ چې شراب معرفت ملاوېږي او د سالك تربیت پکښې کېږي او د ساقي او پیرمغان نسبت خپل پیر شېخ او مرشد ته کوي. لکه چې وايي:

به مے سجاده رنگین کن اگر پیرمغان گوید
که سالك بے خبر نه بود زراه و رسم منزل ها

او یا لکه بل ځای وايي:

بهت روئیں گے کرکے یاد اهل میکده هم کو
شراب معرفت پی کر همارے جام و مینا سے

او حضرت سید سلیمان ندوي رحمه الله خو خپل غزل الغزلات کښې کمال کړی دی. فرمايي:

سمجهیں مرے کلام کو جو هوشمند هیں
مستی مری یه بادۂ انگور کی نهیں
صحن مسجد میں کهلا هے میکده
اب تو جو زاهد هے مے آشام هے

اب در پیرمغان چهوٹے نهیں
اس کی مٹی میں بهی کیف جام هے
فیض ساقی هے به اندازه ظرف میخوار
دل حریف مے بسیارکهاں سے لاؤں
جام پر جام مجهے دے که بنادے بدمست
صبرِ سرجوشئ اذکارکهاں سے لاؤں
وجد میں جاں هے تو اعضا رقص میں
جام مے آواز الاالله هے
حبذا پیر مغان دریا دل و دریا نوال
جمع ئیں میخوار میخانه میں نوشانوش هے
اب تومے نوشی هے عین شرع برفتوائے شیخ
اب وهی هوگا فقیه شهر جو مے نوش هے
میکده سجده میں یاد آیا کیا
روز افرزوں نشه توحید هے
یاد آیا چشم ساقی کا کرم
پر چهلکتے جام کی امید هے
ایك گهونٹ میں بهولا هے میخوار دوعالم کو
کیا تند نشه تیرا اے جام محبت هے
تیری نگاه میں دونوں خواص رکهے هیں
وه چاهے مست کرے چاهے هوشیارکرے

حضرت عزیزالحسن مجذوب رحمه الله د حضرت اشرف علي

تهانوي رحمه الله د مجلس نقشه په ډېر ښائسته اندازکښې دې میخانې او ساقي په شکل کښې پېش کړې ده. ستاسو په مخکښې ده:

ٹلوں گا میں نہ ہرگز لا کھ ہو تو خشمگین ساقی
کہ جومے سب سے بہتر ہے وہ ملتی ہے یہاں ساقی

جہاں میں آج تجھ سا کوئی دریا دل نہیں ساقی
مئے گل رنگ سے سیراب ہے روئے زمین ساقی

نگاہ مست اور پھر اف بچشم شرمگین ساقی
مئے دو آتشہ ہے یہ شراب آتشین ساقی

پلا اتنی کہ مٹ جایے غم دنیا و دین ساقی
شراب تلخ ہو جائے نبات و انگبین ساقی

کہاں سے مجھ کو پہنچایا کہاں پیرمغاں تونے
مرا میخانہ اب لاہوت ہے روح الامین ساقی

عجب ہے ترے میخانے کا اے پیرمغاں عالم
کہیں ساغر کہیں میکش کہیں مینا کہیں ساقی

پلائے گا بلا اندازہ جب خود پی کے نکلے گا
کریں میکش نہ غم ہرگز جو ہے خلوت نشین ساقی

گدائے میکدہ ہوں مست ہوں اپنی گدائی میں
یہ ہے سنگ درمیخانہ مجھ کوشہ نشین ساقی

سلامت تیرا میخانہ سلامت تیرے مستانے
رہے گا رنگ عالم میں یہی تا یوم دیں ساقی

دو عالم سے ہوا مجذوب یکسو ایک ساغر میں
ہوئے طے سب مراحل اولین و آخرین ساقی

الٰہی خیر ہو مجذوب میخانے میں آیا ہے
مدح کش لا ابالی جام نازک نازنین ساقی

ددې اوږد تمهیدنه غرض صرف دادی چې زما په کلام کښې د شراپ او مے نه غرض شراب معرفت دی د کوم ذکر چې مستند صوفیانو شاعرانو کړی دی. ددې نه هرگز دنیا یې شراب مراد نه دی کوم چې د انگور یا د اوربشو نه جوړوي او څښکل یې حرام دي،لکه څرنگ چې ما وئیلي:

مے د خپلو لبو رانه دَ انگور
چې اول یې نوشیدن وي پسې قی

د رحمن شراب له عشقه
نه انگور نه له عنب

اوس مې وار په میخانه:

مئ خواران که یې خبر شي له مستۍ نه
د رحمان د میخانې شراب د څښو دي

په تلخۍ د میو مست خلق مې خوښ دي
هغه خار چې بوی دگل لري خار نه دی

په رحمان د ستا د لبو مې حرام دي
څو د خپلو وینو جام تاوان ورنه کړم
جام د میو چې د ځان په وینو مومم
تر و زلال د جګرخون دی نه پوهېږم
هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه
چې خبر نه یم له زمکې له آسمان
جام د میو چې غمخوار د کل جهان شه
زه به اوسم په دا غم کښې تابه کئ
چې له سنګ می دلبر په لاس کښې جام دی
نن اورنګ د زمانې زما غلام دی
ښه دی ماله دا فیض د شرابو
چې پرې وینځم دا دلق ارزق فام
می خواري که په عالم کښې بدنامي ده
ما تر پښو دي لاندې کړی ننګ و نام
د رحمان خاطر غمونو هسې زنګ کړ
مګر جام د مئ ناب وي چې صیقل شي
که غم خوار غواړي په غم و په اندوه کښې
ښیښه ډکه د شرابو اختیار کړ
هېڅ مې حاصل نه کړ په شیخۍ و په تقوی کښې
پس له دې مې وار دی هر چې شي په میخانه

شیخ و شیخي ورد و وظیفه و ذکر فکر
زه و ساقي جام و باده چنګ و ترانه
سجاده به د ساقي د لارې فرش که
هر صوفي چې د سرو سترګو خریدار وي
چې د مئ و د طرب په خوند خبر شه
فراموش کړ صوفي نفل د اشراق
را څرګند به شي پرهیز د پرهیزګارو
که قادر شي په شاهد و په شراب
چې په ورځ د شیخي لافي کړي رحمان
په شپه مې له مئ فروشه غواړي ولې

ګریوان څیرې مست خراب یم:

هسې مست یم ستا د شونډو په شراب
چې به نه وي بل دا هسې مست خراب
ساقي جام د میو راوړه چې بې خود شم
خداي د نه کا په خودۍ کښې څوك محبوس
که مې ونمانځې ساقي په یوه جام
تر دا هورته به نور څه وي احترام
ما د دهر غم وهلی دی په لته
د پیالې د صراحي له برکته

چـــې دارو د دردو غـــم وي هغـــه مـــی
ســـاقي مـــا ره یـــو دوه جامـــه پیـــاپی
راشـه یـو ځـل مـې هسـې مسـت خـراب کـړه
چـې خبـر نـه شـم د حـال د هـېڅ شـي
ســاقي پورتــه شــه د میــو جــام تیــارکــړه
عمـر هـېڅ معطلـي نـه کانـدې تلـوارکـړه
د یـــار ډېـــرې غمخـــواری یم عـــاجزکـــړی
رحمـن ځکـه پـه خـوردن د شـراب خـوښ یم
هـېڅ مانـه د څـوك لـه مسـتو سـترګو نـه کـا
کـوم یـو مسـت دی چـې قـدم پـه لار سم ږدي
پاڅـه یـو ځـل سـیراب د عشـق پـه جـام شـه
پـــه ســـاغر د مـــاه و مهـــر مـــے آشـــام شـــه

څېرې ګریوان:

ګریوان د شاعرانو ډېره خوښه موضوع ده، چې د عاشق زړه تنګ شي، نو نور خو څه نهشي کولی په خپل ګرېوان یې لاس رسي، هغـه څیـري کړي، ګرېوان څیـري کـول د هغـه کس د انتهـایي بې بسي، لاچاري او غم علامت دی لکه چې وایي:

قهر درویش بر جان درویش

حضرت حسین احمد مدني رحمه الله دا شعر پـه خپـل خطونـو کښې ډېر استعمال کړی دی.

ہم نے تو کیا ہے اپنا گریباں چاک
اس کو سیا سیا نہ سیا پھر کسی کو کیا

او یو بل شاعر وایي:

خاونـــده چاتـــه ورښـــکاره څیـــرې ګرېـــوان کړمـــه زه
د زړه قطـرې چاتـه ښـکاره پـه سـپین میـدان کړمـه زه
داسـې دی څـوك چـې پـه خپـل ځـان یـې مهربـان کړمـه زه

دګرېوان څیرولونه مطلب دی چې زړه مې د غمه سوزي چوي.

زړه چـې روغ وي ګریـوان کلـه څیـراوی شـي
لـــه ګریـــوان معلـــومېږي د زړه چـــاك
د عاشـق د سـینې چـاك بـه ور څرګنـد شـي
کـه څـوك سـر و خپـل ګرېـوان وتـه فـروکـا
پـه ګریبـان بانـدې چـې ټـك وهـي غـوټې
عاشـق کښېباسـي لاسـونه پـه ګرېـوان خپـل
د اشـــنا د مینـــې لاس زمـــا ګرېـــوان دی
زه پـه دا کـار کښـې هـېڅ عـذر نـه لـرم
خـود څرګنـد وي لکـه صـبح پـه جهـان کښـې
هـرګرېـوان چـې پـه یـاری کښـې دریـده شـي
کـه ګرېـوان مـې د سپوږمۍ د نمر مشـرق شـي
زه چـې یـار پـه سـترګو نـه وینـم تـور تم دی

دګرېبان په چا کول یې څه لارغه وي
چې ځکر یې وړومنبی چاك ترګرېبان شي

هېڅ ساتنه د سرکښ خاطر را نه شي
څوك ساتلی شي بخري په ګرېوان کښې

په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم:

د عشقیه اشعارو په ترنم سره د شرایطو مطابق د اورېدلو اجازت شته کوم ته چې سماع وئیلی شي. اګرچې دا یومتنازعه موضوع ده او د ډېر پخوانه پردې جوز او لا یجوز بحثونه شوي دي،خو دې کښې شك نشته چې د بعضې لویو صوفي بزرګانو معمول پاتې شوی دی، لکه حضرت نظام الدین اولیاء رحمة الله علیه او دغسې نور بزرګان. اوس هم ډېر بزرګان په مختلفو شکلونوکښې د عشقیه کلام اورېدل کوي، لکه څوك حمد باري تعالی په ترنم سره وایي او اوري، څوك نعت رسول او څوك د صوفیاؤ عشقیه کلام بغېر د اوزار یعنې بینډ باجې اوري او بعضو خو د خپل ذکر سره شامل کړی، لکه:

شب تاریک و راه باریک و من تنہا
لا الہ الا اللہ
دست بکشا جانب زنبیل ما
شئ للّٰہ از جمال روئے تو
الا للّٰہ الا اللہ الا اللہ

بلکې داسې کسانو ته هرآواز نغمه او ترانه وي. لکه حضرت سید سلېمان ندوی رحمه الله چې څنګه وایي:

کوئی ہو آواز میرے کان میں
ہر صدا آواز الا اللہ ہے
دل سے ہوتا ہے ترانہ خود بلند
قلب ذاکر ساز الااللہ ہے
وجد میں جان ہے تو اعضا رقص میں
جام مئے آواز الااللہ ہے

یالکه حضرت عزیزالحسن مجذوب رحمه الله وایي:

جان رگ رگ سے کینچی آتی ہے کانوں کی طرف
کس قیامت کی کشش اُف تیری آواز میں ہے

داسې اوګنړه چې زه هم ددغه ټولګي ملګری یم، چې نغمه او ترانه واورم لېونئ شم ګرېوان څېرې کړم. د شپې چې د دردنه کله خوب نه راځي نوکله شراب، کله شپېلۍ را واخلم، کله کتاب اوکله رباب، د غیبت او بدګوئی نه د رباب په نغمه خوښ یم د یار د سپي آواز راباندې لکه د رباب د نغمې لګي، څه وکړم زړه رانه مطربانو او عقل رانه ساقیانو یوړو.

هر مطرب چې غوږې تاؤکا د رباب
په دا تاؤکښې زما زړۀ کاندي کباب
چې سامع یې په نغمه په ترانه شم
دېوانه شم ګرېوان څیرې مست خراب

هم یې تار هم یې ګفتار هسې اثرکا
چې هېڅوك یې نه طاقت لري نه تاب

چې پر غم غلطوم د شپې پاڅم
کله مې په شونډوکېږدم کله نے

ګاه کتاب کله رباب په لاس را واخلم
باري درد مې په هېڅ رنګ نۀ کا کمی

ترو دا پوچه ګفتګو چې زه یې اورم
په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم

چې د سپي آواز یې واورم هسې خوښ یم
لکه څوك په نغمه خوښ وي د رباب

ما هاله له پارسایي وو لاس وللي
چې په لاس کړه مطربانو ربابونه

یو ساقي بل یار درېم شراب سره یو ځای شول
زړه یې له ګوګله په شتاب راڅخه یووړ

زړه مې په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو
عقل ساقیانو په شراب راڅخه یووړ

لېونئ و مجنون چا کړم:

په دنیا کښې ډېر عاشقان تېرشوي خو د ټولونه زیات نوم د مجنون یادېږي ولې چې هغه په خپله مینه کښې صادق وو. اګرچې هغه مینه یې مجازي وه. مینه یې دې حد پورې وه چې کله پلار بیت الله شریف ته بوتلو چې د لیلیٰ د محبت نه توبه

وباسي او دعا وکړي، نو مجنون دعا وکړه چې خدایه! د ټولو ګناهونو نه توبه وباسم خو د لیلیٰ د محبت نه نه- او چې کله یې پلار د یو حکیم په وېنا سالم چیلی وریت کړو چې زړه تر مجنون له ورکړی چې دَ لیلیٰ دَ محبت نه واوړي او چیلی یې کهلاؤکړو نو زړه پکښې نه وو. مجنون په ګډا شو او دا شعرونه یې اووې:

«هغه چیلی به د زړه څه علاج وکړي چې خپل زړه یې نه وي»

اصل کښې زړه پخوونکي خپله خوړلی وو. دهغسې چې کله لیلیٰ خلقوله خیرات ورکولو نو مجنون هم سره د خپلې کاسې اورسېدو. لیلیٰ د مجنون کاسه زمکې ته راخلاصه کړه او ټوټې ټوټې شوه، نو مجنون په ګډا شو، نو خلقو ورته وې څه له ګډېږې؟ خیرات یې درنه کړو اوکاسه یې درله ماته کړه. مجنون وې د بل چا کاسه یې ولې نه ماتوله خو ماسره یې خصوصي نسبت دی کنه.

زه مجنون باندې سلام وایم او ځان د هغه نائب ګنړم. لېونتوب هله پوخ شي چې په کانړو اوویشتی شي.

چې مجنون په ځنکدن شه زه یې پرېښودم نائب
وصیت یې راته وکړو په څو رنګه عجائب
چې روزي دِ شه رحمانه زما واړه مراتب

عاشقي سړی مجنون کاندې رحمانه
ګنړه څوك په هوښیاری وځي له کور

چې مجنون غوندې په مینه کښې صادق وي
رحمان وایم په هغه باندې سلام

کــه لیلــی غــواړې بایــده دی دا رحمانــه!
چې مجنون غوندې ساکن دکوه وکاړ شې
هغــه جونــه بــه لیلــیٰ غونــدې رســوا شــي
چې رحمان غوندې مجنون یې په دیار وي
زه او تــه کــه هغــه وخــت وی چابــه نــه کــړی
د لیلــیٰ او دَ مجنــون قصــه خــوانی
زه دا هســې دېوانــه و مجنــون چــا کــړم
لــه رواجــه لــه رســومه بېــرون چــا کــړم
کــه تــه نــه یــې بــاري وایــه راتــه څــوك دی
زه دا هســې لېــونی و مجنــون چــا کــړم
هغــه کــوډې لکــه تــا دي پــه مــا کــړي
کلــه کــړي پــه مجنــون بانــدې لیلــی دي
پــه مجنــون بانــدې قلــم راغلــی نــه دی
کــه حــلال پــه مخــه ورشــي کــه حــرام
کــه یــې سر لکــه منصور غونــدې پــه دار شــي
دغــــه دار دی و رحمــــن وتــــه معــــراج
زه هغــه تحصــیل تمام ګنــړم پــه عشــق کښــې
چــــې یــــې روغ وګــــړي بــــولي لېــــونی
روغ صــورت کــه روغ عــالم لــره کمــال دی
لېــوني لــره کمــال دی چــې سنګســار شــي

ګیله مندیم شکوه کوم:

زه چې خپلو خلقو ته ګورم، نو د الله تعالیٰ نعمتونه پر بسیار دي. که صحت دی، که فرصت دی، مال حال او رزق دی، خو بعضې کسان سستي کوي د خدائ بندګۍ ته یې ملا ماته وي، خیرات ترې نه کېږي نه د چا په غم شریك یې او نه د چا په ښېګړه- د داسې کسانونه مې سخته ګیله ده. نصیحت ورته کوم چې زورنه هم پکښې ده. زه څوك یم چې چاته زورونه ورکړم،خو زړه مې خوګېږي او خفه کېږم. په دې دې څوك نه خفه کېږي ځکه چې دا هرڅه زه خپل ځان ته وایم، خو نوم د یوبل اخلم باور اوکه چې زه په تاسو خفه کېږم.

کلمــه پــه ژبــه وایــي پــه زړه نــه لــري بــاور
دا بیــان دور و دراز وه رحمــان وکــړ مختصــر
پــه هغــو غــوږو چــې ذکــر د خــدائ اورې
بیــا ســماع پــه هغــو غــوږو د ربــاب کــړې
پــه هغــو شــونډو چــې حمــد و ثنــا وایــې
هــم هغــه شــونډې بیــا ډوبــې پــه شــراب کــړې
علــم وکــړې هــېڅ عمــل وربانــدې نــه کــړې
لکــه طفــل هســې لــوبې پــه کتــاب کــړې
عبــادت دې څــو تېــرې تــر معصــیت کــړ
څــه خــو ونیســه و ځــان تــه آئینــه
روژه تــې پــه څلــورم پهــر افطــارکــا
تــه څلــور ځلــه طعــام پــه هــر پهــر خــورې

یو ساعت د خدائ په ذکر مشغول نه شوې
تمام عمر د خپل ځان په غم مشغول

یوه شپه په طاعت نه شې رنړولی
هره شپه په مال و ملك پسې پاسبان یې

په تسبیح دې تانده ژبه وچ لرګی شي
پوچ ګویي لره بلبل غوندې ګویا یې

اوداسه لره لوټا اخستی نه شې
چې په لو او په لور ورشې پهلوان یې

◈◈◈

له خالق روګردان شوې و مخلوق ته
بیا و ځان ته عاقل وایې نامعقول

نصیحت لکه هلك دربانديې تریخ دی
ددنیا په شرینی پسې ملول

همره سر دِ و خپل خدائ وته ټیټ نه وي
لکه ټیټ په لور د خان و دَ سلطان یې

د هلك په خیر به لاس اچوې اور ته
نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان یې

بدلوې په دنیا دین و ایمان ولې
نه پوهېږې په خپل سود و په زیان ولې

یو قدم د خدائ په لور اېښودی نه شې
تمام عمر په پراته لاړې ولې

چې په ورځ د شیخی لافې کړې رحمانه!
په شپه مې له مئ فروشه غواړې ولې

چې سبا ارمانوې پند د پیرانو
ولې نن د پیر طلب نه کړې بې پیره

لکه څوك تر مکې لاړ شي بیا ترې راشي
د دنیا دپاره هسې لوئے سفرکړې

تمام عمر د دنیا په طلب ګرځې
بیا د خدائ په طالبانو ځان حساب کړې

چې دې زړه دې پرې ترلی استوار
دا جهان دِ دَ نیکه دی که دَ پلار

نه دې فرض د خدائ ادا کړ
نه سنت د پېغمبر

په غفلت دِ عمر تېرکړو
نه رهرو شوې نه رهبر

عبادت دِ په ریا شو
لکه ډك په لاکو زر

په شپه وینې د مظلوم خورې
صبا کېنې په منبر

◈◈◈

له خالقه دې نه شرم نه حجاب وي
له رحمانه ګوښه ونیسې حجاب کړې

د اطلسو قبا غواړې نه یې مومې
له ناکامه دې خرقه کړه پشمینه

ورځ دې تېره په شومۍ کړه شپه له خوابه
خدائ به کله یادوې خانه خرابه

چې په وخت د ځنکندن وکاږې ږیره
ترو نن ولې هسې ناست یې بې تدبیره

هسې رنګ په مذبذب صفت موصوف شوې
نه پوهېږمه چې ناس یې که خناس

په دنیا پسې درست عمر زهیر پېږي
ځان یو دم د خدائ دپاره زهیر نه کا

د عیال دپاره تېر تر سرو مال شي
دلجویي په یوه ټوك د فقیر نه کا

خدائ و تاته دین دنیا په غوره کېښود
تا دنیا کړه په دا دواړو کښې قبوله

خم قامت د دنیا کارکړې عمر واړه
او په دوه رکعته نفلو نه شوې خم

یو وېښته د عقیدې دې په تن نشته
سر تر پایه هسې ډوب یې په وسواس

◈◈◈

که ځواني له خدایه غواړې ځوان به ومرې
اوکه پس له ځوانۍ پایې خو به زوړ یې

د ځوانۍ په وخت کښې شېر وي
د پیرۍ په وخت شغال شي

په پیرۍ کښې د ځوانۍ چارې نه شي
ته په ورځ د عاشورۍ به څه اخترکړې

په ځوانۍ کښې بد دماغ و بدګمان یې
چې پیرۍ دربانديې درشي بیا ناتوان یې

څو به پټ له مرګه ګرځې سپینه ږیره
په روښانه ورځ به غلا کوې ترکومه

چې په هر بېګا سامان د هر سبا کړې
کور وکر شوې د محشر په سامان ولې

دا خو نشته چې به تل ترتله پایې
که بیا پایې خو تر سلوکالو پایه

که دې سل کاله شي عمر خو به تېر شي
دغه پسه به بیا څه کړې راته وایه

که په دا دې زړه ښه کېږي دا خو نشته
چې به هم تر ډېر ژوې هم به ځوان یې

ای رحمانه! د خدائ نوم به چا وانه خیست
که د خدائے چارې په پلار شوې یا په مور

◈◈◈

لکه بېخ د زړې ونې چینجي وخوري
په دا تېر عمر به څه ښاخ و ثمرکړې

ته چې خوب غواړې په عشق کښې راته وایه
کوم چا کړی د زمري په خوله کښې خواب دی

که څوك تله د انصاف درته په لاس کا
خپل ټټو او دبل اس به برابر کړې

د اوبو په وېش چې ورشي انصاف نه کا
که په لاس کښې یې ورقونه دکتاب وي

د اوبو په غلا چې ورشي نه جاروزي
که ساکن د خانقاه او د محراب وي

هر چې کرکا د وربشو غنم غواړي
له خاطره دې بېرون کا دغه خیال څوك

همېشه په ځائ د شکر شکایت کړې
منکر بېرې په عطا د سبحان ولې

په ورځ پند و نصیحت وایي و بل ته
په شپه ناست وي د مغان په خرابات

دین یې دام وي د دنیا په لارکښې ایښی
پرې را اړوي وحشیان دَ مخلوقات

معرفت د خدائ څرګند دی په هرڅه کښې
سترګې وخوره چې څوك همره نظیر نه کا

په تا فرض عبادت د خپل ځښتن دی
نه لښکرې خزانې ملك و حشم

هغه کار چې دی په نرم ویل کېږي
بېهوده په بېرته ولې لاړې ولې

چې باقي زندګاني په فنا پلوري
ځان په کوم دانش دانا بولي مجهول

ځان پخوا تر هغه اوژاړه که مرد یې
چې په تاباندې ژړا کا نور عالم

په نور چا پسې بې خدایه ژاړې ولې
د چارپای په څېر بې ځایه ناړې ولې

چې روټی مېده کوې په شخوند خو جوړ یې
ترو خبرې کوې لواړې لواړې ولې

ته په اصل کښې سړی یې څاروی نه یې
د چارپایو چارې مه کوه دو پایه

که زه نه وایم ته خو د سترګې رنړې کړه
کور دې خور شه ته چارپائ یې که آدم

◈◈◈

دا خبره زه و ځان ته کړم ای یاره
دلګیره مه شه که مې نوم واخیست د ستا

نوم دِ ستا و دَ بل اخلم ځان ته وایم
نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا

دا خو زه له شفقته تاته وایم
ګنړه ځان له سر نوشته د چازغړ شې

و بد خواه وته څوك نېك نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریك دی که باورکړې

باب – ۸

دنیا فاني او زمانه ارماني ده

دنیا نه مراد د مرګ نه مخکښې ژوند دی. پخپله دا ښه او خراب نه دي. که په غفلت کښې د خدائ پاك احکام پس پشت وغورځوې او د حرام و حلال د تمیز نه بغیر د مال په محبت کښې دنیا راغونډول شروع کړې، نو دا بده دنیا ده، مبغوض ده ملعون ده او که د الله تعالیٰ د احکامو مطابق د حرام حلال د تمیز سره بغیر د حب مال ددنیا کاروبارکوې، دا دین دی دنیا نه ده. د خلفائی راشدین حکومتونه او د صحابه کرامو روزګارونه دنیا نه وه، بلکې دین وو. ښه دنیا د آخرت کښت او سودا ده هر چا چې د حب مال او حب جاه نه ځان اوساته او ددنیا په پیلتی پلیت نه شو هغه کامیاب دی، دا هله کېږي چې دین ته اولنئ حیثیت ورکړې او دنیا ته ثاني.

الدنیا مزرعة الاخره:

هم هغه به یې خرمن وي پس له مرګه
هر چې کاندې زراعت په دا دنیا

د هغه جهان سودا واړه دلې ده
که څوك کاندې تجارت په دا دنیا

بازار دادی که څوك سود و سودا کاندې
په هغه جهان نۀ سود شته نۀ سودا

که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی
ګڼه نشته بل نعمت په دا دنیا

ښۀ ده ښۀ ده دا دنیا
چې توښه ده د عُقبا

د دنیا په بازارکېږي
د هغه جهان سودا

دنیا کښت د آخرت دی
دا خبره ده رښتیا

دنیا نۀ ده واړه دین دی
چې له نهی وي سېوا

چې یې یون په دا طریق وي
هغه کس دی اولیاء

که یې مال ددنیا ډېر وي
هېڅ دِ نه کاندې پرواه

حب دنیا د خطا جړه ده:

واړه ډکې خُلې د پیئو هلکان دي
کار دیده او پخته کار د دې دنیا

د طفلانو په څېر واړه خاکبازي کړي
هر چې کاندې کاروبار د دې دنیا

همګې واړه ټګان دي ټګي کاندې
فروشنده و خریدار د ددې دنیا

لوئی هلك یې همه واړه مکاران دي
څه ویسا دَ په مکار ددې دنیا

د شرابو هم لا هومره مستي نۀ وي
لکه مست وي خمر خوار ددې نیا

پس له مرګه به حساب له سړي غوښت شي
په انداز و په مقدار د دې دنیا

عاقبت خو به یو موټی شي د خاؤرو
ګلعذار وګل رُخسار د دې دنیا

هرڅوك چې دعوې په دا دنیا کا د خپلوی
واړه باطل وایي دنیا نۀ ده د هېچا

دین او دنیا:

بدلوې په دنیا دین و ایمان ولې
نه پوهېږې په خپل سود و په زیان ولې
واړه بې وقوف دي چې ځوك دین په دنیا پلوري
چرته پینځه ورځې، چرته عمر جاودان
د دنیا و دین نسبت وبله نۀ شي
اور او بۀ سره استوګنه په ځۀ شان کا
که محنت که مشقت دی خو د دین دی
په کار نۀ دی بل محنت په دا دنیا
رحمان هسې بې وقوف سوداګر نۀ دی
چې د دین متاع بدله په دنیا کا
د دنیا ناوې په عقد کښې دین غواړي
اې رحمان! ځان یې ژغوره له نکاحه
نادانانو هسې دین په دنیا بایلود
لکه ؤړوکی دُر بدل په پاره نان کا
لکه کار دګوش و چشم سره بېل دی
هسې دین و دنیا حکم په ځان ځان کا
بې هنر دی چې ځوك دین په دنیا پلوري
هنرمند سړی دا هسې سودا نۀ کا

د زمانې واریوځل دی:

دکوم وخت نه زمانه په خپل غورځنګ روانه ده، د هېچا مجال نشته چې د زمانې په رفتارکښې ذره برابرکمی زیاتی راولي، لکه چې وایي:

ہوتا ہے شب و روز تماشا مرے آگے
بازیچہ اطفال ہے دنیا میرے آگے

ما د دهر علامت په سترګو اولید
په هر دم هزار پیداهزار فنا کا

په هر چا صرف یو وار راځي او ارماني ترې ځي، بیا راتله نشته هر شئ فاني او بې وفا دي. وفا نه په ژوند کښې شته، نه په صحت کښې او نه په دولت کښې.

د وفا خریدار بل خواته دِ درومي
دا متاع د زمانې په دکان نشته
ډېرې خولې زما په یاد شکر خورې شوې
بیا زمونږ په زمانه خاؤرې ایرې شوې
د دنیا د محلونو خښتې واړه
و رحمان ته د سرونو منارې شوې
دا جهان قصاب خانه کړه خدائ و ماته
پا بسته ولاړ په غولي د قصاب یم
مکاري د زمانې څه هومره نه ده
چې رحمان یې چاته وکاندې بیان
هر ناوك چې د قضا له شسته خېژي
زمانه د رحمان زړه ورته اماج کا

په دنیا کښې له دنیا ګوښه کنار شه
سمندر غوندې په اورکښې ګلعذار شه
یا به وړاندې تر تا درومي یا دَ وروستو
که دې وروركه دې عزیزکه دې فرزند وي
یو یو وار دی په هر چا باندې تېرېږي
همېشه به په هېچا نۀ وي دا وارونه
بیا راتله دې دې جهان ته بل وار نشته
بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
ما د دهر علامت په سترګو ولید
په هردم هزار پېدا هزار فنا کا
تر هرګام لاندې کوهي دی ددې دهر
ایښی بویه هر قدم په احتیاط
چې پېدا شي همګي واړه فنا شي
اې رحمانه! دا جهان دی دا یې کار
د وفا دګلو پاڼې په کښې نشته
کشکې مه وی ددې دهر په ګلزارګډ
څوك له خاورو ایرو پاڅوې تخت ورکړې
څوك له تخته د ایرو په ډېران ولې
چې په خپله یې فاني بولې رحمانه!
ترو بیا څه په هغو چارو اعتبارکړې

وخت قیمتي دی:

وخت د زمانې یو یونټ دی او قیمتي دی. یو وخت دی او یو "په وخت" دی. په وخت یا بروقت نه مطلب دادی، چې هغه وخت یې اونه کړې، نو بیا ډېره ګرانه شي. ددنیا یو طاقت یا بها وخت واپس نه شي راګرځولی ځکه زما ټول زور په موجوده یعنې حال باندې دی. د ماضي نه صرف سبق اغستی شي او مستقبل ستا په لاس کښې نه دی. ته د حال خاوند یې. خپل زور په دې کښې اوښایه او پاڅه ملا وتړه تکړه شه.

مزہ شباب میں ہے سر سے خون بہانے کا
لہو میں پھر یہ روانی رہے رہے نہ رہے

د لالا مخ دِ لړلی لا په رنګ
توره مه ږده چې لا شته میدان د جنګ

ښپه اوږده کړه چې دنیا درنه خبر شي
ولې دی دا لوئ جهان در باندې تنګ

کله چې د اندلس بادشاه عبدالله د رخصتي په وخت په خپل قصر احمر باندې نظر واچوه نو په ژړا شو. مور ورته وې چې په وخت د مقابلې دې د عیسایانو سره جنګ اونه کړو نو اوس لکه د ښځو څله اوښکې تو یوې.

خدائ زده بیا به هسې وخت وي که به نه وي
زه ویریږم له ایامه راشه راشه

هره چار چې تر وخت تېره شي عنقا شي
عنقا نه دی په دام نښتی د هېچا

تر ورخ تېرې او به بېرته نۀ جاروزي
نه جارزي تېر ساعت په بېرته بیا

تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
مړ چا نه دي ژوندي کړي په ژړا

که مقصود لرې تلوارکړه وخت کوتاه دی
غَره مه شه د دې عمر په بقا

چې په وخت د ځنکدن وکاږې ږیره
ترو نن ولې هسې رنګ یې بې تدبیره

چې سبا ارمانوې پند د پیرانو
ولې نن د پیر طلب نه کړې بې پیره

سم له لاسه کار هرګوره ډېر مشکل وي
څو لا نه یې غریب زېرمه د غربت کړه

چې بې وخته ارمان کا په وخت اوده وي
د هغو عالمو ږیرې د وکښو دي

زندګي که څوك پوهېږي حضور دم دی
آینده و رفته کله د چا یاد وي

چې له ډېره درده وخت پېژندی نه شي
په رحمان باندې له یاره هسې وخت دی

نیك ساعت په بد بدل د هېچا مه شه
په وصال کښې غم د هجر وردوخارکا

تېر ساعت به د هېچا په لاس کښېنوځي
مګر تللی آشنا بیا په آشنا راشي

فلک وفا نه کوي:

فلك، آسمان، ګردون نه همېشه شاعران سر ټکوي. په دې وجه چې وفا پکښې نشته او نه پکښې رو رعایت شته، ځکه ورته د ظالم نسبت هم کوي. رحمان هم د فلك له لاسه ژاړي او وایي:

په ساعت کښې څوك خوشحال کا څوك غمناك کا
دا خو یونه همېشه دي د افلاك

په ساعت کښې ګدا شاه کا شاه ګدا کا
دا فلك ځکه باله شي کج رفتار

چې همه عمر یې تاج وي په سر ایښی
ور په سرکاندي ګېډی د خس و خار

چې قادر نه په درهم نه په دنیا وي
په هغو باندې ګنجونه کا انبار

له فلکه د وفا امید باطل دی
کله دیو د آدم زاد سره وفا کا

◈◈◈

ځکه خو زه ژاړم او د آسمان د بې وفایۍ ګیلې کړم.

هــېڅ وفــا یــې لــه هېچــا ســره اونــه کــړه
تــرو رحمــان بــه څــه مانــه کــړي لــه افلاکــه

همېشــه د خپلــو اوښــکو لــه ســېلابه
ســرګــردان یم تــر فلکــه و تــر آســیا زه

بادشــاهان پــه یــوه دم کښــې ګــدایان کــا
مــا لیــدلي فســادونه دګــردون دي

هــر جــام و صــراحي دې فلــك مــات کــړ
څــو بــه ګرځــي پــه دا دور جــام زمــا

دا اســمان زمکــه بــه وي اوتــه بــه نــه یــې
پــه ودانــه ودانــۍ کښــې بــه ویجــاړ شــې

دا فلــك کُــلال دی ســازول و مــاتول کــا
ډېرې یې ما او تا غوندې پېدا کړل هم فنا

دا اســمان دې د هغــه پــه مــدعا وي
چــې پــه مــا بانــدې یــې کــړی ستا اخبــار دی

د وفا د ګلو پاڼې پکښې نشته:

که دنیا ده که زمانه، فلك دی او که ګردون، یو څیز په ټولوکښې مشترك دی هغه دا چې وفا پکښې نشته. هر څیز یې بې وفا دی. د وفا طمع ترې لرل غټه غلطي ده. د وفا طمع ترې لرل سېوا د افسوس و پېښمانۍ نه بل څه نشته.

د مجــاز پــه معشــوقوکښــې وفــا نشــته

مــا هــزار ځلــه وکښــلی دی دا فــال
چــې د دهــر د یــارانو وفــا غــواړې

صــیادي بــه د عنقــا کــوې تــرکومــه
د وفــا خریــداران بــل خواتــه دې دورمــي

دا متــاع د زمــانې پــه دوکــان نشــته
لــه آســمانه چــې څــوك طمــع د وفــا کــا

دغــه طمــع یــې طــاعون ګنــړه بېشــکه
لــه فلکــه د وفــا اُمیــد باطــل دی

کلــه دیــو دَ آدم زاد ســره وفــا کــا
د وفــا د ګلــو پــاڼې پــه کښــې نشــته

کاشــکې مــه وی ددې دهــر پــه ګلــزارګــډ
لــه نــا اهلــو د وفــا طمــع ومــه کــړه

ګنــده نــل بــه نیشــکر نــه شــي هرګــز
د تصــویر لــه ګلــو طمــع د بــوی مــه کــړه

لــه منقوشــو مرغــو نــه خېــژي آواز
هــېڅ وفــا یــې لــه هېچــا ســره ونــه کــړه

کــه جمشــید وکــه بهمــن کــه کیقبــاد
بــوئ هــم ســتا د وفــا نــه دی را الــوتی

مــا پخپلــه خپلــې کــړې تســلې دي
دا زمــا پــه یــارکښــې مهــر و وفــا نشــته

کــه دنیــا واړه بــې مهــره بــې وفــا شــوه

باب – ۹

شاعري او مجاز لازم ملزوم

په حقیقت کښې د محبت اصل منبع د الله تعالیٰ ذات دی. ددنیا باقي ټول محبتونه د هغې پرتو عکس او ښاخونه دي. انسان د ازل نه د الله تعالیٰ په عشق او محبت کښې گرفتار دی، خو د الله تعالیٰ ذات ورالورا دی. نه یې لیدی شي نه ترې غېږ چاپېرولی شي، او د انسان فطرت دادی چې دی خپل معشوق لیدل او محسوس کول غواړي. الله تعالیٰ د انسان ددې خواهش رعایت هم کړی دی. په اول کښې الله تعالیٰ قبله اول په فلسطین کښې یو داسې ځائ اوگرځاوه، چې د هغه وخت د پېغمبرانو مرکز او مسکن وو. که اوگورو نو د هغه وخت د اکثریت پېغمبرانو قبرونه په دغه ځای کښې دي او بیا خو الله کعبة الله خانه کعبه د خپلو بندگانو د تسلي دپاره د تمامې دنیا مرکز اوگرځاوه او اوس هم دی.

دکوم پېغمبر قوم چې به د هغه په دعا سره هلاك شو نو هغه پېغمبر به د بیت الله لار ونیوله، ځکه چې بل ځای به د هغه تسلي نه کیده. وایي چې په مطاف کښې د بې شمېره پېغمبرانو قبرونه دي او د هغسې په مسجد حیف منی کښې دي. ددې نه علاوه الله تعالیٰ حجر اسود خپل ښی لاس اوگرځاؤ چې بنیادمان یې ښکلوي او د الله تعالیٰ د ښي لاس د ښکلېدو خوند ترې اخلي.

لکه سید سلیمان ندویؒ چې څنگه وایي:

دیده دل اگر ہو باز راز رہے نہ راز میں
جھانکتی ہیں حقیقتیں آئینہ مجاز میں

سنگِ سیاہ در جو تھا' دست مصافحہ بنا
اب نہ رہا وہ راز میں وہ جو چھپا تھا راز میں

هم دهغسې شاعران د خپل محبت اظهار د مجاز په جامه کښې د زلف و رخسار او دگل او بلبل، شمع او پتنگ په شکل کښې کوي. زه هم شاعر یم که خاموش یم نو هم زما کلام لکه دگل د بوئ په شان هرچاته رسېږي، چې دگل یاري کوي نو د خار زحمت به زغمي. دگل اندامو د صفت کولو دپاره د بلبلو ژ په پکار ده دا چې په گلوگرځي بلبل نه دی زما زړه د یار په تلاش کښې الوتی دی پتنگ د خپل عشق په وجه یاد وي چې په شمع ځان سېزي. د پتنگ عمر ډېرکم وي. زه به تر څو ژوندی یم چې لکه د پتنگ په سرو لمبو ورځم. د شمع خوبي داده چې په سر یې اور بلېږي خو نېغه ولاړه وي، ژاړي ځان سېزي خو بل ته رنړا ورکوي.

مخ یعنې چهره یا رخسار د انسان په بدن کښې د ټولونه زیاته ښائسته حصه ده او بیا د انسان د خصوصي کمالاتو لکه وېنا اوربدل، لیدل، بوئ کول، خوند اخستلو مرکز او ځای هم دادی. ځکه یې شاعران په خپل کلام کښې ستایي او د زلفو د ذکر سره دا حسن سربالا و دو بالا شي.

ګل خاندي بلبل ژاړي:

شاعري به وي اوګل او بلبل به پکښې نه وي څه ناممکنه غوندې ښکاري. ګل د شاعرانو اولنۍ توجه ځکه حاصله کړې چې ګل د الله تعالیٰ د جمالیاتي صفت یو داسې شاهکار دی چې تمامه دنیا یې ځان ته متوجه کړی ده. ددنیا ټوله رنګ برنګي، خوش رنګي، پړق پړوق او ښائسته والی ټول دګلونو او رنګونو نقل دی. رنګونه او د رنګونو امتزاج چې په ګلونوکښې دی بل څه کښې نشته. په دنیا کښې تمامې خوشبوګانې، عطرونه او سپړې ګانې د ګلونو د بوئ نقل دی او یا کشید دی. ځان له بنیادم دګلونو نه چاپېره نه ګرځي د هوا مارغان، بوراګان او قسما قسم حشرات الارض لکه د شاتو مچۍ په ګلونو راپنډې وي. د سمندر په تهـ کښې پر مهیان او د اوبو نور مخلوق راغونډ وي، ځکه خو یې شاعران صفتونه کوي او وایي:

بگوش گل چه سخن گفتهٔ که خنداں است
بعندلیب چه فرمودهٔ که نالاں است

افروختن و سوختن و جامه دریدن
پروانه زمن شمع زمن گل زمن آموخت

شاعر وایي سوزېدل، ژړېدل او جامې شکول خو پتنګ، شمع او ګل زمانه زده کړي.

د غنچې په څېر په سل ژبو خاموش یم
لکه بوئ هسې په پټه خوله ګویا یم

ښائسته یاران ګلونه دي رحمانه!
بېلتانه ګر اکثر مړاوې کم تازه

د چمن و سروګلونو ته چې ګورم
هر هرګل راته له ورایه په خندا دی

زه بلبل ستا د وصال یم بوستان څه دی
ستا دَ وصل په نسبت ګلستان څه دی

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه!
د بهارګلونه شوي دي که نه دي

بې له تا که سیر دګلستان کړم که دګلو
نه پوهېږم هېڅ چې ګلستان دی که زندان

که شبنم همېش د نور راباندې اوري
په ما کانړي د آسمان وي بې مخلص

د آشنا دمینې اور وماته ګل دی
ګل د اور په دود سوزان دی بې مخلص

که دګلو غنچه کېږدم په دستارکښې
شوم طالع مې هلته خار ځنې پیدا کا

لکه ګل چې څوك د طفل په لاس ورکا
هسې رنګ یې زما زړه کړ شوك په شوك

◈◈◈

ای رحمانه! د بلبلو ژبه زده کړه
دغه پسه په صفت دګل اندام شه

په بلبل کله بهارکله خزان وی
په ما ګل واړه خزان دی بې مخلص

د هوس بلبل ویسا را باندې نه کا
د افلاس په کبل ډکی دَ خزان یم
بلبل نه دی دا چې الوځي په ګلو
ستا په لوري الوتلی دی زما روح
زاغان بولي بلبلان شړي له باغه
د دې دهر له باغبانه وایم څه
ګل لمبه شو د بلبل په آه رحمانه!
نه ګروهېږي یار په هاى و هوئ د ستا

شمع ژاړي پتنګ سوزي:

شاعرانو سره د احساساتو قدر وي، قدردان وي د شمع په سر اور بلېږي، ژاړي خو نورو ته رنړا ورکوي او پتنګ د شمع په عشق کښې ځان سېزي، ځکه شاعران یې صفتونه کوي.

پتنګانو لره خدائ ورکړه په اورکښې
هغه عېش چې یې بلبلې په ګلزارکا
هره شپه به شمعې څه لره ژړا کړه
که یې نه وی په ژړا کښې څه موندلي

یو شاعر دا ټول په یو شعرکښې څومره په ښائسته طریقه راجمع کړي، د جهانګیر بادشاه د ملکه نورجهان د قبر په خازه دا شعر لیکلی شویدی:

بر مزار ما غریبان نی چراغ و نی گلے
نی پرِ پروانه سوزدنے صدائی بلبلے

زما غریبې په مزار نه ډیوه شته نه ګل
نه د پتنګ وزرې سوزي او نه د بلبل ژړا شته
اې رحمانه! پتنګ عُذر شو چې وُسو
نور دَ شمع خندا څه کا ژړا څه کا
زه د ستا په غم کښې شمع غوندې ژاړم
ته زما په غم کښې صبح غوندې خاندې
ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوځي
لکه شمع په زیارت د شهیدانو
زه رحمان به څو ژوندی په دنیا پایم
چې په بلو لمبو څرخ لکه پتنګ خورم
که د یار له لاسه اور راباندې بل وي
لکه شمع مستقیم په خپل ایستاد یم

مخ روښان و زلفې ښاماران:

ما د عشق په درس کښې نور څه لوستي نه دي
بې له زلفو بې له خط بې له خال
که سوزن د بنړو راوړی تار د زلفو
د رحمان د زړګي زخم به رفوکړي
ستا د زلفو مار خوړلي به روغ نه شي
که افسون د مسیحا ورباندې پوه کړي
ښاخ د زلفو یې په خپله خدائ را ټیټ کړو
ګنړه زه د یار تر قد پورې کوتاه یم
چې نسیم یې د زلفینو را پېدا شي
درست مې ډوب کاندي په مښک او په ګلاب

دام د ستا د تورو زلفو عالمگیر دی
تنها نه یم نښتی زه په دام د ستا

هم مې مښك لیدلي هم عنبر دي په جهان کښې
شاباش، شاباش، شاباش ستا په زلفو په کاکُل

د سپین مخ د تورو څنو له رغبته
منت بار د هر سفید د هر سیاه یم

چې د زلفو په کمند سره دې را کښو
په بلا دې ګرفتارکړ زما دِل

زه حېران د ستا د وروځو په تور خال یم
کافر څشکل سجده کا په محراب کښې

چې د یار زلفې رخسار یې په زړۀ نقش شو
خپل خلوت یې هندوستان هم خراسان شه

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان یم بې وطنه
مسافر د هندوستان و خراسان دی زما روح

درست جهان به قاف تر قافه معطر شي
که یو ځل شانه ګډه په ګیسو کړې

بې د ستا له زېبا مخه وبل مخ ته
منتظر د یوې ستنې تر سوم نه یم

که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډېر دي
زه په واړو کښې اول یم دوېم نه یم

خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کا
باري کېوت د مرغه په څېر په لومه

ځان په مستو سترګو باندې مه غولوه رحمانه!
دا مستان هوښیار دي له حکمته سره ښوري

یو تارکه ضائع شي ستا د زلفو
ځان به صدقه کړم په هر تار دِ ستا

زه رحمان په سل حلقو د زلفو بند یم
لا د پاسه سور پېزوان شه بله نته

زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورك شه
لکه غوټه دَ چا پرېوځي په تورتم کښې

چې مې نوم د ستا د تورو زلفو واخست
راپسې شوې د بلا تورې لښکرې

چې مې زړه لره د تورو زلفو ځای غوښت
هغه زړه راڅخه تورې بلا یووړ

هسې بند شو په کمند د تورو زلفو
چې حېران شوم د رحمان په خلاصؤلو

زړه مې یوړو ستا د مخ په رنړا زلفو
بارې غل په سپین سبا کله پټېږي

که د ستا د زلفو مارکاندي خونونه
ما موندلی ځنې عمر جاویدان دی

که څوك وایي چې مارکله په کټ خېژي
زه خوړلی یم په کټ د زلفو مار

چې مدام یې زما زړه له غمه چوي
تورې زلفې دې پېچوي دي که نه دي

◈◈◈

باب-۱۰

زما شاعري زما کلام

شاعري د الله تعالیٰ عطا ده. په کسب په محنت نه ده. شاعر د حساس زړه خاوند وی. د خپلو احساساتو، جذباتو او اندرون اظهار د خپل کلام په ذریعه کوي. کلام ګویايي یا وېنا یو داسې فن دی چې په مخلوقاتوکښې صرف انسان ته ورکړی شوی دی ددې اظهار الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې په دې شان کوي.

«خَلَقَ الْإِنسَانَ ۝ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝»[1]

ترجمه:هغه (الله) انسان پیدا که او دَ وینا چل یې ورته وښودلو.

ددنیا تمامې تماشې، چرچې، غلغلې او رنګینی دکلام د برکته دي. که د اقوام متحده بحثونه دي که بین الاقوامي کانفرنسونه، جګړې او صلحې دي زور او ژواګ دکلام دی او د هغسې انفرادي نغمې، ترانې، شور، واویلا او مجلسونه دکلام د برکته دي. که کلام نه وي نو نه به د اندرون اظهار وي نه به ددنیا تماشې- هرڅه به دننه په دننه دفن وي. دنیا به سړه پړه وي او خلقو به یو بل ته لکه د بیزوګانوکتلی.

زما کلام زما د اندرون ترجمان دی، څنګه چې بزرګانو وئیلي چې پیالې کښې هم هغه څه راځي کوم چې په بوتل کښې وي. ونه د خپلې مېوې نه پېژندی شي او انسان د خپل کردار اوکلام نه پېژندی شي. انسان دخپلې ژبې لاندې پټ دی چې خاموش وي د ښه بد عاقل او هوښیارتیا پته یې نه لګي. زه د خپل کلام په ذریعه تاسو ته مخاطب یم. زما کلام مښک عنبر دی او یا دګل د

1 - سورة الرحمن، آیتونه: ۳- ۴.

بوئ په شان دی، لکه چې زه وایم:

د رحمان تر قلم مښک و عنبر اوري
چې آغاز یې کړه اشعار د تورو زلفو

د غنچې په څېر په سل ژبو خاموش یم
لکه بوئ هسې په پټه خُلۀ ګویا یم

همداسې خبره د اورنګزېب عالمګیر لور زیب النساء کړې وه، کله چې د یو شعر د تحسین په باره کښې د ایران شاهنشاه د هغې سره د ملاوېدو اظهار وکړو او هغه ته دا پته نه وه چې ددې شعر مالك یو زنانه ده، نو هغې دا جواب ورکړو:

در سخن مخفی منم چوں بوئ گل در برگ گل
ہرکہ دارد میل دیدن در سخن بیند مرا

خوشحال بابا هم وایي:

د خوشحال ختک له عشقه ګفتګو شي
چې په لوښي کښې څه وي هغه ترې توی شي

پروفېسر اباسین یوسفزئ خو وایي:

که زما د شخصیت حدونه ګورې
زما فن زما د فکر ترجمان دی

زما کلام د قرآن او حدیث مطابق دی کم و زیات پکښې نشته په زړه اثرکوي. علماء او واعظان یې په خپل بیانونو او وعظونو کښې استعمالوي. خلق ورته د عقیدت په نظرګوري او ځینې عقیدتمند خو پرې فالونه وباسي. زما کلام خوږ، شرین او آسان دی. مطربان او مجلسیان یې په حجرو او مجلسونوکښې وایي د

سادګی او اسانی د وجې نه د معاشرې د هر وګړي په ځُله جاري دی. زمیندار دی که شپونکی دی، ګوډمار دی که خټ مار دی، دکاندار دی که باغبان هرڅوك یې د ځان سره ګنړګونی کوي او په عام معاشرت کښې یې مثالونه ورکوي.

زه سخندان او سخنور په پښتو ژبه عالمګیر یم. زما اشعار د شاعرۍ په اوصافو پوره دي. شاعري مې د احساساتو او جذباتو له کبله ده.

دا دستور دی چې له درد زویرګی خېژي
ورنه څو وو د رحمان د شاعرۍ

په خپله شاعري ابوالکلام یم. ابن الکلام نه یم. په مدح او هجو ښه پوهېږم، خو د نورو شاعرانو په شان عادت مې نه دی. که اشعار مې عالمګیر تمام انسانیت ته مخاطب دی خو دعویٰ نه کوم بلکې دعا کوم، چې الله تعالیٰ زما دا ساده انشا دخپل حبیب په برکت د مښك عنبر او نافی غوندې خوشبویه کړي، چې کشور د افغانانو پرې معطر شي او په قلم جزدان او قلمدان کښې مې برکت راشي.

بیا هم داسې خلق شته چې زما په کلام باندې نه پوهېږي او یا پرې ځان پوهول نه غواړي او نه یې ورسره څه عقیدت شته. دلته به زه صرف دا ووایم:

دانایان به د رحمان په قال پوهېږي
دلته کار د هر نااهل و نادان نشته

زما د خبرو تصدیق به تاته زما دکلام نه پخپله وشي.

چې وئیلی مې له تا دی دا حدیث
سر نامه د هر انشاء دی دا حدیث
که څوك وایي چې چا کړی دا حدیث دی
رحمان وایي چې زما دی دا حدیث
دا چې زه و تاته وایم که یې خدائ کا
په آیات و په حدیث کښې به څرګند وي
د رحمان کلام په دا سبب شېرین دی
چې یې هر کلام کلام دی د اخلاص
زه رحمان په خپل اشعار شکرګذار یم
چې دا هسې رنګ دېوان مې دی موندلی

❖❖❖

دُرګوهر په تله نه دي چا تللي
د رحمان شعرګوهر دی څه یې تلئ
درست دیوان د رحمان زار تر دا غزل شه
چې بیان یې کړکردار د دروېشانو
په غزل کښې خو دوه بیتَ انتخاب وي
درحمٰن تمام غزل دی انتخاب
چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي
دا د شعر دی رحمٰنَ که اعجاز
یا به شهد یا به قند یا به نبات وي
هر کلام چې له رحمانه شنیده شي
دا څه شعر دی رحمانه
چې هم ګنج دی هم هنر

چې آغاز مې کړ په مدحه د خوبانو
ځکه ګنج بې بها دے دا حدیث

چې مې مدحه د خوبانوکړه آغازه
هرکلام مې د لپذیر شه دلپسند

لکه خوند لري زما خوږې خبرې
په شکروکښې هم نشته هسې خوند

لکه زۀ چې سخندان او هنرمند یم
بل به نه وي سخندان او هنرمند

په اشعاروکښې قوي لکه زمری یم
ولې نه یم د مزري په څېرګزند

هم په مدحه ښه پوهېږم هم په هجوه
ولې نه یم په دا چارو ډېر خورسند

چې کشور د افغانانو معطرکا
د هر بیت مصراع مې زلفې د خوبان کړې

❖❖❖

د رحمان شعر به ولې نادر نه وي
چې ثنا کاندي له تا غوندې نادرې

د رحمان و سوزان شعر ته حېران یم
چې یې اور بل شوی نه دی په دیوان

دُر و لعل شو ویل د رحمان ځکه
چې دې ستا د لعلو شونډو شه ګویان

چې تمام د خپل ځیګر په وینو رنګ شه
د رحمان خبرې ځکه رنګینه دي

ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمان د شعرکوکې په عالم دي

و هغووته چې خدائ پخپله وښوو
څه حاجت یې د رحمان په ګفتګوئ شي

❖❖❖

چې هر حرف یې د نافې په څېر خوشبوئ شي
برکت مې په جزدان په قلمدان کړې

که زما په ګفتګوی کښې زیات وکم وي
څوك دې ګډکا په دا شهرکې جاسوس

الهٰی د خپل حبیب له برکته!
دا ساده انشا رنګینه د رحمان کړې

❖❖❖

دانایان به د رحمان په قال پوهېږي
دلته کار د هر نااهل و نادان نشته

د رحمان کلام په غوږ د بې هنرو
لکه دُر په لاس د طفل هسې خوار شۀ

ته چې نه کوې باور په آیتونو!
ترو زما ویل به څه درلره پند وي

د غونډ ژبو شاعرانو د خولې نه دی
ځکه هسې رنګ صفا دی دا حدیث

که ئې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي
غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوك

❖❖❖